لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ۝

بی خوندہ کناہونہ

لیکنہ:

مُفسرِ القرآن، مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب

رَحِمَهُ اللهُ تعالیٰ

ترجمہ او حاشیہ

مفتی محمد معصوم افغانی

مکتبہ حکیم الامت تھانوی

0333-7897276

د تعلیم الاسلام ویب پاڼې د همکارانو له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى
ابْنِ مَرْيَمَ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ۝

بی خوندہ گناہونہ

لیکنہ:

مُفسِّرِ القرآن، مفتیِ اعظم حضرت مولانا مُفتی محمد شفیع صاحب
رَحِمَهُ اللهُ تعالیٰ

ترجمہ او حاشیہ

مُفتی محمد معصوم افغانی

مکتبہ حکیم الامت ہانوی
سلیمی روڈ کوئٹہ

د کتاب پیژندنه:

نوم: بي خونده ګناهونه

مصنف: مفتي اعظم ،حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب رحمه الله تعالى

ترجمه او حاشيه: مفتي محمد معصوم افغاني

سلسلة الدعوة والارشاد: ۵

کمپوز: سواد فرهنګي تولنه

کمپوزر: بشير احمد (ريان)

دلاس ته راوړلو ځايونه:

o-مکتبۀ حکيم الامت تهانوي کوټه-

o-مکتبۀ غفاريه کندهار-

o-مکتبۀ رشيديه پيښور-

دوهمه طبعه رمضان ۱۴۲۹ھ

سمیره زریوکه



د تعلیم الاسلام ویب پانې د همکارانو له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

دکتاب دمضمونونو فهرست

- دحضرت مفتي اعظم (رحمه الله) مختصر تعارف ۱
- زيږيدنه او ديني زده کړه ۲
- نامتو استادان ۲
- تدريس او تلامذه ۳
- ځينې مشهور تلامذه ۳
- تصوف او سلوک ۵
- دافتاء منصب ۶
- د دارالعلوم کراچي تاسيس ۸
- اثار او تصنيفات ۸
- ځيني اثار يي ۹
- بي خونده ګناهونه ۱۰
- دمؤلف سريزه ۱۴
- مقدمه ۱۹
- لا يعني (فضول او بي ګټي) کلام او عمل ۲۱
- دمسلمان سپکاوی او وربانديتوکي کول ۲۵
- ديو چا عيب پلټنه، نکته چيني او رسوائي ۳۱
- په پته ديو چا خبري اوريدل ۳۵
- پرته له اجازي، ديو چا کورته کتل يا ورننوتل ۳۵
- دنسب له امله، يو چاته پيغور ورکول ۳۶
- دخپل اصلي نسب څخه پرته د بل چا له نسب... ۳۸

- بنکنځل او دبي حيايي خبري کول ۴۰
- پرانسان ياځاروي باندي لعنت ويل ۴۵
- چغلي کول ۴۸
- په ناوړه القابو سره ديو چا يادونه کول ۵۱
- دعالمانو او دالله دولیانو بي ادبي کول ۵۳
- دآيت، حديث او د الله دنامه بي ادبي کول ۵۹
- دخلکو په لاره ..... کي مرداري او ګندګي اچول ۶۳
- د بولو د ځاځکو څخه ځان نه ژغورل ۶۴
- بي ضرورته ستر لوځول ۶۶
- پرتوګ، لنګ او نور تربجلکو کښته اغوستل ۶۹
- په خيرات ور کولو سره احسان اچول ۷۲
- يو ذي روح په اور کښي سو زول ۷۴
- راندې ته غلطه لار ښودل ۷۵
- ښځه د خاوند يا مزدور د سيټ په خلاف پاروول ۷۶
- د دروغو شاهدي ۷۷
- په غير الله (دالله نه ماسوی بل څوک) قسم اخستل ۸۱
- دروغ ويل يا د دروغو قسم اخيستل ۸۴
- دخلکو لاره تنګول ۹۰
- په اولاد کي برابري نه کول ۹۲
- په يووخت کي تريوه ډير طلاقونه ورکول ۹۳
- په تول ترازو کي کمي کول ۹۴
- له نجومیانو څخه د غيب خبري پوښتل ۹۸
- د غير الله په نامه څاروی ذبح کول يا نومول ۹۹
- بچيانو ته ناوړا جامي وراغوستل يا زيور ۱۰۳

- دذي روح شي تصوير جوړول يا استعمالول ۱۰۴
- دتصوير جوړول حرام دي ۱۰۶
- پرته له کومه ضرورته سپي پالل ۱۱۴
- دسود ځيني قسمونه ۱۱۵
- مسجد ته مرداري يا بدبويه شی وړل ۱۱۹
- په مسجد کي د دنيا خبري کول ۱۲۰
- دلمانځه صفونه نه سمول ۱۲۲
- تر امام وړاندي تلل ۱۳۵
- په لمانځه کې دستر ګو په کنجانو سره کتل ۱۳۲
- په لمانځه کي جامي ځوړندول يا لوبي په کول ۱۳۲
- دجمعي په ورځ، په مسجد کي دخلګو پر اوړو.... ۱۲۹
- دکبيره او صغيره ګناه تعريف ۱۳۵
- په څو ځله کولو يا په صغيره ګناه باندي..... ۱۳۸
- کبيره ګناهونه ۱۳۹
- صغيره ګناهونه ۱۵۰
- لاندي ګناهونه هم په صغائرو کي داخل دي ۱۶۳

دکتاب دحاشيې فهرست

- دتعارف ماخذ ۱
- دمجلس دعا ۲۳
- جايزمزاح ۲۹
- دحضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) دمزاق څو مثالونه ۳۰
- يو چاته قصاب او حجام ويل ۳۸
- دځينې القابو استثنا ۵۲
- دبسم الله دليکلو طريقه ۶۱
- پر ناظر او منظور اليه دي لعنت وي ۶۸
- دقسم نه اخستل ښه کار دی ۸۱
- په غير الله قسم اخستل ناجايز دی ۸۲
- دکفر خبره ۸۴
- دروغ نه بلکه تعريض جايز دی ۸۹
- دغير الله په نامه نذر کول حرام دي ۱۰۰
- دهيواد سوداګر او تصوير ختمول ۱۰۵
- دتصوير جوړول حرام دي ۱۰۶

- داحکامو خلاصه ۱۰۹
- دتصویرونو مخه نیول ۱۱۱
- حکومت کنهکار دی ۱۱۳
- دمسجد احترام او صفایي ۱۱۹
- په مسجد کي د دنیا خبري کول ۱۲۰
- مسجد کي دنیوي عمل حرام دی ۱۲۱
- دلمانځه صفونه نه سمول ۱۲۲
- سدل مکروه دی ۱۲۴
- خبرتیا ۱۳۹
- درشوت دجایز او ناجایز صورتونو تفصیل ۱۴۰
- دغیبت دناجائز صورتونو تفصیل ۱۴۵
- دغیبت جایز صورتونه ۱۴۶
- کمیشن یا د دلالي، اجرت اخیستل جایز دي ۱۵۳
- په ضروري دیني خدمت ،اجرت اخیستل جایز دي ۱۵۴
- بحق فلان، ویلو سره دعا کول جایز دي ۱۷۲
- اصلاً د دې قول دوه مطلبه کیدلای شي ۱۷۲

د حضرت (۱) مفتي اعظم (رحمه الله تعالى)

مختصر تعارف

فقيه الملت، مفسر القرآن، جامع الشريعة والطريقة مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد شفيع (رحمه الله) دعلم او عرفان مجمع البحرين، هغه جامع څنبستن وو چي د دين په هره څانګه کي يي اسلامي خدمتونه، دلمر په شان ځليږي. تدريس او افتاء، تصنيف او تاليف، تصوف او سلوک او نفاذ شريعت غوندي جليل القدر خدمتونه کښي ټول عمر بوخت پاته شوي او په راتلونکي پيړيو کي به ده ددې بې مثاله خدمتونونه اسلامي امت متسفيد او دتل لپاره به ددي نښه ثرات پاته وي. (انشاء الله)

---

(۱) د حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالى) حالات مو د محترم استاد، مولانا مفتي محمد رفيع عثماني صاحب (دامت برکاتهم) د کتاب "حيات مفتي اعظم" نه رانقل کړي دي. تفصيلي حالات په هغه کتاب او البلاغ مجله مفتي اعظم نمبر کي دي. ـ مترجم ـ

دحضرت مفتي اعظم لنډه پيژندنه

زيږيدنه او ديني زده کړه

حضرت مفتي اعظم(رحمه الله تعالی) دهنددديوبند په ښار کي، په ۱۳۱۴ هـ کال، دشعبان پرشلم تاريخ ،دې فاني دنيا ته سترګي رونې کړي دي.په دې چاپيريال کي هرې خواته دعلم او عرفان،زهد او تقوی هغه بې مثاله غرونه وه چې د رګ ،رګ څخه يې دعلومو او معارفو بې شميره چينې اسلامي نړۍ خړوبوله

په دي روح خوشحالوونکي چاپيريال کي چې، حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالی) دکومو استادانو څخه استفاده کړي ده هغوی دمتقدمينو محدثينو ،فقهاؤ او اولياء الله وو ژوندي مثالونه وو.

نامتو استادان :په معروفو استادانو کې يې حافظ العصر،شيخ المشايخ حضرت العلامة مولانا سيد محمد انورشاه کشميري ،مفتي اعظم حضرت مولانا عزيزالرحمن عثماني نقشبندي،شيخ الاسلام علامه شبيراحمد (عثماني)، شيخ الادب حضرت مولانا اعزازعلي او جامع المعقول والمنقول مولانا رسول خان هزاروي رحمهم الله تعالی دي.

د دوه ويشت کلونو په عمر يې په ۱۳۳۶ هـ کال د دارلعلوم ديوبند نه دفضليت پګړۍ په سر کړه.

تدريس او تلامذه

دفراغت نه وروسته، د ديوبند په دارالعلوم کې يې تدريس پيل کړ او شپږ ويشت کاله يې هلته د تدريس چاري مخ په وړاندې سوق کړې. په زرګونو شاګردان يې روزلي دي.

د حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالى) د شاګردانو شمير ډير دی، په هند او پاکستان سربيره په چين، اندونيزيا. برما، بنګله ديش، افغانستان، ايران، بخارا. سمرقند او افريقه کې وجود لري.

په هغوی کې محدثين، مفسرين، فقهاء، متکلمين، صوفياء، مبلغين، واعظان، قاضيان او مفتيانو سره، سره سياسي زعماء، مدرسين او مصنفين هم پاته شوي دي.

لنډه داچې د دين د هري څانګې جليل القدره علماؤ په نړۍ کې د اسلام بيلابيل خدمتونو کړي دي.

ځيني مشهور تلامذه يې په لاندې ډول دي:

۱ـ حضرت علامه سيد محمد يوسف بنوري (رحمه الله) د جامعة العلوم الاسلامية بنوري ټاون مؤسس.

۲_ فقيه العصر حضرت مولانا مفتي رشيد احمد لدهيانوي (رحمه الله تعالى) ددارالافتاء والارشاد باني.

۳_ شيخ الحديث حضرت مولانا عبدالحق (رحمه الله) ددارالعلوم حقانيه اكوړه خټک مؤسس.

۴_ امام اهلسنت شيخ الحديث حضرت مولانا سرفراز خان صفدر (دامت بركاته) دنصرت العلوم ګوجرانو اله باني.

۵_ حضرت مولانا سيد محمد ميان دجمعيت علماء هند عمومي ناظم.

۶- حضرت مولانا احتشام الحق تهانوي (رحمه الله تعالى)

۷_ حضرت مولانا عرض محمد (رحمه الله تعالى) دمطلع العلوم كويته مؤسس.

۸_ شيخ القراء حضرت مولانا قاري فتح محمد پاني پتي (رحمه الله تعالى).

۹_ شيخ الحديث حضرت مولانا سبحان محمود (رحمة الله) شيخ الحديث جامعه دارالعلوم كراچي.

۱۰_ شيخ الاسلام حضرت مفتي محمد تقي عثماني شيخ الحديث دارالعلوم كراچي.

۱۱_ مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد رفيع عثماني رئيس جامعه دارالعلوم كراچي.

تصوف او سلوک یادباطن اصلاح

لومړنی بیعت یې له شیخ الهند حضرت مولانا محمود حسن دیوبندي (رحمه الله تعالی) سره کړي وو. دهغه تر وفات وروسته یې د سلوک او عرفان د تحصیل او د باطن د اصلاح لپاره، حکیم الامت حضرت مولانا محمد اشرف علي تهانوي (رحمه الله تعالی) ته رجوع وکړه او د روحاني تندي د ماتولو لپاره یې خپله مرجع وګرځوله. حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالی) د باطني اصلاح او تصوف په هره مسئله کې، خپل مرشد ته رجوع کړي او د ده په تعلیماتو او ارشاداتو یې بشپړ عمل کړي او په کامل استعداد سره یې روحاني فیوضات جذب کړي دي.

په ۱۳۴۹هـ کال، حکیم الامت ورته خلافت ورکړ. د مفتي اعظم او حکیم الامت (رحمه الله تعالی) ترمینځ دیر قوي تعلق او اړیکي وي او د حکیم الامت ورباندي بشپړ اعتماد وو چې خپل ځینې تصانیف یې ده په ذریعه بشپړه کړل.

****

دافتاء منصب

دربیع الثاني په ۲۸ تاریخ ۱۳۵۰ هـ کال، ددارالعلوم دیوبند دمجلس دشوری له خوا، ددارالافتاء مسئولیت ورکړل شواو دستر مفتي په حیث وټاکل شو. دغه مهال يي عمر ۳۵ کاله وو او پنځلس کاله يي کامل دفنونو مختلف کتابونه تدریس کړل.

ددیوبند دارالعلوم کوم چي دنړۍ یو عظیم دیني مرکز وو او دنړۍ دګوټ ،ګوټ څخه ورته فقهي سوالونه او استفتاوي خورا ډیري راتلي، حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالی) په خپل علمي جوهر او دالله په ورکړل شوي علم او داوچت استعداد په رڼا کښي نومورې دارالافتاء دترقي پر لور سوق کړه چي، یوازي په څلورو کلونو کي، دوولس زره فتواوي وليکل شوي او له تیرو کلونو څخه دوه چنده زیاتوب پکښي راغلی وو.

فتاواي دارالعلوم دیوبند، امدادالمفتین ،او جواهر الفقه دهغه مهال علمي اثرات دي.

په فقه کي ډېر مهارت له املـه د علماؤ له خوا د مفتي اعظم لقب ورکړل شوی دی.

حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالی) د عالمانو په هغه جماعت کي وو کوم چي د پاکستان د جوړښت حامي وو.

له دې کبله، په دي هکله يي خدمتونه ډېر زيات دي، ان تردي چي د عالمانو دغه جماعت پری برلاسی شو چي د مسلمانو لپاره يو بيل هيواد تاسيس کړي او په ۱۹۴۷م کال، د پاکستان په نامه هيواد جوړ شو.

ټول عمر يي د دې هانـد او هڅي کولي چي په پاکستان کي شرعي نظام نافذ شي.

قرارداد مقاصد د شيخ الاسلام علامه شبير احمد عثماني او حضرت مفتي اعظم (رحمهما الله) د کوښښونو نتيجه وه او په پاکستان کي د اسلامي نظام د نفاذ لپاره يي دهند د ديوبند له ښار څخه، کراچي ته هجرت وکړ. دلته يي ټول عمر د اسلامي نظام د نفاذ او ديني علومو په نشر او اشاعت کي تير کړ.

ددارالعلوم کراچي تاسيس

په سنه ۱۳۷۰ هـ کي يي دکراچي په ښارکي د "جامعة دارالعلوم کراچي" په نوم ديوي عظيمي جامعي بنسټ اينبي چي پر شپږ پنځوس ايکړه ځمکه باندي پرته ده. اوس يي نړيوال شهرت موندلي او دنړۍ په سترو علمي مرکزونو کي شميرل کيږي.

په زرګونو طالبان پکښي خپله علمي تنده ماتوي. دا د حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالی) يوه عظيمه صدقه جاريه ده.

د دارالعلوم په دارالمطالعه (لائبريري) کښي يو لک کتابونه دمطالعي لپاره چمتو شوي چي علماء او عوام ټول ځني استفاده کوي.

اثار او تصنيفات

حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالی) دخپل عمر يوه ګړۍ هم ضايع کړي نه ده. هروخت داسلامي نظام دنافذولو سوچ او فکر، دمسلمانانو داصلاح او روزني جذبه، داسلام ددښمنانو او باطلو فرقو مخنيوي او داسلام دفاع که دتقرير ميدان وو او که دتحرير او ليکنې. خپل ټول مبارک عمر يي په دغو مبارکو

خدمتونو کي تير کړي دي. د تصنيف او تاليف په ميدان کي يې ډير زيار ايستلي دي.

د حضرت حکيم الامت تهانوي (رحمه الله تعالی) د فقهي، تفسيري او تحقيقي خدماتو رنګ، دده په خلفاؤ کي، په حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالی) باندي ډير اثر کړي وو.

د حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالی) د اثراتو او تاليفاتو شمير يو سل دوه شپيته (۱۶۲) دي چې په تفسير، حديث، فقه، عقائد او کلام، معيشت او سياست، سيرت او تاريخ، اصلاح او ارشاد، تعليم او تبليغ او په لغت او ادب باندي مشتمل دي.

ځيني اثار يې په لاندي ډول دي:

۱_ معارف القرآن تفسير، اته توکه، په ۵۷۱۷ مخونو کي دي.

۲_ احکام القرآن، دوه توکه په ۵۳۸ صفحاتو کي ده.

۳_ الازدياد السني علي اليانع الجني.

۴_ فتاواي دارالعلوم ديوبند.

۵_ جواهر الفقه، په دي کي ۴۵ فقهي رسالي دي.

۶_ آلات جديده.

۷_ التصريح بما تواتر في نزول المسيح.
۸_ مقام صحابه.
۹_ ختم نبوت كامل.
۱۰_ سنت وبدعت.
۱۱_ اسلام كانظام تقسيم دولت.
۱۲_ اسلامي نظام مين معاشي اصلاحات كياهون گي؟
۱۳- سرمايه داري، سوشلزم اور اسلام.
۱۴_ سيرت خاتم الانبياء.
۱۵_ روح تصوف.
۱۶_ كشكول.
۱۷_ فضائل ومسائل بسم الله.
۱۸_ فتوح الهند.
۱۹_ آداب الشيخ والمريد.
۲۰_ دل كي دنيا.
۲۱_ ملفوظات امام مالک.

ګناه بي لذت (بي خونده ګناهونه)

داصلاح پرموضوع باندي وړوکي رسالـه خو په زړه پوري ده. په دي کي حضرت مفتي اعظم (رحمه الله تعالى) د هغو ګناهونو بيان کړی دی کوم چي دخوند څخه خالي

او يا هم مسلمانان دغفلت او ناخبرتيا له امله پکښې بوخت دي او خپل قيمتي وخت ضايع کوي.

د قرآن او سنت په رڼا کي يې دې خونده ګناهونو په تفصيل سره بيان کړي دی چې، په لږ فکر سره انسان ودي ته متوجه کوي چې په حقيقت کي هم دغه ګناهونه بې خونده او بې ذوقه دي چې په نه کولو سره يې چاته کوم تاوان نه رسيږي او په پريښودلو يې د الله تبارک وتعالی رضا او خوشحالي هم موندلای شي.

او په پاي کي يې د صغيره (وړوکي) او کبيره (غټو) ګناهونو فهرست، د علامه ابن نجيم (رحمه الله تعالی) د الاشباه والنظائر څخه راوړي چې په ليدلو سره يې د ګناهونو بشپړ لست معلومېدلای شي څوانسان خپل ځان د تل لپاره ځني خوندي کړي.

بشپړه رساله مو پښتو ته ژباړلي ده څو پښتانه ورونه او خوندي ورځخه برخمن شي او هم مو دارټيا سره سم حاشيه ورباندي کړي ده. اميد دي چې دا به ګرانو لوستونکو ته کتاب نور هم ګټور او خوندور ثابت کړي.

په حاشيه کي مو هغو ګناهونو ته ځير کړی کوم چې

زمونږ په ټولنه کي رواج لري.

حقيقت دادی چي دګناهونو نه ځان ژغورل د انسان لپاره تر نفلي عباداتو ډير اړين دی ولي چي لومړی تخليه ده بيا تحليه. يعني لومړي دګناهونو او منکراتو نه ځان صفا کول او بيا په ذکر، تلاوت او نفلي عبادتونو سره ځان ته جلا او برينښ ورکول دي.

عن ابن عباس (رضی الله تعالی عنهما) انه قال له رجل:

"رجل قليل العمل، قليل الذنوب اعجب اليک او رجل كثير العمل كثير الذنوب. قال لا اعدل بالسلامة."

(كتاب الزهد لابن مبارک باب ماجاء في تخويف عواقب الذنوب)

له رئيس المفسرين حضرت عبد الله بن عباس (رضی الله تعالی عنهما) څخه يو چا پوښتنه وکړه چي يو سړی عمل لږ کوي يعني نفلي عبادتونه لږ کوي پر فرضو او واجبو اعمالو باندي اکتفاء کوي، نفلي عبادتونه، ذکر او اذکار، وظيفي او تسبيحات ډير نه کوي خو ګناوي يي هم لږ دي. يعني دګناهونو نه ځان ژغوري. دا سړی ښه دی او ستا خوښ دي او که دي هغه سړی خوښ دي چي نفلي عبادتونه هم ډير کوي او ګناوي يي هم ډيري وي؟ مثلاً د تهجد لمونځ هم کوي، د اشراق لمونځ هم کوي،

تلاوت هم کوي، وظیفي او تسبیحات هم ډیر کوي خو، ددې سره ګناوي هم ډیري کوي. ستا په عقیده کوم یو ښه دی؟. دلومړي سړي عمل لږ خو ګناه یي هم لږ ده. ددوهم سړي اعمال ډیر خو ګناوي یي هم ډیري دي.

په جواب کي حضرت ابن عباس(رضی الله عنهما) وفرمایل: دګناهونو نه ډځان د حفاظت په مقابل کي هیڅ شی اهمیت نه لري. یعني انسان دګناهونو نه ځان وژغوري دا ډیر غټ نعمت دي او غټه فایده ده چي هیڅ عمل ددي مقابله نشي کولای. نو هغه سړي چي ګناوي یي لږ وي هغه تر هغه سړي ښه دي چي ښه عمل یي ډیر وي خو ګناوي یي هم ډیري وي. ولي چي اصل شي دګناهونو نه ځان ژغورل دي.

په کتاب او حاشیه یي کي ډیرو بي خونده ګناهونو بیان په تفصیل سره شوي دی. الله عزوجل دي مورږ واړوته د عمل توفیق رانصیب کړي چي، ددې بي خونده ګناهونو نه خپل ځان او اولاد وساتو. آمین.

بحرمة سید المرسلین(صلی الله علیه وسلم)

محمد معصوم افغاني

د مؤلف سريزه

اوس چې د نبوت له (مبارکي) زماني نه دليري والي او د قيامت د نژديکت له امله د کفر او شرک، الحاد او زندقه او دبي ديني او بي عملي يوه دوره ده.

د ګناهونو نه د ځان ژغورولو او پرديې پاته کيدل د حديث شريف د پيش ګوئي سره سم داسي ګرانه شوي ده لکه څرنګه چې په لاس کي اورنيول يو مشکل کار دی.

د مسلمانانو يو غټ شمير ته خو دا فکر نشته چې کوم کار کوي هغه ګناه ده که ثواب، حلال دی که حرام، د هغه نه الله تعالی راضي کيږي او که خفه کيږي.

اوس چې څه د الله بندګان د دي څه فکر کوونکي پاته شوي دي د هغوي لپاره نور هم چاپيريال تنګ شوی دی، که د انفرادي ګناهونو څخه يو ډول ځان وژغوري نو ټولينز ګناهونه کوم چې په کرنه، تجارت، نوکري او دژوند په ټولو څانګو کي خپاره شوي دي، د هغوی نه څه ډول ځانونه خوندي وساتل شي او کوم (خلګ) چې د نبه قسمت له امله مسلمانان هم شول نو هغه د دين څخه ازاد، بي فکره د حلال او حرام وبحث ته تنګ نظري ويونکي دي. فالی الله المشتکی وانا لله وانا اليه راجعون.

او ناوړه خبره خو داده چې خپله ددې بې فکرۍ او بې پروايي وناوړې نتيجې ته خلګ وايي:

داسلام پردين اوشريعت باندې عمل کول سخت ستونزمن کار دی. خوکه لږ فکر وشي نوبه وبرينښي چې په شريعت کې نه خوکومه تنګي شته او نه سختي. بلکه اسلام دنړۍ ترټولومذهبونو نه معاشي (اقتصادي) اسانتياوي لري.

هو ! دکوم شي چې رواج پاته نه شي، پر هغه عمل کوونکي ډير لږ وي. نو هغه که هر څومره اسانه عمل وي، هغه به ستونزمن ښکاري.

رخچينه (توپي) په سرکول او پرتوګ اغوستل څومره اسانه کارونه دي خو، که په يوه هيواد او سيمه کې دغه شيان پرېښودل شي. ټول خلګ لوڅ، يالنګ اغوستل غوره کړي، نوبه درخچيني او پرتوګ جوړول يومشکل عمل وي.

ډوډۍ پخول اوخوړل څومره اسانه او د ژوند په اړتياوکې دي. خو، که په يوه سيمه کې ددې مطلق رواج پاته نه شي، دټولو خلګو خوراک دورجو عادت وي. هلته وګـــــورې چې ډوډۍ پخول اوخوړل څومره

ستونزمن کار دی.

دغه حالت د ديني اعمالو دی. لومړي خود کافرانو په ډيرښت (او منظم پلان) سره د مسلمانانو لپاره ډيري ستونزي د حلال او حرام په معامله کي پيدا کيدل يو طبعي کار دی. خو که مسلمانان سره د لږوالي د مذهبي حدود او پابندیو پابنده وای، بيا هم قوي اميد وو چي په ډيرو معاملاتو کښي به کومه ستونزه نه وای.

اخر نن د دغه لامذهبي په دوره کي، د اروپا غوندي لامذهبه هيوادونو څخه پر درملونو باندي دهندوانو د مراعات لپاره دغه ليکنه بريښي چي، په دي دواء کي کوم حيواني جز ګډ نه دی. دا ولي؟ له دي وجي نه، چي د کارخاني والاوود هندو مذهب سره کومه همدردي يا ورته ښه اعتقاد لري، بلکه فقط له دي کبله چي هغوی ته معلومه ده چي هندوان د حيواني اجزاؤ څخه ډډه کوي.

خو مورږ ترڅنګه د درملونو پر معلوماتي کاغذ باندي دا و نه ليدل چي په دي دواکي شراب يا اسپرټ ګډ نه دي ولي چي د مسلمانو د غفلت او بي پروايي له امله، کافرانو ته داسي ثبوت ورڅخه نه کړای شو چي

مسلمان قوم له دي نه ډډه کوي.

خلاصه داچي تنګي اوستونزي ټوله زمونږ د غفلت او بې پروايي نتيجه ده. واړه مسلمانان که د دينې اعمالو پابنده شي نو لمونځ، روژه، حج، زکوٰة ټول به اسانه شي او د ګناهونو نه به ساتنه يو طبعي کار وي. خو چاته ووايو، او څوک يې اوري؟

اب کهان نشوونما پائے نهال معنی
کس زمين پردل پرجوش کي بدلي برسے

"اوس به چيري د حقيقت ښاخ غټ شي پر کومه ځمکه به د درمند زړه باران واوري."

يوي خواته د ګناهونو طوفان په جوش کي دی. دنړۍ فضا د ديندارو خلګو لپاره خړوبه کيږي. بلي خواته د دغو ناوړو علمونو نتيجي وچکالي، زلزلي يا يوله بله وژل، وراني، تباهي او ذلت په صورت کي پر مسلمانانو مسلطي دي. د اصلاح هڅي او کوښښ صدا بصحراء او بې فايدي ښکاري. فقط له دي امله چي فلاني کار د ګناه دی، هيڅ څوک خپلي يوي لږي غوښتني پريښولو ته چمتو نه دي. الاماشاء الله.

له دي کبله ډير ځله دغه فکر راته پيدا شو چي ډيري داسي ګناوي دي چي مورږ فقط د غفلت او ناپوهي څخه

پکښې بـــوخت يو.(په دي ګناهونوکي)نه خوکومه دنيوي ګټه او نه دهغه په پريښولوکي څه تکليف شته. يوازي دومره اړينه(خبره) ده چي مسلمانانوته ددي د ګناه کيدلو خبرتيا وشي او ددي دپريښولو اراده وکړي.

اوس ددا سي بي خونده ګناهونويوفهرست ليکل کيږي چي، مسلمـــــان لږ ترلږه ددي ګناهونونه خو وژغورل شي. که دټولوګناهونوڅخه خلاصون نه وي، لږ والى خو به پکښې راشي اوداهم څه ليري خبره نه ده چي،ددي ګناهونودپريښودلوپه برکت به د نـــورو ګناهونو دپريښودلوهم هـــمت اوتوفيق پيدا شي. ولي چي دالله عزوجل وعده ده:

" کـــوم څوک چي زمونږ ددين پيروي اولږکوښښ وکړي،نـــومونږ به دهغه لپاره دنور ددين نوري لاري اسانه کړو. "

اودځينو بزرګانو ارشاد دي:

"ان من جزاء الحسنة الحسنة بعدها ."

" دښه عمل يوه بدله داهم ده چي دهغه وروسته دبلي نيکي او ښه عمل توفيق ورکول کيږي "

وَبيدِهِ التوفيقُ ولاحَولَ ولاقوةَ الابِاللهِ

مقدمه

دګناهونو ټول فهرست ته که کتنه وشي نو له يوه حيثيته هره ګناه بي خونده ده، ولي چي په يوه وختي او فاني خوند کي که همیشني سخت عذاب او نه زغميدونکي تکليفونه پټ وي، هغه ديومبصر عاقل په عقيده خوند نشي ګڼل کيدلای، په کومه حلوا کي چي قاتل زهرګډ وي، هغه ته کوم عقلمند خوندور نشي ويلای، دکومي غلا سره چي ټول عمر بنديا ددارتخته يي نتيجه وي، هغه کوم انجام کتونکي دخوند او خوشحالي شي نشي ګڼلای.

خودغه بي خونده ګڼل د(يو)عاقل اوعاقبت ته د کتونکي انسان کار دی. ناخبره وړوکی ماريااورپه ښايسته ګڼلوسره په لاس کي اخلي اوهغه يو خوښ شی ګڼلای شي.

همدا ډول داخرت او عواقبونه يي غافل انسان ذکرشوي جرمونه دخوند شيان ګڼلای شي اودغه

ډول د قبر او حشر د عذاب او ثواب نه غافل يا بي فکره انسان ډيري ګناوي خوندوري ګڼلای شي، له دي وجي په دي رساله کښې هغه نه دي ليکل شوي. بلکه د دوو ډولو ګناهونو فهرست پکښې يوځای شوی دی:

يو هغه چي بي حسه او بي ذوقه انسان ته هم کوم خوند نه ورکوي.

دوهم هغه چي په حقيقت کي کوم خوند خونه وي پکښې ليکن بعضي کسان د خپلي بد اخلاقي او بي حسي له کبله په هغه کي څه خوند محسوسوي خو که هغه پريږدي د دنيا په يوه لږ ضرورت او غوښتنه کي يې کوم توپير نه راځي.

هغه ګناوي په لاندي ډول دي، الله تعالی دي مور تولو ته د هغوی نه د ځان ژغورلو توفيق رانصيب کړي.

وَاللهُ الموَفِقُ وَالمُعِينُ

****

۱_ لا يعني (فضول او بې ګټې) کلام او عمل

انسان چې څومره عمل يا خبرې کوي ظاهراً ددې درې قسمونه دي:

۱_ ګټور، چې پکښې ددين يا دنيا کومه ګټه وي.

۲-تاواني، چې پکښې ددين يادنياکوم تاوان وي.

۳_ نه ګټور نه تاواني، چې نه ګټه اونه تاوان پکښې وي.

دا دريم يې په حديث کې دلايعني (بيکاره) په لفظ سره تعبير کړی دی. خو که په لږ ځير سره وکتل شي نو به واضح شي چې دا دريم قسم هم په حقيقت کښې په تاواني کې داخل دی. ولې چې هغه وخت که په داسې عمل ياکلام کې صرف شوی وای چې په هغه کې يې يوځل "سبحان الله" لوستلی وای نو دترازو (تلې) نيمه پله به ډکه شوې وای.

يا يې يو بل ګټور عمل کړی وای، نو دګناهونو دکفاري او د اخرت دخلاصون ذريعه يا لږ تر لږه ددنيا دارټياوو څخه دبې فکرې سبب خو به جوړ شوې وای.

داقيمتي وخت، په بي فايدي اوبيکاره عمل ياخبرو کي صرفول داسي دي لکه، يوچاته چي اختيار ورکړي چي که وغواړي دجواهراتواوسرو اوسپينو زروخزانه واخلي يادخاورويوه لوټه، خوهغه د خزاني پرځای دخاورو لوټه اخيستل غوره کړي چي د دي غټ تاوان ښکاره دی.

له دي کبله دحديث په روايا تو کښي راغلي چي کوم سړی په يو مجلس کي کښيني او په ټول مجلس کي، دالله کوم ذکـــر ونکړي، دقيامـــت په ورځ به دغه مجلس دده لپاره حسرت اوپښيماني وي.

وه علم جهل هے جودکھائے نه راه دوست
مجـــلس وه هے وبال جهان ياد حق نه هو

" هغه علم ناپوهي ده کوم چي د دوست لاره ونه ښيي ،هغه مـــجلس عذاب دی چيري چي دحق يادونه پکښي ونشي. "

هر دم از عمر گرامي هست گنج بي بدل
مي رود گنجي چنين هر لحظه بيکار آه آه

"دقيمتي عمرهره ګړی يوه بي مثاله خزانه ده. تاسف دی چي دا خزانه هره ګړی بي ګټي تيريږي. "

له دي امله د بصيرت څښتنانو لا يعني کار او خبري د ګناهونو په فهرست کي راوړي دي او د حديث د روايا تو نه ددي تائيد کيږي.

په حديث کي راغلي دي چي، حضرت محمد ﷺ فرمايي: "دانسان د صحيح اسلام يوه ښه داده چي بې ګټي کارونه پريږدي." (رواه الترمذي وابن ماجه عن ابي هريره)

او په يوه حديث کي راغلي دي چي، يو ځل کعب بن عجره رضي الله عنه څو ورځي د حضرت محمد ﷺ خدمت ته

د مجلس دعا

د حضرت ابوهريره (رضي الله عنه) نه روايت دی چي حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي: "کوم څوک چي په يو مجلس کي کښيني نو داوچتيدلو نه مخکي دي دا دعا ولولي: "سُبحانک اللهُم وَبِحَمدِک اَشهَدُ اَن لااله الاَانتَ اَستَغفرکَ وَاَتوُب اَلیُکَ."

"اي الله! زه ستا د حمد سره ستا پاکي بيانوم، شاهدي ورکوم چي ته معبود برحق يي، ستا نه پرته کوم معبود نشته، زه د خپلو ګناهونو ستا څخه بخښنه غواړم. نو الله تعالي به دده ټولي خطاوي معاف کړي کومي چي په دي مجلس کي شوي دي. (ترمذي)

حاضر شوي نه وو.

ده مبارک دخلګو نه دهغه په اړه پوښتنه وکړه. په ځواب کي ورته وويل شول چي، هغه ناروغه دی. حضرت محمد ﷺ دهغه د پوښتني لپاره ورغی. حالت يي نازک وبريښېدی نو يي وفرمايل:

"اي کعبه! ستالپاره دي زيری وي."

د کعب مورووويل: "اي کعبه تاته دي جنت مبارک وي."

داخبره چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) واوريدله نو يي وفرمايل: "دالله ﷻ په معامله کي سوګند اخستونکي، مداخله کوونکي څوک دی؟"

کعب رضي الله عنه ورته وويل: "زما مور ده."

ده ورته وويل: "ته څه خبره يي چي کعب کله لا يعني خبره کړي وي يا تر ضرورت زيات مال يي دالله په لارکي په خرڅولوکي کوتاهي کړي وي نو په داسي حالت کي ويوچاته څه حق دی چي د جنت حکم ولګوي."

ښکاره مطلب يي دادی چي دلا يعني خبري حساب به وي او د کوم شي چي حساب اونيوکه وي دهغه نه خلاصون يقيني نه وي. (احياء)

۲_ دمسلمان سپکاوي او وربانديتوکي ګول

دا کبيره ګناه ده او په دي کي دکوونکي کومه دنيوي او معاشي ګټه هم نشته. خو عام مسلمانان دغفلت او بي پروايي نه پکښې بوخت دي.

په قرآن کريم کي دالله عزوجل حکم دی:

"لايسخر قوم من قوم عسى ان يكونوا خيرا منهم ولانساء من نساء عسى ان يكونوا خيرا منهن"

(الحجرات-۱۱)

"توکي او سپکاوی دي نه کوي هيڅ بوقوم له تاسي څخه په بل قوم باندي، ځکه ښايي چي وي به دغه (مسخره کړي شوي) بهتره اوغوره (په نزددالله) له دي (مسخره کوونکي) څخه او (نه دي توکي او سپکاوی کوي) يوه ټولې ښځي له تاسي پر نورو ښځو. ځکه ښايي چي هغه (مسخري کړي شوي) به بهتره اوغوره وي (په نزد دالله) له دي مسخره کوونکو څخه.)"

دسپکاوي معنی داچي ديو چاتوهين او تحقير (خوارول) او دهغه عيب په دي ډول ښکاره کړي چي وربانديخلګ وخاندي.

په دي کي ډير صورتونه داخل دي.

١_مثلاً ديو چا د تګ اورفتار،ناستي ولاړي خندا او دخبرو او داسي نورو حرکاتو پيښي کول يا د قد اوقامت اوشکل او صورت پيښي کول.

٢_ديو چا پر خبره او کار خندل.

٣_ دسترګو،لاسونو،اوپښو په اشاره کولو سره د هغه عيب ښکاره کول.

داهغه بې خونده ګناه ده چې نن زمان په مسلمانانو کې ديوي عامي ناروغی غوندي خپره شوي ده. دعامو خلګو څخه نيولي تر خواصو پوري پکې بوخت دي. حال داچې دقرآن کريم په ذکر شويو اٰيتونو کښې د دې حرام کيدل صفا بيان شوي دي.

په بل مقام کې ارشاد دی:

"ويل لکل همزه اللمزة ."(الهمزة_١)

" افسوس ،هلاک يا کنده د دوزخ يا خرابي ده هر غيبت ګر عيب ګر لره. "

اودا آيت :"ياويلتنا ما لهذا الکتاب لايغادر صغيرة ولاکبيرة الااحصاها"(٤٩_ الکهف)

اي هلاکه زمونږ (راشه دغه دي وخت دی) څه حال دی د دې اعمالنامي(زمونږ)چې نه پريږدي (ګناه) وړه

او نه لويه (ګناه زمونږ) مګر چې حساب کړي ئې وي هغه (ټولي) "

په تفسيرکي، عبدالله بن عباس(رضی الله تعالی عنهما) فرمايي: "دصغيره نه مطلب ديومسلمان په استهزاء (سپکاوي) سره خندا کول او دکبيره نه مطلب پر هغه باندې قهقهه يعني په زوره خندا کول دي."

عائشه صديقه(رضی الله تعال عنها)فرمايي: "يوځل ماد يوچاپيښي وکړي. حضرت محمد ﷺ منع کړم او ويي فرمايل: "ماته که هر څومره شتمني راکړه شي بيابه هم ديوچا پيښي ونه کړم."

(ابوداود ،ترمذي،تخريج احياء)

په دي کي ودې ته هم اشاره کيدلاي شي چې دغه ګناه داسي بې خونده او بې ګټې ده چې په دي کي هيڅ فايده هم نشته او که يې ګټه فرض کړه شي بيايي هم نه کول نه دي.

حضرت حسن(رضي الله تعالی عنه) فرمايي:

"حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي: "کوم کسان چې په نورو پُسخند وهي. په اخرت کي به دهغوی لپاره دجنت يوه دروازه پرانستل شي او ورته راوبه بلل شي. کله

چې هغوی هلته ورسیږي نو به دروازه ورته بنده شي. بیا به بله دروازه ورته پرانستل شي او هغوي به ورته راوبلل شي، کله چې هلته ورسیږي بیا به ورته بنده شي.

دغه ډول دجنت ټولي دروازي به ورته پرانستلي شي او بیرته به بندي شي. تر دي چې هغوی مایوسه شي اوپه وربللوسره به هم دجنت دروزاي ته بیا ستانه نه شي. "رواه البیهقي مرسلاً، ترغیب المنذري)

دیوسړي باد دغږ سره پري شو، خلګو وخندل.

حضرت محمد مصطفيﷺ په خطبه کي وربانديي سخته تنبیه وکړه. ویي فرمایل:

"کوم عمل چې تاسي ټول په خپله هم کوي پر هغه ولي خاندي؟"

حضرت معاذ بن جبل(رضی الله تعالی عنه) فرمایي:

دحضرت محمدﷺ ارشاد دی:

"کوم سړی، یوچاته دګناهونوعاراوپیغور ورکوي، هغه به ترهغه وخته مړنشي ترڅو خپله په هغه ګناه کي بوخت نه شي."

احمد بن منیع(رضی الله عنه) فرمایي: "دلته دګناه

څخه هغه ګناه مراد ده چې توبه ځنې کنبل شوې وي."
(ترمذي ـ تخريج احياء)

يادونه:

ځينې خلګ دنا خبرتيا، يا غفلت له کبله استهزاء اوتمسخره په مزاح (خوش طبعي) کې راولي او په خلګو رشخند او مسخري کوي. حال داچې په دواړو کې غټ توپير دی.

جايز مزاح(۱) کوم چې د حضرت محمد نه ثابت دی داشرط پکښې شته چې کومه خبره د حقيقت خلاف

۱- جايز مزاح: حضرت انس (رضی الله تعالی عنه) فرمايي: "حضرت محمد ﷺ ترټولوزيات خوش طبع، خنده رويه اوخندوونکي وو." (سبل الهدی والرشاد.)

حضرت ابن عمر (رضی الله تعالی عنهما) فرمايي: "د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ارشاد دی: " بيشکه زه مذاح کوم او حق خبره کوم. " (رواه الطبراني في الکبير.)

حضرت ابو هريره (رضی الله تعالی عنه) فرمايي: خلګو وويل: "يارسول الله! ته له مونږ سره مزاح کوې؟

"رسول الله ﷺ وفرمايل: " زه رښتينې خبره کوم."
(رواه البخاري في الادب والترمذي واحمد)

نه وي، او دچادزړه ازار هم ونه شي او هغه هم دتل لپاره مشغله او عادت ونه ګرځوي کله، کله اتفاقاً وشي. (احياء العلوم)

استهزاء: (پر يو چا پسخند وهل) او تمسخر (په يوچاباندي ټوکي کول) کښې دمخاطب دزړه ازار يقيني دی او دا د امت په اجماع سره حرام دي.

(زواجر دوهم ټوک ۱۸ مخ)

او دا په جايز مزاح کي داخلولو سره، دګناه څخه پرته ناپوهي هم ده(۱)

۱- دحضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) دمزاق څو مثالونه:

۱-يا ابا عمير ما فعل النغير:

حضرت انس (رضي الله تعالى عنه) فرمايي:

حضرت محمد (صلي الله عليه وسلم) زمونږ سره ګډ اوسيدي تر دي چي زما ويو وړوکي ورور ته يي وويل:

"يا ابا عمير ما فعل النغير؟" يا ابوعمير! دبلبل چيچي څه شو؟"

امام ترمذي (رحمه الله تعالى) فرمايي: له دي حديث نه لاندي خبري ثابت شوي دي:

۱_ دحضرت محمد صلي الله عليه وسلم مزاح کول

۳_ دبو چا عیب پلټنه،نکته چیني او رسوائي

دقرآن کریم ارشاد دی.

ولاتجسسوا (۱۲-الحجرات)

"اومه لټوي تاسي پټ عیبونه دمسلمانانو

۲_ حضرت محمد ﷺ دعمرپه مناسبت دوړوکي بڼچي کنیت ابوعمیر کیښېښود.

۳_ هغه وړوکي دبلبل چیچي پاللي وو چي ده به ورسره لوبي کولي،هغه مـــــړشو،ماشوم غـمجن شو.نوحضرت محمد ﷺپه مزاح کولوسره دبچي دغم دلرې ولولپاره ښه نمونه وړاندي کړه:

"یا اباعمیر ما فعل النغیر."

۴_ وړوکي ماشوم ته دلوبولپاره دکوم مرغه لرلو اجازت ورکول جایز دی.(شمائل ترمذي.)

مزید لطیفه:دعُمَیر او نُغَیر یو وزن او یوه قافیه ده.

۲- یاذاالاذنین

دحضرت انس(رضی الله تعالی عنه) څخه روایت دی:

حضرت محمد ﷺ ده ته وفرمایل:

"یاذاالاذنین" ای د دوو غوږونوالا." (ابوداود،ترمذي)

۳- لاتدخل الجنة عجوز

د حضرت انس(رضی الله تعالی عنه) څخه روایت دی:

"یوه سپین سري میرمن د حضرت محمد ﷺ په خدمت کي حاضره وه، یوه پوښتنه یي وکړه. رسول الله ﷺ مزاحاً وفرمایل: "لاتدخل الجنة عجوز." "هیڅ سپین سري بوډی به جنت ته نشي ولاړه" دلمانځه وخت شو، حضرت رسول الله (صلي الله علیه وسلم) لمانځه ته ستون شو. سپین سري ښځي ډیر وژړل. تردي چي حضرت محمد(صلي الله علیه وسلم) تشریف راوړ. عائشه(رضی الله تعالی عنها) ورته وویل: "یارسول الله! دا ښځه ستاددي ویناچي "هیڅ سپین سري به جنت ته نه ځي" له امله ژاړي."

رسول الله وخندل او وبي وویل:

"هو! هیڅ سپین سري به جنت ته نه ځي(یعني خدای پاک به یي ځوانه کړي بیا به جنت ته ځي.)ولي چې دالله ارشاد دی: "انا انشاناهن انشاء فجعلناهن ابکارا عربا اترابا"

"اوبیشکه موږ دا ښځي په خاص ډول جوړي کړي دي یعني داسي موجوړي کړي دي چي هغوي ځوانانې، محبوبي او هم زولي دي." (ترمذي)

په دي ټولو مثالونو کي کومه دحقیقت خلاف خبره شوي نه ده.

حضرت عبدالله بن عمر (رضی الله تعالی عنهما) فرمايي:
حضرت محمد ﷺ پر منبر باندي په خطبه کي وفرمايل:
"کوم خلګ په ژبه مسلمانان شول، خو زړونو ته يې ايمـــان نه دي رسيدلی. (هغه دي واوري) چې و مسلمانانو ته تکليف مه ور رسوي. دهغوی دپټو عيبونو پلټنه مه کوي. پر تيرو شوو ګناهونو باندي پيغور مه ورکوي. ولي چې کوم څوک ديو مسلمان ورور عيبونه پلټي، الله تعالی دهغه دعيبونو پلټنه کوي. اودکوم چا عيبونه چې الله تعالی وپلټي، ژرده چې رسوايي کړي. که څه هم په خپل (بند) کورکي (پټ) وي. (ترمذي دجمع الفوائد څخه دوهم توک ۱۲۱ مخ)

حضرت عبدالله بن عمر (رضی الله تعالی عنهما) يوځل بيت الله ته وکتل او ويې ويل:
"اي دالله بيتي! ستا شان څومره اوچت او ستا عزت څومره غټ دی خو، دمؤمن عزت اوحرمت د الله په دربارکي ترتا ډير غټ دی." (ترمذي جمع الفوائد)

.....

د تعليم الاسلام ويب پاڼې د همکارانو له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

په حديث شريف کې راغلي چې: "يو مسلمان دبل مسلمان ورور دی، نه خو ظلم وربانديکوي او نه عيب وربانديلګوي. اوڅوک چې دخپل ورورپه کارکي بوخت شي، الله دهغه په کارکي بوخت کيږي. اوڅوک چې يو مسلمان ديوغم اوتکليف نه خلاص کړي، الله عزوجل به دی دقيامت دغمونوڅخه خلاص کړي، اوڅوک چې دمسلمان عيبونه پټ کړي، الله تعالی به دقيامت په ورځ دهغه عيبونه پټ کړي." (ترمذي)

نن زمان دغه کبيره ګناه هم ديوي عامي ناروغي په ډول خپره شوي ده. عام اوخاص ټول پکې بوخت دي، دخلګو دپټو عيبونو پلټنه اوکومه خبره که په لاس ورشي هغه اوازه خپرول او رسوا کول دخلګو عادت ګرځيدلی دی، هيڅ دافکر هم نه کوي چې مونږ په دي کې کومه ګناه کړي ده.

او داهغه بې خونده ګناه ده چې په دي کې څه دنيوي ګټه هم نشته اوکه په ټول عمرکي دغه ګناه ونکړي څه تاوان هم نلري، خودبې حسي او بد اخلاقي له کبله خلګ پکښې خوند محسوسوي.

الله تعالی دي مونږ ټول له دي نه وساتي. آمين

٤ـ په پته ديو چا خبري اوريدل

په حديث کي راغلي دي: "څوک چي ديوچا څخه خپله خبره پټول غواړي او دی يي په يوه طريقه او بهانه سره واوري، دقيامت په ورځ به دهغه په غوږونو کي تاوده سرپ اچول کيږي."

داهم کبيره ګناه اوبي خونده اوبي ګټې ده خو عموماً خلګ په دي کي بوخت دي. الله تعالى دي خلاصون راپه برخه کړي.

٥ـ پرته له اجازي. ديوچا کورته ګتل يا ورننوتل

حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي: "کوم سړی چي پرته له اجازي ديوچاکورته وګوري نو دکور خاوند ته جايزه ده چي سترګي يي راوباسي." (بخاري، مسلم)

دغه شان دحضرت محمد ﷺ ارشاد دی:

"کوم چا که داجازي څخه پرته، ديوچا دمکان پرده اوچته کړه او دننه کورته يي وکتل، نو ده يو داسي عمل وکړ چي ورته جايز نه وو." (ترمذي)

داحکم عام خلګ دښځينه په هستوګني سره خاص ګڼي، دنارينه مېني تر کتل يا ننوتل په دي کي داخل نه ګڼي، بلا دليله په دي کبيره ګناه کي بوخت

دي. البته داسي دنارينه کوتې کـــومه چې د خـــلګو دتګ راتګ لپاره پرانستله شوي وي لکه:

دبازارد کـــانونه یاکارخاني یاپه یوخاص وخت کي پرانستل کیږي نو په دي کي داجـازي اخستلو اړتیا نشته او که دتاکلي وخت نه وروسته، ورتـــګ وغواړي نو بیا به اجازه اخلي.

٦- دنسب له امله، یوچاته پیغور ورکول

حضرت محمد ﷺ فرمایلي دي: "دانسبونه (خپلوي ،قرابتونه کوم چې په دنیاکي مشهوردي) دیوچا لپاره ښکنځل نشي کیدلای، تاسي ټول دآدم(علیه سلام) اولاده اویو له بله سره نژدي یاست. دیو چاپه چا کوم فضلیت نشته هو ! فضلیت ددین او صالحواعمالو پر بنسټ باندي دی. "(رواه احمدوالبیهقي-ترغیب المنذري، څلورم توک-٣٣ مخ)

په یو بل حدیث کي ارشاد دی: "دوه شیان داسي دي چې اراده کول یې هم دکفر نژدیوالي دی:

یو دخلګو پر نسب نیوکه او پیغور ورکول.

دوهم پرمړي باندي فریاد کول یعني په زوره ژړل.

(رواه مسلم عن ابي هریرة- زواجر، دوهم توک ٥٢مخ)

او په قرآن کريم کي ارشاد دی:

"والذين يوذون المؤمنين والمؤمنت بغير مااكتسبوا فقد احتملوا بهتانا واثمامبينا." (۵۸_الاحزاب)

"او هغه کسان چي ايذاء رسوي مومنانو سړيو ته

او مومنانو ښځو ته، په غير دهغه کار چي کړی ئي وي دوي.(يعني په ناکړي کار)نو په تحقيق باروي دوی، په خپل ځان غټ دروغ او ګناه ښکاره (چي دعقوبت او سزا موجب دي.)

څوک چي يوچاته فقط دنسب له کبله پيغور ورکړي چي، دفلاني قوم سړي دی،هغه په دغه وعيد کښي داخل دی. (زواجر،دوهم ټوک ۵۲۵مخ)

دغه هم کبيره،بي خونده او بي ګټي ګناه ده،چي د دنيا کوم عمل او ګټه ورباندي موقوفه نه ده.

خوعام خلګ له دي نه په غفلت کي دي،ځيني خلګ، ډيرقومونه،کسبونه اوکارونه ذليل او خوار ګڼي او پبغور ورکوي.ياپه داسي الفاظوورته خطاب کوي چي دهغه نه دهغوی دنسب حقارت

څرګند شي. لکه يوچاته حجام(۱)، قصاب يا ويودونکی ويل. الله دي مونږ ځنی وژغوري.

۷_ دخپل اصلي نسب څخه پرته

دبل چا له نسب سره ځان تړل

که يو څوک چي صديقي نه وي خو دځان سره صديقي ليکي، ياسيد نه وي سيدوليکي، يا قريشي نه وي، ځان ته قريشي ووايي، يا انصاري نه وي انصاري ووايي.

دحضرت محمد ﷺ ارشاد دی:

"څوک چي دخپل پلار نسب پريږدي. بل چاته خپل نسبت وکړي. جنت وربانديي حرام دی."

(بخاري مسلم، ابوداود.)

---

(۱)يو چاته قصاب او حجام ويل

خوکه ديوچاشهرت په يوکسب اوکارسره دومره شويوي چي پرته له هغه، نه پيژندلِ کيږي اوددکرکوونکومقصود هم دهغه توهين او سپکاوي نه وي. نو بيا باک نه لري.

(امدادالفتاوی-۲۴۴مخ-۴توک)

دا هم کبیره ګناه هم په حقیقت کي بې خونده او بې فایدي ده او دغه ډول دنسب بدلول دعزت ذریعه ګنل، بشپړه غلطي ده.

له دي نه، په دنیـــاکي هم عــزت نشي موندل کیدلای.

****

*****

٨_ بنکنځل او دبي حيايي خبري ګول

دبنکنځلو او بي حيايي خبرو څخه مطلب داسي څه کول يا ويل دي چې، انسان ورڅخه شرميږي هغه په بنکاره الفاظو اداکول. بياکه هغه حقيقت او صحي وي. نوبيوه ګناه دکښنځلوکولوده اوکه د حقيقت مخالف وي. مصداق ونه لري. نو بله ګناه دبهتان هم ده. لکه يوه سړي يا دهغه مور او خورته د حرام کارکولو نسبت کول.

په حديث کي راغلي دي چې: " مسلمان ته بنکنځل کول فسق او جنګ ورسره کول کفردی. "

(بخاري ،مسلم،ترغيب ٣ توک ٥٨مخ)

حضرت جابر بن سليم رضي الله عنه چې کله مسلمان شو. نو حضرت محمد ﷺ له هغه نه څو وعدي واخيستلي:

لمړی داچې: " چاته به بنکنځل نه کوي. "

جابر رضي الله عنه فرمايي: " الحمدلله مادا وعده پرځای کړه. له دی وروسته مي نه يو شريف سړي يا غلام نه بنکنځل وکړه او نه هم يو اوښ،وزي يا ويو بل څاروي ته. "

"دوهم داچې، هيڅ صالح عمل لږ او خوار مه ګڼه او مه يي پريږده.

دريم داچي، ديو مسلمان سره ليدنه کوي نو په وريښتندي او په ښو اخلاقو ورسره وګوره.

څلورم داچي، خپل پرتوګ يالنګ تر بجلکو لوړ لره. جامي تر بجلکو کښته کولو نه ډيرځان وژغوره ولي چي، داد تکبر نښه ده.

پنځم داچي، يو څوک پرتا داسي عيب ولګوي کوم چي په تاکي يې وينې. نو ته دهغه په بدله کي د هغه عيب مه لوڅوه، کوم چي ته يې په ده کي وينې."

(ابوداود ،ترمذي.)

په يوه اوږد حديث کي ،يوي پاکي ښځي ته د حرام عمل نسبت کولو يې په کبيره ګناهونو کي شميرلی دی.

(ابن حبان في صحيحه کذا في الترغيب المنذري ٣ټوک ٢٨٩ مخ.)

په ښکنځل کي ډير؛ مور، خور او لور ته د حرام فعل نسبت کيږي. (داټول) په دي وعيد (سزا) کي داخل دي.

په حديث کي راغلي دي:

"څوک چي پريوچا باندي داسي عيب ولګوي کوم چي په ده کي وجود نلري. نو الله ﷻ به دا عيب لګوونکی د دوزخ په اورکي ترهغه ولري ترڅوچي د خپلو کړوسزاونه مومي."

(الطبراني باسناد جيد - ترغيب ٣ټوک، ٢٨٩ مخ)

دغه ډول په حديث کي راغلي دي:

"کوم سړی چي پرخپل غلام، دزنا الزام ولګوي (نوکه څه هم په دنيا کي وربانديي شرعي حدنه جاري کيږي خو) په قيامت کي به حدقذف وربانديي جاري کيږي." (بخاري، مسلم، ترغيب)

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ يوه ورځ، خپلي عمي ته دليدني کتني لپاره ورغی، هغي ډوډی ورته راوغوښتله. مينځه په ډوډی راوړلو کي وځنډيدله نو دهغي له ژبي ووتل زنا کاري، ولي ډوډی ژر نه راوړي.

عمروبن العاص ﷺ وفرمايل: "تا ډيره غټه خبره وکړه. ايا ته ددي په زنا خبره يي؟"

هغي وويل: "سوګند په الله! ماته هيڅ خبرتيا نشته (دقهره مي وويل)"

ده وويل: "ما دحضرت رسول خدا ﷺ نه اوريدلي دي: "کوم سړی يا ښځه چي خپلي مينځي ته زانيه ووايي، حال داچي په زنا يي خبر نه وي، نو دقيامت په ورځ به يي دا مينځه په درو ووهي."

(رواه الحاکم وقال صحيح الاسناد وتکلم فيه الحافظ، ترغيب ۳ توک، ۲۸۹ مخ)

حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي: " دښکنځلو څخه ځان وژغورئ چي، الله تعالى بي حيايي او فحش ويل نه خوښوي. "(رواه الحاكم وصحه ابن حبان عن ابي هريره كذافي تخريج الاحياء)

دفحش ويلو څخه مطلب دداسي شيانو ښکاره کول دي چي په کولواو ويلو سره يي انسان شرميږي که څه هم حقيقت وي.

رسول الله ﷺ هغو مشرکانو کافرانو ته ښکنځل کول هم منع کړي کوم چي دبدر په غزاکي مړه شوي دي. وبي فرمايل: "هغوئ ته دښکنځلوهيڅ اثرنه رسيږي، ژوندو ته تکليف ورکوي. "

(رواه ابن ابي الدنيا مرسلاً ورجاله ثقات ومثله للنسائي عن ابن عباس باسنادصحيح - تخريج الاحياء)

اوپه حديث کي راغلي دي چي مؤمن پيغور ورکوونکی، لعـــنت کوونکی، ښکنځل کوونکی، بي حيايي خبري کوونکی نه وي.

(ترمذي باسنادصحيح عن ابن مسعود مرفوعا تخريج احياء)

له پورتنيو احاديثو نه ثابتيږي چي ښکنځل کول او فحش ويل، ويو کافر او څاروي ته کول هم حرام دي نومسلمان ته ښکنځل کول څومره ګناه لري، بيا په ښکنځلو کي که ددداسي کار ښکاره کول وي چي په

واقع کي،رواوي خو په ظاهره بي ويل دشرم خبره وي،لکه جماع او هغه سره اړيکي لرونکواعمال، نوپه دي يوه ګناه دښکنځل کولو ده، اوکه دحقيقت خلاف ديو حرام کارنسبت ويو سړي يايي ومور او خور يا ويوځاروي ته وکړ نو دابيا دوهمه کبيره ګناه دبهتان او افتراء هم کيږي.

متاسفانه چي په دي ناروغي کي ډير مسلمانان بوخت دي.په ځانګړي توګه دصحراءاوکليو اوسيدنکي اوځاروي پالونکي، د دوی له ژبي نه کومه خبر پرته له بنکنځلو نه وزي. په خبر هم نه وي چي بنکنځل بي وکړه. ګام پرګام،ګړۍ په ګړۍ دکبيره ګناهونو پلنډي بي په سرباروي او دي غافل انسان ته هيڅ باک هم نه وي.

اوس لږ فکر وکړی چي، په دي ګناه کي کوم خوند يا ددنيا کومه ګټه شته؟ که دغه ناروا عمل پريږدي نو بي په کوم کارکي څه توپير راځي؟افسوس دی چي، دالله تعالياودحضرت محمدِ(صلي الله عليه وسلم) د بغاوت،نافرماني اوناخوښي هيڅ پروا نشته.

والعياذ بالله العلي العظيم.

۹-پرانسان یاځاروي باندي لعنت ویل

دلعنت،معنی ده، یو څوک دالله ﷻ درحمت څخه لیري ګڼل،یا په غضب او قهرکي بوخت ګول،یا دوزخي ویل.لکه الله ﷻ دي دخپل رحمت نه لیري کړه. یادي دالله غضب درباندي نازل شي. یاپه دوزخ کښې ولویږي.

دلعنت دري درجي دي:

یوپرکوموعملونواوخصلتونوباندي چي په قرآن اوحدیث کي لعنت ویل شوي په هغوعامو اوصافو سره لعنت کول.لکه:

"لعنت الله علي الکافرین."یا"لعنة الله علي الظالمین." (یعني پرکافرانواوظالمانو دي دالله لعنت وي) دا په اتفاق سره جایز دي.

دوهم په مخصوص ګمراه ډلي باندي دضلالت او ګمراهي دصفت سره لعنت کول .مثلاً داویل چي، پر یهودواونصاراوودي لعنت وي.یاپرروافضواو خوارجو دي لعنت وي.یادي پرسودخورواوشرابیانو دي لعنت وي او داسي نور چي پکښې دیوشخص یا یوجماعت ځانګړي تعین نه وي شوي، داصورت هم

په اتفاق سره جايز دی.

دريم صورت دادي چې، ديو خاص سړی، زيد، عمرو يا يو خاص جماعت، مثلاً دفلاني ښار اوسيدونکي يا دفلاني قبيلي خلګ يا فلانی کسب ګر، يا پر فلاني قوم دي لعنت وي دا ډيره خطرناکه معامله ده. په دې کې ډير احتياط اړين دی. ولې چې دکومو اعمالو په سبب سره کوم سړی دلعنت مستحق ګرځي.

لومړی خو دهغه بشپړه پلټنه يقيني نه وي چې فلاني سړي يا قوم هغه علمونه تر سره کړي، ډيري بدګماني يا غلطي خبري پکښې وي. پرته له تحقيقه فقط په ګمان باندي لعنت کول حرام دي.

دوهم ددغو اعمالو له امله هم هغه وخت دلعنت مستحق ګرځي چې دامعلومه شي چې توبه يې نه ده کښلې او ترمرګه هم توبه نه کاږي. ښکاره خبره ده چې ديو خاص سړي يا خاص قوم په اړه دغه يقيني علم چې هغه توبه نه ده کښلې او اينده يې هم نه کاږي، پرته له وحي څخه نه معلوميږي. له دي کبله دا حق فقط ،نبي او رسول ته حاصل ديچې، ديو خاص سړي يا خاص قوم په اړه د وحي په ذريعه دامعلومه کړي چې په فلاني

کبیره ګناه کي بوخت شوي ،توبه يي نه ده کښلي،او اينده يي هم نه کاږي،پرهغوی لعنت وکړي. بل کوم چاته ددي حق نشته. له دي امله ډيرو عالمانو پر يزيد باندي لعنت ويل جايز نه دي ګڼلي.(احياء العلوم ۱۰۶مخ)

مطلب داچي کوم څوک په قرآن او حديث کښې د لعنت مستحق ګڼل شوي وي، له هغه نه پرته پريو خاص سړي يا خاص قوم باندي لعنت کول حرام دي.

په حديث کي راغلي چي، پرکوم سړي څوک د لعنت خبره کوي، که هغه دلعنت مستحق نه وي نو دغه لعنت پر هغه ويونکي باندي ورګرځي.

(ابوداود ،ترمذي عن سمرة بن جندب باسناد جيد ،ترغيب)

په بل حديث شريف کي راځي چي په مؤمن باندي لعنت ويل داسي ګناه ده، لکه ته چي هغه مړ کړي.(بخاري،مسلم،ترغيب)

لعنت کول څرنګه چي پر مسلمان روا نه ده،پر يو معين کافرباندي هم جايز نه ده،بلکه پريوځاروي ويل هم جواز نه لري.

په حديث کي راغلي چي، حضرت محمد ﷺ د يو سړي سړه په سفرکي وو ،هغه سړي پرخپل اوښ باندي

لعنت وويلی، رسول الله ﷺ وفرمايل: "پرکوم اوښ باندي چي لعنت وايي، پر هغه باندي زمونږ سره سفر مه کوه."

يادونه: په دغه بي خونده او بي ګټې ګناه هم په زرګونو مسلمانان په خاص ډول بيابنځي ډيري بوختي دي، دښځو پرژبو باندي دخدای وهل، مردود کول، په اورسوزل، دخدای په غضب اخته کيدل غوندي الفاظ داسي پراته دي چي پرخبره، خبره يي ددغو الفاظو مشق کړی وي. حال داچي دغه الفاظ دلعنت الفاظ دي. ددي استعمال حرام او دويونکي لپاره يي ددين او دنيا دوراني سبب ګرځي.

الله تبارک وتعالی دي واړه مسلمانان له دي نه وساتي. آمين.

۱۰_ چغلي کول

ديوچا عيب ياداسي خبره اوکارچي هغه يي پټوي، نورو ته بنکاره کول چغلي ده.

چغلي کول کبيره ګناه ده، بياکه هغه عيب حقيقت اوخبره صحت ولري، نوفقط دچغلي کولو ګناه ده. او که دحقيقت خلاف وي، يا له ځانه څخه پکښي کمی او زياتوب وکړي، يا په بدعنوان اوناوړه طرز سره يي

بيان کړي، نو افتراء او بهتان هم وي چي دا پيا بله کبيره ګناه ده. او دچاله طرفه چي چغلي شوي ده، که دهغه عيب بنکاره کول مطلب وي نو غيبت هم دي چي دريمه کبيره ګناه ده. په يوه خبره يي دري کبيره ګناوي وکړي.

حضرت عمربن عبدالعزيز(رحمه الله تعالى)ته يوڅوک راغلی او ديوچا په هکله يي څه خبره وکړه. ده ورته وفرمايل: "ګوره! ياخو موږددي خبري تحقيق وکړو نو ته به يا دروغجن شي نوپه آيت" ان جاءکم فاسق بنباء فتبينوا "کي داخل شوي، اوکه رښتينی وي نو په آيت"همازمشاءبنميم"(يعني غيبت او چغلي کړونکي) کښي داخل شوي اوکه غواړي چي عفووکړو اوخبری ته دپاي ټکي کښيږدو، هغه سړي ورته وويل:

اي اميرالمؤمنين !زه معافي غواړم، اينده به هيڅکله داسي کارونکړم.

په حديث کي راغلي چي، حضرت محمد ﷺ فرمايلي: " زه يي تاسي ته درښيم چي په تاسي کي ناوړه او بدانسان څوک دی. وبي فرمايل: هغه کسان چي چغلي وموندي، دلته هلته منډي وهي کوم چي په دوستانو کي فساد خوروي اوکوم چي دښو خلګو او بي قصورو

انسانانو عيبونه لټوي. "

(احمد عن ابي مالک الاشعري- تخريج الاحياء)

دحديث مضمون دی: " چغلي کوونکی به وجنت ته نه ځي. " (بخاري ،مسلم.)

په حديث کي راغلي چي، "دروغ ويل خوله توروي او چغلي دقبر عذاب دی. "

(ابويعلی. طبراني في الکبير، بيهقي ،ترغيب)

په احياء العلوم کي راغلي چي کوم سړي دچغلي خبره درته ورسوي، نوپرتالازمه ده چي دشپږو خبرو احترام وکړي.

لمړي داچي دهغه تصديق مه کوه. ولي چي هغه چغل خوردی. دده شاهدي نه قبليږي.

دوهم داچي دی ددغه کار څخه منع کړه. نصيحت ورته وکړه.

دريم داچي دده دغه عمل ناوړه اومبغوض وګڼه.

څلورم داچي په خپل غائب ورورباندګماني مه کوه.

پنځم داچي دهغه په ويلوسره پلټنه مه کوه چي دغه پلټنه په خپله ګناه ده.

شپږم داچي دچغل خوردغه خبره، هيچـــاته مه کوه

ولي چې ته خپله په چغلي کولو کې بوخت شوي.

یادونه :تاسې فکر وکړی چې څومره مسلمانان دي چې ددغه کبیره ګناه اوغټ آفت څخه دځان ژغورلو هاند او هڅې کوي؟

زمونږ دمحفلونو مجلسونو مشغله چغلي،عیب موندل،عیب پلټنه، غیبت او بهتان پاته شوي دي. او دا هغه کبیر ګناه چې پرته له کوم سببه ورانوي نه خو پکښې ګومه ګټه اونه هم خوندشته،نه زمونږ کوم ضرورت ورباندې موقوف دی. فقط دشیطان تلبیس، غفلت او بې باکي ده. پرته له کومه سببه مونږ دخپل دین او دنیا دبربادي ولوري ته روان یو.

۱۱_په ناوړه القابوسره دیو چا یادونه کول .

ناوړه او ناخوښه القاب کومو چې په خلګو کې شهرت موندلي دی،دهغه تشهیر کول،او یوځوک په هغه القابو سره بلل،یایې تر شا په ناوړو القابو سره یادونه کول. سخته کبیره ګناه ده.لکه کوڼ، پک، ړوند او داسې نور...

هو !که دیو چا لقب ودي درجې ته رسیدلی وي چې

دهغه نه ماسوا نه پيژندل کيږي، نو دمجبوري[1] له کبله دهغه يادونه کول دارټيا په وخت جايز دي.

په عامه حالاتو کي (يعني چي ارټيا نه وي) په هغه لفظ سره بيان کول يا خطاب کول ګناه ده.

په قرآن کريم کي راغلي دي:

" ولاتنابزوا بالالقاب ." (۱۱_الحجرات)

"اومه غواړي تاسي يو تر بله په بد نومونو او القابو سره "

حضرت امام نووي(رحمه الله تعالى)په"**کتاب الاذکار**" کي ويلي چي دامت علماء پردي متفق دي چي، يو څوک په داسي لقب سره يادول کوم چي هغه يي نه

---

(۱)دځيني القابو استثناء:

دبعضي خلکو داسي نومونه مشهور شوي دي کوم چي په خپل ځان کي بد دي خو، هغوی پرته له دي لفظ نه، نه پيژندل کيږي. نو هغه په دغه نامه سره يادول دعلماؤ په اتفاق سره جايز دي. په دي شرط چي د ذکر کوونکي مقصد دهغه تحقير او تذليل نه وي لکه دبعضي محدثينو دنومونو سره اعرج يا احدب مشهوره دي.

خوښوي، حرام دي برابره خبره ده چي په ده کي دهغه ذات کوم صفت بيان شوي وي يا دهغه دمور پلار او دنورو .... (زواجر، ۳ټوک، ۱۸ مخ)

دغه کبيره ګناه هم دهغو بي خونده ګناهونو څخه ده چي، نه پکښي کومه ګټه شته، نه ددنيا کومه اړتيا باندي ولاړه ده، خو مور د غفلت او لاپروايي له امله په خپلو ځانونو ظلم کوو. (نعوذ بالله منه)

۱۲_ دعالمانو او دالله دوليانو بي ادبي کول

حديث: حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي: "دري کسان دي چي بي ادبي او بي عزتي يي فقط منافق کولاي شي. يو سپين ږيری مسلمان، دوهم عالم اودريم عادل پاچا. (الطبراني بسند حسن، حسنه الترمذي، عن ابي امامه، زواجر)

په خپله رسول الله ﷺ يو صحابي چي لاسونه يي تر نورو اوږده وه د "ذواليدين" په نامه سره تعبير کړي دي.

دحضرت عبدالله بن مبارک (رحمه الله) څخه يوچا پوښتنه وکړه چي: "دحديث په اسانيدوکي دځينې نومونو سره څه داسي القاب راغلي دي، مثلاً؛ حميد الطويل، سليمان الاعمش، مروان الاصغر وغيره، نوايا په دغو القابو سره ذکر کول جايز دي؟"

حدیث:- دحضرت رسول الله ﷺ ارشاد دی:

" هغه سړی زموږ (یعني مسلمانانو) څخه نه دی چې، دسپین ږیرو احترام ونکړي ،زموږ پر بچیانو شفقت ونکړي،او زموږ دعلماؤ عزت ونکړي. "

(احمد باسناد حسن،زواجر ۱تبوک،۷۸مخ)

امام بخاري د انس او ابوهریره رضي الله عنهما نه په یو قدسي حدیث کي روایت کړی چې الله ﷻ فرمایي:

"څوک چې زمادیوولي او دوست سپکاوي وکړي هغه ګواکي وماته دجنګ اعلان وکړ. "په یوبل روایت کي دي چې "زه ورته دجنګ اعلان کوم. "(زواجر)

ده وفرمایل:

"کله چې ستاسي مطلب دهغه عیب بیانول نه وي، بلکه دهغه معرفت او پیژندل بشپړ کول وي نو جایز دي. "

(قرطبي)

سنت دادي چې دخلګو په نبوالقابو سره یادونه وشي.

په حدیث کي راغلي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

" دمومن حق پربل مومن دادی چې هغه په داسي نوم او لقب ذکرکړي چې، دهغه ډیرخوښ وي. له دي کبله په عربو کي، دکنیت رواج عام وو. حضـــرت محمد ﷺ هم داخوښ

دعـــالمانواوالله د ولـــيانوبي ادبي کول ډيرو حضراتو په کبيره ګناهونو کي شميرلي.

(کذافي الزواجر)

دبخاري شارح، امام زرکشي(رحمه الله تعالی)د پورتني حديث په شرح کي فرمايلي دي:

په دي حـــديث کي فکر وکړی چي، دعلـــماؤ او اولـــــياؤ د بي ادبي سزايي د سود خوري برابر ګڼلي ده، ولي چي دسود خوړونکي په اړه په قرآن کريم کي ارشاد دی:

"فاذنوا بحرب من الله ورسوله." (۲۷۹-البقره)

"يعني سود خوړونکي دي دالله او دالله درسول سره دجنګ لپاره چمتوشي"

کړي دی.

خپله رسول الله ﷺ ځينوخاص، خاص اصحابانوته څه القاب ورکړي دي.

حضرت صديق اکبر رضي الله عنه ته يي "عتيق"، حضرت عمر رضي الله عنه ته يي "فاروق"، حضرت حمزه رضي الله عنه ته يي "اسدالله" او حضرت خالد بن الوليد رضي الله عنه ته يي "سيف الله" لقبونه ورکړی دي.

حافظ امام ابن عساکر(رحمه الله تعالی)فرمایلي دي:

"اي عزیزه! الله تعالی دي مونږ اوتاسي ته بشپړ توفیق راکړي او دسمي لاري هدایت دي وکړي، ښه پوه شه چي دعالمانوغوښي زهرجني دي اوداالله تعالی عادت معلوم اومشهوددی چي دعلماؤ اهانت کوونکي اورسوا اوشرمنده کوونکی اوځوک چي پرعالمانونیوکه کوي اوعیب یي لټوي، الله تعالی به یي دمرګ نه مخکي دزړه په ناروغي اخته کړي."

دعلماؤ دزهرجنو غوښو څخه اشاره ودي ته ده چي، دیوچاغیبت یي په قرآن کي، دهغه دغوښو خوړل ګڼلي دی. نوکوم څوک چي دعلماؤغیبت کوي، هغه ګواکي دهغه غوښي خوري. خوغوښي یي زهرجني دي. څوک چي یي خوري دین به یي ورانیږي او دزړه دمرګ څخه مطلب دادي چي په دي کي به دښه او بدو احساس پاته نه شي. ښه ته به بد او بد ته به ښه ګمان کوي.

والعیاذ بالله العلي العظیم.

غیبت او دیوچاسپکاوی دهیڅا هم جایز نه دي. خو، څوک چي دحضراتو علماؤ سره دغه معامله کوي هغه به دسخت الهي غضب هدف وګرځي. علماؤ

لیکلي چې، ددغه شان سړي په اړه دناوړي خاتمي اندیښنه شته.

یادونه:فکروکړی چې نن زمان څومره مسلمانان دي چې په دغه بې خونده او بې ګټې کبیره ګناه کې خپل دین اودنیا ورانوي اوپه بې فکري سره خپل ځان دالله ﷻ او دحضرت محمد ﷺ دغضب اوقهر ننبه ګرځوي.

په دي کې داسي عام غفلت او بې پروایي چې د ټولوخرابیوپرته له کومې پلټنې، وعلماؤته نسبت کوي.ګناه دچاخطادچا،پیغور وملاته ورکوي.پربل چانیوکه کوي او که یې نه کوي خو پر ملابانو به خامخا اعتراض کوي. بیا نن زمان پرامت باندي یو غټ عذاب دګوندي اوتنظیمي هم مسلط شوی. دهرتنظیم کسان دعزت اوکرامت آیتونه ،حدیثونه فقط دخپل تنظیم دعلماؤلپاره خاص ګڼي اوپر نوروعلماؤچې څومره یې زړه غواړي بدپروایي کوم باک نه کوي.

په دي کې شک نشته چې،نن زمان ددیني امورو د انتظام دخرابي له امله او یوځه دعامو خلګو ددین څخه

دغفلت او بې باکي له کبله، ډیر خلک چې په حقیقت کې علماء، نه دي په علماؤ کې شمیرل شوي دي، دعوامو خو دغه حالت دی چې، دچاپرمخ ږیره اودملایانو جامي وویني، هغه ته دملااو مولوي لقب ورکوي. څوک چې په یو تحریک کې بندي شي، یا په یوه جلسه کې تقریر وکړي، نو هغه خوغټ علامه اوسندلرونکي مولاناشو، بیاچې ددا سي کسانو څخه نازیبا حرکتونه وشي نو خلک پر علماؤ دردیږي، خپله خویي پرته له کومي پلتنې او تجربې یو لاروی خپل امام او مقتدا ګرځولي او دمولانا په نوم یې نومولی، بیا هغه ناوړه اعمال دټولو عالمانو کارونه ګڼي، پر ملایانو بدرد او بسکنځل پیل کړي، خپل دین او دنیا دواړه وران کړي.

دعوامو دغې بې احتیاطي ډیري بربادي موندلي. لمړي خوپرته له تحقیقه اوسنده یوڅوک خپل مقتدا وګرځوی، که هغه په حقیقت کې عالم نه وي نو ګام پر ګام به په خپله ګمراه شي، نور به هم ګمراه کوي، بیا چې خلک دهغوی په ګمراهي او بدعملي باندي خبر شي نو بدګمانه شي. بیانو دغه بدګماني دهغوی سره خاص نه

وي، هغوي به بیاد ټولو علماؤ څخه بدګمانه کیږي چې نتیجه یې د دین ورانـی او د دنیا بربادي ده.

له دي کبله ضروري ده چې لومړی خو یوځوک د مولوي، مولانا او عالم په ویلو او فهمولو کي تلوار ونکړي، بلکه که دهغه ښکاره ناوړ توب او خطا وینې نو دغه ناوړه عمل خامخا بد وګڼي، خو هغه ته دي بد نه وایي، چې کیداي شي هغه له یوه سببه معذور وي، دعاموخلګو د دین حفاظت په دغه خبره کي دی.

۱۳_ دآیت، حدیث اود الله دنامه بې ادبي ګول

د دي ګناه خو ښکاره معلومه او مشهوره ده. خو نن زمان دکتابت او دطباعت د ډیرښت او خاص بیا داخبارونواورسالودډیروالي له امله، داګناه داسي خپره شوي چې هیڅ کور، هیچ کوڅه اوهیڅ مسلمان ورڅخه خلاص نه دی، ځاي پرځاي کاغذونه پاشلي لیدل کیږي پکښې دالله نوم، آیتونه، احادیث یا ققهي مسئلي وي، هغه چې احترام یې واجب او بې ادبي یې ګناه ده. په ځانګړي توګه بیا دقرآن مجید او دسیپارو زړي پانې عموماً خلګ دمسجد په طاقچوکي ږدي او دافکرکوي چې د دي دحق نه فارغ شو. حال داچې دهوا

او باد په ذريعه کوڅوته رسيږي او دبي ادبي ګناه پر ايښوونکي باندي ده.

داسي قرآن مجيديا ديني کتابونه چي زاړه او څيري شوي وي، ګارنه ځني اخستل کيږي. دهغه لپاره حکم دادي چي: په يو پاکت ياتوکرکي وپيچل شي، په خوندي ځمکه کي خښ شي.

ياکه يوځاي تعمير جوړيږي په طاقچه کي يي کښيږدي اوخرنګه چي دغسي پانې دبي ادبي پرځاي اچول ګناه ده. دغه ډول داسي اخبارونه اورسالي چي دغالب ګمان څخه معلوميږي چي هغه په کچره کي اچول کيږي، قرآني آيتونه ،حديثونه او نور ...په هغه کي ليکل هم جايز نه دي.

که داخبارونو بي ادبي وشوه ددي ګناه څرنګه چي پر بي ادبي کوونکو ده، دغه ډول ددي پرکاتب اوچاپوونکي هم ده. بلکه په داسي اخباراتوکي، کوم مضمون دغه ډول ليکلي وي نو داصل عبارت پرځاي دژباړي پرليکلودي اکتفاء وکړي، که څه هم ژباړه ياترجمه هم داحترام اوادب وړده.

ددوي بې ادبي هم ناوړه عمل دیاوښایي د اکابرو څخه نقل شوي چې دبسم الله پرځای ۷۸۶ لیکي(۱) او دالله تعالی دنامه پرځای "بفضله تعالی" لیکي.

---

(۱) دبسم الله دلیکلو طریقه:

مولف داحسن الفتاوی، فقیه العصر، حضرت مولانا مفتي رشید احمدلدهیانوي(رحمه الله) فرمایي:

په اخباراتواواشتهاراتوکي دقرآن آیتونه او بسم الله لیکل جایزنه دي.

دسرکاري دفترونوپه مکاتبت کي جایز بلکه مستحسن دي ،خو گناه پربې حرمتي کوونکي باندي ده.

دبسم الله پرځای نوري کلمي یا ۷۸۶لکیل دقرآن کریم، درسول الله ﷺ اودامت د متوارث عمل خلاف دي.په حدیبیه صلح کي، حضرت محمد ﷺدبسم الله الرحمن الرحیم لیکلو حکم وکړ، مشرکینو اعتراض وکړ او ویي ویل:

اکتب ماکنت تکتب ،باسمک اللهم.

له دي څخه ثابته شوه چې اسلام دبسم الله دلیکلو خاص طریقه متعینه کړي ده. ددي پرځاي دنورو کلماتو په لیکلو سره، دبسم الله ثواب نه ورکول کیږي او سنت نه ادا کیږي.

. والله سبحانه وتعالی اعلم.

(احسن الفتاوي ۸تهوک)

مسئله: په کوم کاغذ چي د قرآن کريم آيت ، حديث يا شرعي مسئله ليکله شوي وي ، په هغه کښي کوم شی پيچل هم ناوړه عمل دی. (عالمګيري، درمختار)

مسئله: داسي کاغذونو ته پښي غزول هم ګناه ده. (عالمګيري)

مسئله: ساده کاغذ هم دادب وړ دی، په استنجاء کي استعمالول بي څرنګه چي دانګريزانو رواج دی، داهم جايز نه دی.

يادونه: په زړګونو مسلمانان نن په دغه بي خونده او بي ګټي ګناهونو کي بوخت دي. داهغه ګناهونه دي چي د آخرت د سزا خطره خوشته چي شته، د دي وبال اوعذاب په دنيا کي هم عموماً په افتونو، بلاوو، وچ کالي او ډګراني په صورت کي ښکاره کيږي. پکښي نن زمان ټوله دنيا اخته ده ، خو متاسفانه چي د دي دختمولو واسبابو ته دهيڅا توجه نه شته.

(والله المستعان
وعليه التکلان)

١٤_ دخلګو په لاره يا دکښېناستلو او پريوتلو په ځای کي مرداري او ګندګي اچول

حديث:حضرت رسول الله ﷺ فرمايلي دي:
"کوم چاچي،مسلمانانو ته دهغوی په لاره کي تاوان ورسوی، پر هغه دي دمسلمانانو لعنت وي."
(الطبراني بسند حسن)

حديث: "دلعنت ددريو شيانو څخه ځانونه وژغوري" اصحابانو پوښتنه وکړه :هغه دري دلعنت اسباب کوم دي؟
ده(صلي الله عليه وسلم) وفرمايل: "داوبو په ګودر،لاره يادسيوري په ځای (کوم چي خلګ کښيني) کښي قضاي حاجت کول." (مسند احمد)

يادونه : ددوهم حديث نه داهم معلومه شوه چي دغه ګناه فقط دبولو اوګندګيو سره خاص نه ده،بلکه هر هغه شی چي خلګو ته تکليف ورسوي په دي کي داخل دي،ناړي توکل،دجارو خاشي، دنفرت او خوا ګرځيدو شيان په داسي مقاماتو کي غورځول، دمالتي اوکيلي پوستکي په لاره ياد ناستي په ځای کي اچول

او پاشل، ټول پکښې داخل دي.متاسفانه چې هيڅ مسلمان دغه ګناه نه ګڼي.په ريل ګاډي اوپليټ فارم(دګاډي ددريدلوځای)اوپه مسافرخانوکي، چيرې چې ګوري دايوعادت ګرځيدلی دی.

والله الموفق والمعين

۱۵_ د بولو د څاڅکو څخه ځان نه ژغورل

حديث: "دقبر ډيرعذاب دبولودڅاڅکو نه دځان دنه ساتلو څخه ورکول کيږي،له دي کبله دبولو د څاڅکو څخه ډير احتياط وکړي." (زواجر-۱۰۲مخ)

په شريعت کي له دي وجهي دقضاءحاجت وروسته لومړي په لوټه سره استنجاء سنت ګڼلي شوي، بيايي په اوبو سره مينځل مقرر کړي دي،ددي لپاره چې وروسته دبولوڅاڅکي عموماًراځي چې دهغه د ختميدلو اطمينان وشي. اودبولو دپاته اجزاء وونه بشپړه صفايي وشي،ددي څخه دځان دحفاظت لپاره لاندي عملونه سنت ګڼل شوي دي:

۱_ دبولوکولو لپاره دي پراوچت ځای کښيني.

۲_ پرداسي ځمکه دي قضاء حاجت وکړي، دکوم ځاي نه چې څاڅکي پر بدن او جامو باندي ونه لګيږي.

۳_ دکوم لوري نه چي هوا راځي دبولوکولو په مهال دي هغي لوري ته مخ نه ګرځوي. ولي چي هوا دبولوڅاڅکي ددهوخواتهورغورځوي.

خومتاسفانه چي داروپادتمدن اوټولني شوقين کسان،ددي ټولو شيانوڅخه بالکل غافله دي.په بي باکي سره په دي سخته ګناه کي بوخت دي.

دقضاء حاجت لپاره چي کومه بنه طريقه زمونږ په وطنونو کي رواج لري هغه پريږدي،په پاټ کي استنجاء اوبولي کوي چي کالي اودبدن ساتل ډيرګران دي،بياپه لوټه سره اودس وچول يا استنجاء کول د تهذيب خلاف ګڼل شوي.

(اناللهوانااليهراجعون)

فقط دفيشن له کبله

دغه سخته ګناه اودقبرعذاب

اخيستل کيږي.

(نعوذ باللّٰه)

****

١٦_ بي ضرورته ستر لوڅول

په حديث کي راغلي دي چي: "دنامه څخه نيولي بيا تر زنګنونو پوري دنارينه ستر دی." (حاکم)

په حديث کي راغلي دي چي: " خپل ستر پټ کړی خو دخپلي مينځي يا ښځي په وړاندي کوم باک نه لري."

اصحابانو پوښتنه وکړه. که يوڅوک په خالي مکان کي وي ؟ ده(صلي الله عليه وسلم) وفرمايل: " الله ددي ډير مستحق دی چي حيا ورڅخه وکړه شي."

(ابوداود ،ترمذي،ابن ماجه ،نسائي ،احمد ،حاکم ،بيهقي وغيره)

دغه ډول په حديث کي راغلي دي چي:

" مور ددي څخه منع کړه شوي يو چي، زمور ستر وليدل شي." (حاکم- زواجر،١٠٤مخ لمړي ټوک)

يادونه: نن زمان فيشنونه فقط نارينه نه بلکه ښځي يي هم نيمايي لوڅي کړي دي.

نارينه و د انګريزي جامو نوم ونيکرته ورکړي او ددي په اغوستلو فخر کوي.

ورنونه نيم لوڅ دموراو بچيانو په مخ کي او د عامو

خلګواوښځوپه وړاندي ګرځي، هيڅ پروا نه کوي، چې په دي عمل کي، دالله ﷻ ناخوښي او يوه کبيره ګناه ده.

ښځو بيا داسي جامي غوره کړي چې لومړي خو ډير اعضاء ستر، غاړه، بازوګان، او تر سيني پوري. لوڅ وي اوکوم اعضاء چې پټ وي، پرهغوي همداسي چسپي جامي اغوستل شوي وي چې د بدن هئيت معلوميږي. داهم دلوڅ په حکم دي.

حضراتو علماؤ فرمايلي دي:

ترټولو لومړي فرض چې پر مسلمان شته، هغه د ستر پټول دي چې، فقط په لمانځه کي نه دي فرض بلکه په عاموحالاتوکي تردي حده چې په خلوت او تنهايي کي هم فرض دي. خود ضرورت ځايونه مستثنی دي.

بعضي خلګ په مغربي فيشن کي بهيدلي دغه فرض ترپښولاندي کوي. کوم چې په بعضي هيوادونوکي مزدورکاره طبقه ده، هغوی لنګ

غوره کړی چي، په هغه کي ستربي ستره (۱) کيږي او دغه ټوله دکبيره ګناهونو ذخيره، خالص بي ګټي ده. چي ددنياکوم حاجت، ارتياا وخوندباندي موقوف ندی. "والله يهدي من يشاء الى سواء السبيل"

---

(۱) **پر ناظر او منظور اليه دي لعنت وي:**

ډير خلګ داستنجاء په مهال پټو (څادر) پرځان نه اچوي اواستنجاءته دکښيناستلو په وخت يي ستر ټول ښکاريږي. دځينو لمن وړوکي وي، دناستي په حالت بي دشالخوا ستر ښکاره کيږي چي ډير دبي غيرتي ننبه ده. ځان هم ګناه ګاره کړي، نورومسلمانانوته هم تکليف ورکړي اوکه څوک قصداً ورته وګوري، هغه هم ګناه ګاره دی. دبهيقي روايت دی:

"لعن الله الناظروالمنظورالیه."

(پرکتونکي اوهغه څوک چي ځان يي دبل وکتلوته چمتو کړی وي دالله لعنت دی.)

ددي حديث يومصداق دغه خلګ هم دي چي د اسنتجاء يا دلمبيدلو په مهال، سترنه پټوي اوخلګ ورته ګوري.

دغه رنګه په ځينولوبوکي لوبغاړونيکران اغوستي وي چي، زنګونه او ورنونه يي صفالوځ وي.دي ډول لوبوته کتل اوکښيناستل ټول داحاديثو په رنا کي ناروا او حرام او بي خونده ګناهونه دي چي بايد هرمسلمان ددي نه ډډه او پرهيز وکړي "

۱۷- پرتوب.لنډ اوږدي نور

تربجلکو کښته اغوستل

حدیث:حضرت محمد ﷺ فرمایي:

" کومه برخه دپرتاګه چي تر بجلکو لاندي ښکته شوه هغه په دوزخ کي ده. " (بخاري)

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمایي:

"یوه ورځ دحضرت محمد ﷺ خدمت ته حاضر شوم ،زمالنګ تربجلکو ښکته زړیدی،ده وفرمایل:

(داڅوک دی؟) ما وویل:(عبدالله بن عمر) دا ارشاد وکړ:(که ته عبدالله یي نوخپل لنګ تربجلکواوچت کړه.) مالنګ اوچت کړی تردي چي ترنیمایي پنډلۍ پوري ورسید. بیامي دتل لپاره دغه خپل عادت وګرځوی. " (احمد ،بسند رواته ثقات،زواجر)

حدیث : " دقیامت په ورځ به الله،هغه سړي ته د رحمت په نظر سره ونه ګوري چي خپلي جامي یي په تکبر او فخر سره اوږدي کړي وي. " (بخاري مسلم)

حدیث:د رسول الله ﷺ ارشاد دی: " دري کسان دي چي الله تعالی به ورسره خبري نه کوي او ورته ګوري به هم

نه،اونه به هغوی پاکه وي،اوددوی لپاره دردناکه عذاب دی."

دحدیث روایت کوونکي وایي: رسول الله ﷺ دغه کلمي دري ځله تکرار کړي. حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنه پوښتنه وکړه چي، دا خلګ خو ډیرپه تاوان کي دي او هلاک شول.دغه څوک دي؟

رسول الله ﷺ وفرمایل: "کوم سړي چي تر بجلکو کښته پرتوګ یا لنګ وزړ وي اوکوم سړي چي دیو چا سره نیکي او ښه وکړي اوبیا احسان ورباندي کوي اوکوم څوک چي ددروغو په قسم سره خپل سامان وپلوري. (ابوداود،نسائي،ترمذي،ابن ماجه،زواجر)

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمایي: "رسول الله ﷺ چي دلنګ اوپرتاګه په باب څه وفرمایل،هغه حکم د قمیص او چپني هم دی چي تر بجلکو ښکته کول یي ګناه لري." (ابوداود،زواجر)

مسئله:کوم سړی چي په تکبر او فخر سره خپل لنګ اوپرتوګ او داسي نورتربجلکوښکته کوي،هغه په اتفاق دعلماؤ دسختي کبیره ګناه کوونکی دي،که یي په بي فکري سره دغه عادت ګرځیدلیوي، دتکبر

او فخرله کبله نه وي هم ګناه لري. (فتاوي عالمګيري، اشباه وغيره)

هو ! که دچاجامي يو وخت پرته له اختياره کومه کښته شي، هغه په دي حکم کي داخل نه دي، لکه حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه ته چي ورپيښه شوه، او ده رسول الله ﷺ ته دهغه بيان وکړ او هغه معذور وګڼي.

يادونه: خومره لنډه خبره ده چي ددي لپاره سيدالاولين والاخرين، حضرت محمد ﷺ خپل امت ته کلک تينګار کوي، خو بي فکره او غافل امت دی چي، خپلي بي ګټي اوفضول غوښتني، دالله تعالی اود محمد ﷺ دخوشحاله کولولپاره نه پريږدي. اود داسي ګناه په خپل سر داخيستلو لپاره چمتو دی چي خاص درحمت او بخښني په وختونو کي هم نه معافيږي.

لکه په حديث شريف کي چي راغلي دي:

"دبرات په شپه ددومره ګنهګارانو بخښنه کيږي خومره چي دبني بکر دقبيلي دڅارويو ويښتان دي."

دبني بکر دقبيلي نوم يي په ځانګړي ډول، له دي امله بيان کړ چي دقبيلي دهرسړي سره دپسونو او بزو ډيري رمي وي. تاسي اندازه ولګوي چي ديوه پوسه خومره ويښتان دي او بيا ديوي رمي خومره دي، اوبيا

دسلګونو رمو څومره ويښتان دي؟
خو په دغه حديث کي راغلي چي دداسي رحمت او عامي بخښني په مهال به هم څوبدنصيبه دبخښني څخه بي برخي پاته وي.
په دي کي يوهغه دی چي په تکبراوفخرسره خپل پرتوګ يا نوري جامي تربجلکو کښته کړي وي.
الله تعالی دي مسلمانان ددي غټي بلاء او عامي وباء څخه وساتي. (آمين)

۱۸_په خيرات ور ګولو سره احسان اچول

دالله تعالی سبحانه ارشاد دی:

"ولاتبطلوا صدقاتكم بالمن والأذي . "(۲۶۴_البقره)

يعني:(هرکله چي صدقه اوخيرات وکړي،وروسته يي په احسان اچولواو تکليف ورکولوسره مه باطلوي.)

او په بل ايت کي فرمايي:

"الذين ينفقون اموالهم في سبيل الله ثم لايتبعون ما انفقوا منا ولا اذي. " (۲۶۲-البقرة)

(يعني اجراو ثواب دهغوکسانولپاره دی کوم چي

دالله په لاره کې مال مصرفوي، بیا له دې وروسته احسان اچول او تکلیف رسول نه وي.)

له دوهم ایت څخه داهم بریښي چې، داحسان اچولو ممانعت فقط دصدقاتو سره خاص نه دی بلکه هرڅه چې دعبادت، طاعت، او نیکي په لاره کې مصرف شي، هغه که په خپل ځان وي یا پر خپل اولاد او بنځې باندې وي. یا پرخپلو دوستانو قریبانو باندې وي. دټولو دغه حکم دیچې، په احسان اچولو سره دخیراتو لوثواب ختمیږي.

دیوداسې سړي په وړاندې خپل داحسان یاصدقې ذکرکول چې دهغه په وړاندې دبیان کولوڅخه هغه خوښې نه کوي پرکوم چاچې احسان کړی شوي وي، داهم په "منا ولااذي" کې داخل دي. (زواجر، ۱۵۳مخ. ۱ټوک)

له دې امله علماء کرامو فرمایلي دي:

"په سوغات یاصدقه ورکولوسره ددعا غوښتنه کول، یا ددعا امید کول هم مناسب نه دي. ولي چې دغه هم دخپل احسان یو ډول عوض اخستل دي چې ورڅخه دثواب دباطلیدلو خطره شته." (زواجر)

په (۱۷) نمبر کې چې کوم حدیث بیان شوی دی ددې

په سخت وعيد کي احسان اچوونکي هم داخل دي.له دي وجهي ډيرو علماؤ احسان اچول په کبيره ګناهونو کي شميرلی دی. (زواجر)

الله تعالی دي مسلمانان، ددي بي ګټي اوبي خونده ګناه څخه وژغوري. آمين.

۱۹ـ يو ذي روح په اور کښي سو زول

حديث: حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي:

"حضرت محمد ﷺ دمېږيانو يو غار وليدی چي مور اور وراچولی وو.ده پوښتنه وکړه:(دا اورچا لګولی دی؟)مور ورته وويل:(يارسول الله: مور لګولی دی.)

ده وفرمايل:(په اور سره عذاب ورکول، داورد خالق (الله ﷻ) حق دی، وبل چاته ددي حق نشته چي يو ذي روح په اور وسوزي.)" (زواجر)

او دبخاري په حديث کي راغلي دي:

"په اور سره سزا ورکول مـــاسوی دالله څخه وبل چا ته ددي حق نشته."

دبيان شويو احاديثونه بريښي چي ذي روح انسان وي اوکه څاروي، حلال وي لکه زياتره الوتونکي، يا حرام وي لکه مور ک، پشي، سپی اوداسي نور.

په دي کي په اور سره سوزل جايز نه دي. تردي چي مار ،لړم او د غالبوزي هم دغه حکم او د کتمل په تودو اوبو سوزل هم دغه حکم دی.

علماؤ کرامو ساه لرونکي شيان په اورکي سوزل په کبيره ګناهونو کي شميرلي دي. (کذافي الزواجر)

هو ! که ديو ضرري حيوان لکه مار، لړم او غالبوزي دضرر څخه دحفاظت بله لاره نه وي نو دمجبوری له امله دسوزولو اجازه شته.

(کذا قال الزرکشي وغيره من الزواجر)

۳۰_ ړانده ته غلطه لارښودل

حديث :حضرت محمد ﷺ پرهغه چالعنت کړي کوم چي، ړانده ته غلطه لار وروښيي.

په زواجر کتاب کي بي دا عمل هم په کبيره ګناهونو کي راوړی دی.

يادونه : نابلده سړي ته، غلطه لاره ښودل، هغه پريشانه کول، لکه څرنګه چي ځيني خلګ د ساتيري اوتوکو لپاره بي کوي، داهم ليري خبره نه ده چي په دغه ګناه کي دي شامل نه وي.

٢١_ ښځه د خاوند يا
مزدور د سيټ په خلاف پاروي

حديث: حضرت محمد ﷺ فرمايي:

"څوک چي ښځه د خاوند او مزدور د سيټ (بادار) په خلاف وپاروي. يعني د ښځي يا غلام او مزدور په زړه کي مخالفت او د ښمني پيدا کړي يا د دوي تر مينځ واختلاف ته نوره تقويه او هوا ورکړي نو هغه زمور څخه نه دي." (رواه احمد بسند صحيح، والبزار وابن حبان في صحيحه عن بريدة)

دغه رنګه يو سړي له خپلي ښځي څخه خفه کول او دهغه په زړه کي نفرت پيدا کول هم په دغه حکم کي دي. (زواجر)

حضرات تو علماؤ دا په کبيره ګناهونو کي شميرلي او په حديث کي يي دغه ناوړه عمل د شيطان تر ټولو ستره کارنامه ګڼلي ده. (مسلم)

يادونه: نن زمان دغه عام عادت ګرځيدلی دی چي ديو چا ښځه يا مزدور د خپل سړي يا سيټ څخه شکايت وشو، نو اوريدونکي د دي پرځاي چي د ده د زړه نه شکايت ليري کړي او هغه د خپل سړي يا سيټ په اړه د ښه ګمان پيدا کولو هاند او هڅي وکړي، نور يي په ډول

ډول لارو سره دهغوي تر مينځ نفرت او کينه ډيره وي اوداد ښځي اومزدور همدردي اودوستي ګنل کيږي .

هو ! همدردي او دوستي په دي کي ده چي هغوي په دي پوه کړي چي دهغه يو عذر ؤ ،يايوه مجبوري وه .او ګوره که تاته دهغه څخه يو تکليف رسيدلی وی،نو په زرګونو راحتونه هم رسيدلي دي. دغه تکليف له فکره وغورځوه.

سړی او سيټ په يو نرم عنوان سره پوه کړه شي چي وده ته کومه بدګماني پر خبره کوونکي يا پر ښځي اومزدور پيدا نشي،دغه رنګه سړي ته که دښځي کوم شکايت وي نو هغه دزړه نه دا ليري کول او دنفرت لړلو په اړه څه تدبير وکړي او ښځي ته په مناسب عنوان سره داطاعت او سمي لارې تلقين او نصيحت وکړي.

۲۲_ د دروغو شاهدي

حديث:داسلام لمړی خليفه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه فرمايي: "مونږ يوه ورځ دحضرت محمد ﷺ په حضورکي ناست وو.ده مبارک وفرمايل:(زه وتاسي ته دري اکبر الکبائر (يعني دکبيره ګناهونو څخه هم غټي ګناوي)

درنښيم.

۱_ دالله ﷻ سره بيو څوک شريک ګرځول.

۲_ دمور او پلار نافرماني کول.

ددي ارشاد په مهال ده تکيه لګولي وه، دي جملي ته چي ورسيدی نودی مبارک کښېناستی او ويي فرمايل:

دريمه ګناه دروغ خبره او ددروغو شاهدي ده.)

بيايي دغه جمله په وار وار وويله، تردي چي مور (په زړه کي) ويل چي کاشکي نورپته خوله شي."

(بخاري، مسلم)

حديث: دحضرت رسول الله ﷺ ارشاد دی:

"د دروغو شاهدي دري ځله د شرک برابره ده."

(ابوداود، ترمذي، ابن ماجه)

حديث: "کوم سړی چي پريو مسلمان داسي شاهدي ورکړي چي هغه ددي اهل نه وي، هغه ته په کار ده چي خپل مقام په دوزخ کي وګڼي."

(مسند احمد، بسند رواته ثقات)

يادونه: په دي زمانه کي دروغ او ددروغو شاهدي ديوي داسي عامي وباء غوندي خپره شوي چي عوام

خو عوام دي خو اصوته هم له دي نه ځان ساتنه ستونزمن کاردی، ډیر کاروبارونه او کارخاني داسي دي چي بنسټ يي دروغ او ددروغو شاهدي ده. ددي څخه پرته ډیرکارونه داسي دي چي عموماً يي خلک شهادت او ګواهي نه شميري. له دي امله پرته له کومي ويري په هغي کي بوخت شي. مثلاً ډاکټر سرتفکټ دناروغي او داسي نور... دغه يوه شاهدي ده، په دي کي دحقيقت خلاف ليکل ددروغو شاهدي ده.

دمدرسو، مکتبونواو پوهنتونونو پرپرچونمبرلګول يوه شاهدي ده. په دي کي يوځوک ترخپل صلاحيت غټول ياکمول، ددروغو شاهدي ده. دمدرسو او د پوهنتونونو په سندونوکي چي کوم الفاظ ديوطالب العلم په باب ليکلي وي، که هغه دحقيقت خلاف وي نو دغه ددروغو يوه شاهدي ده چي پرلاسليک کولو باندي يي عالمان او صالح افراد بوخت دي.

نن زمان چي دکنټرول او راشن په اړه دمحلي د هستوګنويا دبل چا په سفارش عمل کيږي. داهم يوه ګواهي ده. په دي کي دحقيقت خلاف ليکل هم ددروغو شاهدي ده. دصحت کميسون چي کوم څاروي دحلالولو

لپاره دروغتیا او داسي بل شي دتصدیق لپاره راوړل کیږي. په دوي کي ناروغه څاروي روغ ګڼل هم د دروغو ګواهي ده. پرږسیدونواوبیعناموباندي دسخط کول چي معامله بي تراوسه روښانه شوي نه وي. داهم د دروغوشاهدي ده.داډول دورځي اوشپي په کارو بارونوکي په زرګونومثالونه دي چي دروغوپه شاهدي کي داخل اوکبیره ګناه اودسخت وعیدوړدي. خودا مـــــوږ یوچي دمورد شیدوغوندي ټول حلال ګڼوپه بي فکري سره پکښي بوخت یو.

په هغه کي څه شهادتونه ښایي چي داسي وي چي انسان دخپل دنیوي مطلب او مجبوري نه پکښي ککړ وي خو ډیر هغه هم دي چي فقط ،بي خونده ګناه او بي ګټي عذاب دی چي صرف دبي فکري او غفلت له کبله پکښي بوخت وي.

الله ﷻ دي مورږ ټول ددغه آفتونوڅخه خوندي ولري اودعمل کولوتوفیق دي راپه برخه کړي. (آمین)

۲۳-په غیرالله (دالله نه ماسوی بل څوک) قسم اخستل

حدیث: کوم څوک چې دغیر الله سوګند واخلي هغه دکفر او شرک عمل وکړ. (ترمذي عن ابن عمر)

حدیث: الله ﷻ ددي څخه منع کوي چې تاسي دخپل پلار (یازوی) قسم واخلي. (رواه السنة. جمع الفوائد)

حدیث: کوم چاچې سوګند واخیستی. که فلاني خبره داسي نه وي نو زه داسلام څخه وتلی یم. که هغه دروغ ویلي وي نو دغه سي ده. څرنګه چې هغه ویلي دي (یعني داسلام نه وتلی دی) اوګه ربښتنی وي بیاهم داسلام ولوري ته سم سالم نه راګرځي(۱) (نسائي، ابوداود)

۱- دقسم نه اخستل ښه ګار دی

مسلمانانو ته دمقدس شریعت دانبودنه ده چې پرخبره خبره باندي قسم نه واخلي. په کومه خبره کې چې تاکید مقصود وي. هغه په بل تعبیر سره اداکړي، سوګند وانخلي. اوکه دکوم چاعادت وي هغه داعادت پریږدي. لکه علامه ابن عابدین شامي (رحمه الله تعالی) چې فرمایي:

"والیمین بالله تعالی لا یکره، وتقلیله اولی من تکثیره."
(ردالمحتار ۴۷۴ مخ ۵ ټوک)

دحديث دظاهري لفظونو څخه بريښي چي ددغو ګناهونو کوونکی کافر کيږي خو، حضراتو علماؤ دنورو روايتونو په رڼا کښي ددي دغه مطلب اخيستی چي دا سړی وکفر ته نژدي کيږي.

"په الله تعالی سره قسم اخيستل مکروه نه دي، خولږ ول بي ترديرو غوره دي."

که ديوي مجبوري له وجهي دقسم اخيستلوضرورت پيښ شي نوبه قسم فقط او په فقط په الله تعالی سره اخلي. دالله نه ماسوی په بل چا سره به قسم نه اخلي.

دعبدالله ابن عمر رضي الله عنه روايت ديچي: رسول الله ﷺ فرمايي:

"**الامن کان حالفا فلايحلف الابالله**." (بخاري)

"خبردار که څوک قسم اخلي نو هغه دي په الله سره قسم واخلي."

په غيرالله قسم اخستل ناجايز دی

دالله تعالی نه ماسوی لکه پلار، نيکه، مدينه، کعبه او پيغمبر عليه السلام سره قسم اخيستل دشريعت له نظره ناروا او حرام دي. بعضي خلک په خرقه مطهره کومه چي دحضرت محمد ﷺ چپنه ده، قسم اخلي. څوک بي بيا په يوزيارت او ولي سره اخلي. داټول په غيرالله کي داخل او قسم اخيستل حرام او بي خوند ګناه ده.

خو د کفرفتوي نه ورباندې کيږي او د کفارو غوندي چلن به نه ورسره کيږي. (نعوذ بالله منه.)

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت دی چې:
رسول الله ﷺ فرمايي: " قريشو به په خپلو پلرونو سره قسم اخيستی نو تاسي په خپلو پلرونو سره قسم مه اخلي."
"قال في الدرالمختار لايقسم بغيرالله تعالى كالنبي والقرآن والكعبة. قال ابن عادبدين اي لاينعقدالقسم بغيره تعالى اي غير اسمائه وصفاته ولو بطريق الكناية كما مر بل يحرم كما في القهستاني ." (۴۸۴ - مخ۵ توک کتاب الايمان)
قال الكمال:" ولايخفي ان الحلف بالقرآن الان متعارفاً فيكون يميناً ." (الدرالمختار، کتاب الايمان)
دفقه دمعروف کتاب الدرالمختار اودفتوٰی معتمد فتاوی شامية دپورتنيو عبارتونو خلاصه داده چې:
قسم فقط دالله په نومونو او دهغه په صفاتو سره منعقد کيږي. دالله تعالى نه ماسوی په نبي اوکعبه سره قسم نه منعقد کيږي. بلکه داسي کول حرام او ګناه ده او قرآن څرنګه چې دالله کلام دی او قسم په دي سره مشهور او متعارف دی نو ځکه منعقد کيږي.

٢٤_ دروغ ويل يا ددرغو قسم اخيستل

حديث: حضرت صديق اكبر ﷺ فرمايي:

"يوه ورځ حضرت محمد ﷺ دخطبي لپاره ودريدی، نويي وژړل، بيايي وفرمايل:

(ددروغ ويلوڅخه ځان وساتي، ولي چي دروغ او بدكاري سره يوځای دي او دا دواړه به په دوزخ كي وي."

(ابن ماجه. نسائي في اليوم والليلة تخريج الاحياء)

قال علي القاري :الحكمة في النهي عن الحلف بغيرالله تعالي ان الحلف يقتضي تعظيم المحلوف به وحقيقة العظمة مختصة به تعالى فلايضاهي به غيره.

(مرقاة المصابيح ۵۵۴مخ ۵ توک)

حضرت ملاعلي قاري(رحمه الله تعالى) دغيرالله دقسم اخيستلو دمنع داحكمت بيان كړی دی چي، په يو چا سره قسم اخيستل دادهغه دعظمت او لويي غوښتنه كوي او حقيقي عظمة او لوئي دالله تعالى خاصه ده، نوځكه هيڅ مخلوق ودي مقام ته رسيدلای نه سي."

دكفر خبره:

بعضي خلګ بيا وايي: چي الله ورکړي ده رسول الله دي

حدیث : "دروغ ویل رزق لږوي."
(ابوالشیخ عن ابي هریرة اسناده ضعیف ،تخریج الاحیاء)

حدیث : "دري کسان دي چي دالله په دربارکي مبغوض دي :یو هغه تاجراو پلورونکی چي ډیر قسمونه اخلي.
دوهم مفلس متکبر.
دریم بخیل احسان اچوونکي.

ځني واخلي. دا خبره کول هم ناروا، حرام او دکفر کلمه ده.
ددي مطلب داشو چي الله تعالی ،یوچاته نعمت ورکړي دی. رسول الله ﷺ دي ځني واخلي یعني دپیغمبر ﷺ طاقت تر الله زیات دی. دادکفر عقیده ده. رسول الله ﷺ سره دټولو فضائلو او صفتونو چي سردار دټولو انبیاؤ دی،قرآن پر رانازل شوی دی،سیدالاولین والاخرین دی. داټول کائنات دده له رویه پیدا دي،تر ټولو مخلوقاتو افضل دی،الله ﷻ ته مقرب دی .څو بیا هم دالله یو کامل بنده او مخلوق دی. هغه په خپله شپه او ورځ ټول مشکلات اوستونزو په اړه، دالله عزوجل نه دخلاصون لاري غوښتلي .نودرسول الله ﷺ طاقت تر الله ﷻ غټ ګڼل، دادکفر عقیده ده. دوهمه خبره داده چي ،یو بنده ته نعمت ورکول یااخیستل مرګ او ژوند ،رزق او مسکنت،ښادي او غم داټول ورکول یااخیستل دالله په قبضه اوقدرت کي دي.

حدیث : " بربادي ده دهغه سړي لپاره چې دخلکو دخندولولپاره دروغ وایي،بربادي ده دهغه لپاره، بربادي ده دهغه لپاره. "

(ابوداود ،ترمذي،وحسنه النسائي في الکبری تخریج الاحیاء)

حدیث :رسول الله ﷺ فرمایي:

"ماخوب ولیدی(دانبیاؤ خوب هم دوحي په حکم کي دي) چې یو سړي ماته راغی او راته ویي ویل چې: راځه،زه ورسره لاړم، په لاره کي مي وکتل چې دوه کسان دي،یو ولاړ دی اویو ناست دی. دولاړ سړي په

دهیڅ مخلوق په دي کي هیڅ ګډون نشته. هرڅه چې په دنیاکښې پیښیږي دهغه واحدلاشریک د ذات په اراده سره کیږي. رازق، مالک او خالق دټولو کائناتو هغه یو ذات دی جل جلاله.

دهیڅ ولي یا نبي په دي کي څه اختیار نشته. ټول انبیاء اولیاء اومقرب بندګان دهغه عبادت کوي اودهغه ذات څخه خپل حاجات،ضروریات اومشکلات حل کول غوښتي او غواړي او ټول امت ته دغه درس دی چې، هیڅ کوم مخلوق، دهغه سره شریک نه کړي. نه دده په اسماء او نومونو کي او نه هم په صفاتو کي.

لاس کي داوسپني يو لور ديچي هغه يي دناست سړي په خوله ننه باسي، بيايي راکاړي. تردي چي تر غـــاړي ورسيږي بيايي راوباسي او دخولي وخواته يي وردننه کړي. بيايي راوکاړي چي ۍه دي سره بله زامه ټوله څيري کيږي او دا وخت هغه لومړي زامه خپل اصلي حالت ته راسي، بيا هغه ته لور ورواچوي او څيري يي کړي.

وسول اکرم ﷺ فرمايي: دخپل ملګري څخه مي پوښتنه وکړه چي داڅه پيښه ده؟ هغه راته وويل:

دا سړی دروغ ويونکي دی، په قبرکي عذاب ورکول کيږي اودغه شان به ترقيامته عذاب ورکول کيږي.

(بخاري في حديث طويل عن سمرة بن جندب، تخريج الاحياء)

حديث: عبدالله بن جراد ﷺ فرمايي:

" مادرسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه: (ايادا امکان لري چي مومن دي زنا وکړي؟) ده مبارک وفرمايل:

(هو !کله داسي کيدلاي شي.) بيا ما پوښتنه وکړه چي ايا مومن دروغ ويلاي شي؟ ده وفرمايل: (نه.) بيا يي دغه ايت تلاوت کړ:

"انمايفتري الکذب الذين لايؤمنون بآيات الله."

(۱۰۵ - النحل)

"دروغ هغه څوک وايي چي دالله پرآيتونوايمان نه لري."

حديث: حضرت عبدالله بن عامر ﷺ فرمايي:

" حضرت محمد ﷺ يوه ورځ زمونږ کورته تشريف راوړ، زه وړوکي وم، لوبو ته لاړم، مور مي راته وويل:

(اي عبدالله! مونږ تاته يوشی درکوو.)

رسول الله ﷺ وويل: (ستاسي دغه شي دورکولو اراده وه؟) مورمي وويل: (خرما) ده مبارک وفرمايل: (که دي خرمانه واي ورکړي، نو ستاپه اعمال نامه کي به ددورغو ويلو ګناه ليکل کيدله. (ابوداود، تخريج الاحياء)

داحاديثو په ذکر شويو روایاتو کي څومره سخت وعيدونه اوعذاب، ددروغو پر ويلو باندي راغلي دی او دغه ګناه يي دايمان اواسلام خلاف ګڼلي ده. متاسفانه چي دومره ډير انسانان په دي کي بوخت دي او ددروغو زيأتوب دومره شوي چي هر عام او خاص پکښي بوخت دی، تردي حده چي ددي ناوړتوب او بدوالي هم دخلګو دزړونونه وتلي دی، صفا او ښکاره دروغ وايي او بيايي په فخر سره بيان کوي چي، مونږ دغه شان په درواغو سره خپل کار وکړو.

که په (۱) دنیوي لالچ یا ویره کښې بوخت شي خو یوه خبره ده. خو ډیر افسوس ددي دی چې په زړګونو

---

(۱) **دروغ نه بلکه تعریض جایز دی**

کله، کله انسان دخپل حق دحصول لپاره ودي ته اړشي چې دورغ ووایي. ددروغ ویولو نه پرته خپل حق لاس ته نه شي راوړلای. په داسي صورت کي ښکاره دروغ ویل جایز نه دي. بلکه دضرورت په مهال تعریض جایز دی. یعني داسي خبرې کولای شي چې په ظاهره کي د حقیقت خلاف وي خو، له دي څخه صحیح مطلب اخیستلای شي.

قال الحصکفی(رحمه الله تعالی):"**الکذب مباح لإحیاء حقه ودفع الظلم عن نفسه والمرادالتعریض لان عین الکذب حرام**.

(ردالمنحار ۵ ټوک ۲۲۴ مخ. احسن الفتاوی)

په ۱۸۵۷ کال، کله چې مجاهدینو دانګریزانو په مقابل کي ماته وخوړله، نودمجاهدینو مشر، مولانا محمدقاسم نانا توي(رحمه الله تعالی) نه، یوانګریز پوښتنه وکړه چې: مولانا قاسم چیري دی؟ دي به خپله یوځرګنامه دشاخواته ستون شو اوویي ویل: اوس خودلته وو. انګریز افسر ته یې مغالطه ورکړه چې هغه دلته وو تا نه ولیدي. حال داچې دی په خپله مولانا قاسم نانا توي وو. دروغ یې هم نه وویل او دښمن یې هم خطا کړ.

دروغ داسي ويل کيږي چي خالص بي خونده او بي ګټي ګناوي دي، نه ورسره دکوم حاجت او ارتيا اړيکي وي او نه يي هم په پريښودلو او رښتيا ويلو سره څه لږ تاوان وي.

دبعضي کسانو داعادت ګرځيدلی او دغه تميز هم نه ورته کيږي چي، مور کومه خبره په ژبه ادا کړه هغه دروغ ده. که رښتيا يو چاته څه تميزوي، هغه بيا باک نه په کوي. چي په دغه بي ګټه خبرې سره مور خپل الله او رسول ﷺ ناراضه او خفه کيږي.

داخري حديث څخه داهم معلومه شوه چي په خبرو اترو کي دماشومانو دساتيري لپاره هم که دحقيقت خلاف خبره وکړه هم ګناه ده.

۲۵- دخلکو لاره تنګول

په حديث کي راغلي چي څوک يو ځای تنګ کړي، يا لاره بنده کړي يا يو مسلمان ته تکليف ورسوي (يعني داسي ځاي واوسي چي ولاړويانو ته تنګي جوړه شي) دهغه جهاد قبول نه دي.

(مسند احمد، ابوداود، الجامع الصغير)

په حديث کي دجهاد ذکر دخصوصيت لپاره نه دي،

بلکه ددي لپاره چي دغه شانۍ مواقع په جهاد، حج اونوروسفرونوکي پېښيږي. دحديث مطلب ښکاره دی چي کومي لاري دعامه خلګو دتګ راتګ لپاره دي، هلته کښېناستل يادريدل دتلونکو خلګو لپاره دتنګي سبب جوړيدل ګناه ده.

څرنګه چي په يوبل حديث کي راغلي چي ،څوک د مسلمانانودلاري په اړه کوم تکليف ورسوي. (هغه که دغاى په تنګولووي يا دتکليف ناکه شي په اچولوسره وي.)پرهغه دمسلمانانو لعنت ثابت شو.

(الجامع الصغير ،الطبراني دعلامه الحسن عن حذيفه)

نن زمان ددي څخه هم غفلت دی،دجامع مسجد پر دروازه باندي ډير رش وي،په دي لاره باندي تګ کول ډيرستونزمن شي،په بازارنوکي پرسړکونو باندي ډير پلورونکي دغه ډول کښيني چي ،لارويانوته ډيره تنګي پيښه شي،ډيربي باکه خلګ بياهسي پر سړکونو باندي ولاړ وي او خبري کوي.

دغه ډول ډير خلګ دريل ګاډي داستيشنونو باندي لاره نيولي ناست يا ولاړ وي. دا ټول په دغه ګناه کي داخل دي چي، بي خونده او بي ګټي شان يي ښکاره

دي فقط په غفلت او بي پروايي سره عام اوخاص پکښې بوخت دي.

الله تعالیٰ دي د حفاظت توفیق رانصیب کړي.

کله چې دلږ وخت لپاره عامه لاره تنګول ګناه ده، نو خلګ چې په خپلو کورونو کښې دلاري يوه برخه شامله کړي چې له دي څخه دهمیش لپاره لاره تنګه شي، د دي ګناه څومره سخته او همیشني ده. خو، خلګ يې هیڅ هم نه ګڼي. (وبالله الاعتصام)

۳۶_ په اولاد کې برابري نه کول

څرنګه چې ديوچا څوښځې وي، په هغوی ټولو کې عدل اوبرابري کول واجب اوړين دي. خلاف کول يې کبیره ګناه ده.

دا ډول په انعام، بخښش اوڅه شي ورکولو کې هم برابري کول اړين دي. په دي کې دهلک، نجلۍ، نارينه او ښځې دواړو برخه برابره په کار ده. دښځې نیمه برخه د میراث قانون دی. په ژوندکي که مور اوپلارڅه شی بچیانو ته ورکوي، په هغه کې به دښځې اونارينه برخې برابري وي. د دي په خلاف کول کبیره ګناه ده.

هو !که یو هلک یا نجلی په علم یا عمل کې د مور او پلار په اطاعت او خدمت کې تر نورو ډیره وي نو هغه ته څه ډیر شی ورکول جایز دي. (الدرالمختار، اشباه وغیره)

۲۷_ په یووخت کې تریوه ډیر طلاقونه ورکول

که دیو شرعي یا طبعي مجبوری له امله، ښځې ته طلاق ورکول اړین وي، نو شرعاً روا ده. خو، سنت طریقه یې داده چې داسي وخت طلاق ورکړل شي چې ښځه د میاشتنی ناروغي نه فارغه وي. فقط یو طلاق ورکړي.

په یو وخت کې دري طلاقونه ورکول چې عموماً په جاهلانو کې رواج لري، ګناه ده. که څه هم طلاق واقع کیږي. عوام او ناخبره خلګ ډیر په دي کې بوخت دي، چې کله طلاق ورکوي نو تر دریو څخه کم باندي خوساه نه ایله کوي، تردي چې دسرکاري کاغذانو لیکونکو عادت ګرځیدلي وي. چې (په سوال کې) دري طلاقه دي، دا ټول بې خونده او بې فایدي ګناوي دي.

که دیو سبب له کبله دا په فکر کې وي چې بیا ورته درجوع حق پاته نه شي، نو یو طلاق هم بائن کیدلای شي تر دریو پورې رسولو ته په هیڅ حالت کې اړتیا نشته. (الدرالمختار، بحر، وغیره)

٢٨_ په تول ترازو کي کمي ګول

په تول ترازو کي کمی ګول سخته کبيره ګناه ده.

"ويل للمطففين" آيتونه ددې ګناه سختي او وعيد بيانوي.

حديث: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي:

"يوه ورځ حضرت رسول خدا صلى الله عليه وسلم مونږ ته تشريف راوړ او ويي فرمايل:

پنځه خصلتونه داسي دي، کله چي تاسي په هغوی کي بوخت شي (نو دهغوی ناوړي نتيجي به په لاندي صورتونو کي وموميء) او زه دالله عزوجل نه پناه غواړم چي تاسي پکښي بوخت شي. هغوی دادي:

١_ کله چي په يو قوم کي فحاشي او بي حيايي خوره شي. نو ددي له امله پرهغوی باندي لعنت او غضب کيږي چي، په نتيجه کي په هغوی کي، طاعون او داسي ناروغۍ خپرې شي چي، دهغوی مشرانو نه اوريدلي وي او نه يي هم ليدلي وي.

٢_ کله چي يو قوم په تول ترازو کي کمی وکړي. نو په هغوی باندي دوچکالي او ګراني عذاب راځي، باران وي او که نه وي. همدا ډول دخلکو غوښتني، پور او نور ... ډيريږي واکداران به يي ظلم وربانديي کوي.

۳_ کله چې یو قوم په زکوٰة ورکولو کې کوتاهي کوي ،نو بارانونه پروخت باندې نه کیږي. که څاروي نه وای نو هیڅکله به باران وربانديې نه وای شوی.

۴_ کله چې یوقوم دالله تعالی اودرسول اللهﷺ وعدي ماتوي. نو الله تعالی به دنورو قومونو څخه دښمنان وربانديې مسلطه کوي چې، دهغوی مالونه به په ناجایزه طریقه سره ورڅخه اخلي.

۵_کله چې مسلمان حاکمان اوواکدران،قرآني حکمونه اوقوانین نه نافذ وي،نو دمسلمانانو په خپل مینځ کې اختلاف او جنګ پیل کیږي."

(ابن ماجه والبزار والبیهقي والحاکم وقال صحیح علي شرط مسلم-زواجر ،۱۹۹-۱ تورک)

یادونه:دحدیث الفاظ ته په غور او ځیر سره وګورې نو به دحضرت محمدﷺ دپیښبیني ربښتینوالی په سترګو وویني.

نن زمان په مسلمانانو ګنبې عموماً دا پنځه واړه خصلتونه عام او خواره شوي دي.نو ددي ناوړي نتیجې کومې چې په حدیث کې ذکر شوي، هغه هم خپرې شویدي.او داهغه غمونه دي چې پر مسلمانانو باندې ځمکه تنګه شوي ده. خو افسوس دی چې دحدیث په

داسي روښانه ارشاداتو باندي زمونږ سترګي ولي نه رونيږي او داوسني غمونو دليري کولو لپاره دزماني عقلاء ډول، ډول تدبيرونه کوي خو، ددي اصلي اسباب او علتونه په حديث کي بيان شوي دي دهغه ختمېدو ته څوک توجه نه کوي. "ولا ملجا من الله الاالیه."

دهغو خصلتونه څخه يو هغه هم دي چي، د مضمون عنوان مو ګرځولی دی. يعني په تول ترازو کي کمی کول په دي کي دانه دي بيان شوي چي کوم خاص اندازه دځان لپاره راوګرځول شي. بلکه مقصد لږ تو پير لکه يو ګرام، لس ګرامه، يادګز شپږسمه برخه وي. ددي هم دغه حکم دی. له دي وجهي په قرآن کريم کي دغه شان عمل کوونکو ته مطففين ويل شوي او شميرل شوي دي. "شيء طفيف" يعني دلږ شي لپاره خيانت کوونکی. ولي چي په تول ترازو کي تولهورځ کوم تاجر کمی

نو کيدلای شي چي په توله ورځ کي نيم سير، پاؤ، نيم ګز، يا څه کم راوګرځوي، دا په هره سوداکي په يوه سخته کبيره ګناه کي بوخت شو. دګناهونو ديو غټ بار په بدل کي يي پاؤ، سير، يايو ګز، دوه ګزه لوګر دځان لپاره خوندي کړ. داڅومره دخست، کمينګي تاوان او

دحيرانتيا خبره ده. له دي امله دبعضي مخکنيو علماء کرامو ددې اسي کسانو په باب ارشاد دی چي دبربادي سره بربادي ده، دهغو خلګو لپاره چي ديوي داني په بدل کي دجنت نعمتونه قربان کړي او ددوزخ هغه دردناکه عذاب واخلي چي دهغه نه غرونه ويلي کيږي.

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه چي به کله بازارته تشريف يووړ، نوبه دکاندارانو ته ودريدی او ويل به يي چي، په تول ترازو کي دالله څخه وويريږي. ولي چي دقيامت په ورځ مطففين (يعني په تول ترازو کي کمی کوونکي) داسي درول کيږي چي، دسختي له امله به دخلګو خولي ددرياب په شان بهيږي اودابه دغوږونو ترنيمايي برخي پوري ور سيږي.

يوله سلفو (مخکني علماؤ) څخه بيان کړی چي:

زه ديو ناروغ پوښتنې ته ورغلم، هغه ته مي د شهادت د کلمي تلقين وکړ، هغه څه لوستل غوښتل خو ژبي يي حرکت نه کوی. څه وخت وروسته په هوښ کي راغی نومي ځني وپوښتل چي، کله ماد کلمي تلقين درته کوی تاولي نه لوستله؟

هغه وويل: "وروره! دترازو دلاس ستن زما پر ژبه پرته وه د هغي له کبله ماکلمه نشوای لوستلای."

پرته وه د هغي له کبله ماکلمه نشوای لوستلای."

ما ورته وویل: یا الله خیر! ایا تاپه ترازوکي کمی کول؟

هغه وویل: قسم په الله! هیڅکله نه.

هو! دا ډیره پښېمانه چي ماتر ډیره وخته پوري خپل ترازونه برابروی، په دي کي به څه توپیر کیدی.

الله جل جلاله دي ومسلمانانوته، ددي غټي بلاء څخه خلاصون ورنصیب کړي.

۲۹_ له نجومیانو څخه

دغیب خبري پوښتل او اهمیت ورکول

حدیث: "کوم څوک چي دراتلونکي زمـــاني په اړه د غیب دخـــبرو وښوونکي ته ورغیاو دهغـــه نه یي دغیـــب خبري وپوښتلي، ددي سړي څلویښت لمونځـــونه، نه قبلیږي."

(جامع صغیر برمزاحمد ومسلم)

حدیث: "کوم سړي چي دغیب دخبرو ښوونکي کاهن (یانجومي) ته ورغی او ډهغه پر خبره یې یقین

وکړ، هغه دهغي وحي او الهي کلام نه انکار او کفر وکړ کوم چي پر حضرت محمد ﷺ نازل شوی دی."

(الجامع الصغیر برمز احمد والحاکم في المستدرک عن ابي هریرة وعلیه علامة الحسن)

ډیر مسلمانان په دې بي خونده او بي ګټې ګناه کښې فقط دغلفت او بي پروایي له وجهي بوخت دي او په دي شیانو کي اخته کیدل پرته له ګناه څخه خالص ناپوهي او کم عقلي ده. ولي چي اول خو دهغو خلګو ټولي خبري تخميني، ظني او ګمان څخه دي چي، د هغه هیڅ اعتبار نشته.

فرضاً که صحیح هم وي او پرې اتلونکي پیښه باندي کوم علم حاصل شي. نو څه فایده؟ ولي چي دغه موایمان دی چي، څه په تقدیرکي لیکل شوي دي، هغه نه خطا کیږي.

۳۰_ دغیرالله په نامه څاروی ذبح کول یا نومول

د قرآن کریم ارشاد دی:

"ولاتاکلوا ممالم یذکراسم الله علیه وانه لفسق."

(۱۲۱ - الانعام)

"اومه خوری تاسي له هغې (مرداري) چې نه وي یادکړی شوی نوم دالله پر هغي باندي (عمداً) او بیشکه چې دا خوراک خامخا ګناه ده."

په حدیث کې راغلي چې:

"څوک دیو چاپه نوم باندي څاروي (پسه، بزه، چرګ او داسي نور) پریږدي هغه زمونږ څخه نه دی.(۱)"

په زرګونو مسلمانان دي چې په دي آفت بوخت دي ځیني خلګ دبزرګانو او پیرانو په نامه څاروي نوموي، یایي دهغوی په نامه نذر کړي او ذبح یې کړي.

(نعوذ بالله منه)

۱- دغیرالله په نامه نذر کول حرام دي

نذر کول عبادت دی او دعبادت لایق فقط الله عزوجل دی. دالله نه ماسوی، هرمخلوق چې وي دهغه لپاره نذر کول یا دهغه په نامه نومول ناروا او حرام دي.

دفقه حنفي نامتوامام علامه ابن نجیم(رحمه الله تعالی) دکنزالدقایق په شرح، البحرالرائق کي پردي مسئله د علماؤ اجماع نقل کړي ده. فرمایي:

ونصه قبیل باب الاعتکاف فقال الشیخ قاسم في شرح الدرر: واماالنذرالذي ینذره اکثر العوام علی ماهو مشاهد کان یکون

للانسان غائب اومريض اوله حاجة ضرورية فياتي بعض الصلحاء فيجعل ستره علي راسه، فيقول ياسيدي فلان ان ردغائبي او عوفي مريضي او قضيت حاجتي فلک من الذهب كذا او من الفضة كذا او من الطعام كذا او من الملح كذا اومن الشمع كذا او من الزيت كذا.

فهذا النذر باطل بالاجماع لوجوه منها، انه نذر لمخلوق والنذرللمخلوق لايجوز،لانه عبادة، والعبادة لاتكون للمخلوق.

ومنها ان المنذورله ميت والميت لا يملک.

ومنها انه ان ظن ان الميت يتصرف في الامور دون الله تعالى واعتقادة ذلک كفر(الي قوله...:)

الاجماع على حرمة النذر للمخلوق ولاينعقد ولايشتغل الذمة به ولانه حرام، بل سحت ولايجوز لخادم الشيخ اخذه ولااكله ولاالتصرف فيه بوجه من الوجوه الا ان يكون فقيراً او له عيال فقراء عاجزون عن الكسب وهم مضطرون فياخذونه على سبيل الصدقة المبتداة فاخذه ايضا مكروه،مالم يقصد الناذر التقرب الى الله تعالى وصرفه الي الفقراء ويقطح النظرعن نذرالشيخ فاذاعلمت هذا فما يوخذ من الدراهم والشمع وازيت وغيرها وينقل الي ضرائح الاولياء تقربا اليهم فحرام باجماع المسلمين مالم يقصدوا بصرفها للفقراء الاحياء

قولاً واحداً .

(البحر الرائق ۲ ټوک ۲۹۸ مخ. احسن الفتاوي الدر المختار ، رد المحتار)

ايصال ثواب دبزرګانو او اولياء كرامو وارواحو ته ثابت او باعث داجر او ثواب دی. په دي كي څه خبره نشته. خو ددي سره يو ډول قيداوتخصيص لګول احداث في الدين او بدعت دی.

داولياء كرامو په نامه څاروي تاكل او بيايي، مزار ته وړل، په "ما اهل لغيرالله" كي ددا خلبدو لِه كبله شرک دی. ددي خوړل هم حرام دي، كه څه هم زركرته وربانديي بسم الله، الله اكبرولوستل شي. وظاهرقوله تعالي: "وماهل به لغيرالله يوجب تحريمها اذا سمى عليها بسم غيرالله لا ان الاهلال به لغيرالله هوا ظهارغيراسم الله ولم يفرق الاية بين تسمية المسيح وتسمية غيره بعـــــد ان يكون الاهلال به لغيرالله. (احكام القرآن ۱۲۵ مخ-۱ ټوک)

قال العلماء لوان مسلما ذبح ذبيحة وقصد بذبحها التقرب الى غيرالله تعالى صار مرتداً وذبيحته ذبيحة مرتد.

(تفسير نيشاپوري)

۳۱_ بچيانوته

ناورا جامي وراغوستل يا زيور استعمالول

څرنګه چي نارينه ته دوريښمين ټوکر اغوستل، د سروا وسپينوزروزيوراغوستل ګناه ده.دغه رنګه اولاد

امام رازي(رحمه الله) په خپل تفسير کي ددي په حرمت بيان کړی دی او ټولو فقهاء عظام ددي په حرمت متفق دي. (احسن التفاوي -۱ټوک ۵۰مخ)

که نذر دالله تعالی لپاره وي او ثواب يي وبزرګانو ته وي، داجايز دی.

(كما صرح به مصنف تفسيرات الاحمدية في المنهية-بيان القرآن،احسن التفاوي)

دميلمه داحترام لپاره څاروی ذبح کول جايز دي:

ذبح لقدوم الاميرونحوه لواحد من الانام يحرم، لانه اهل به لغيرالله ولوذكراسم الله ولوذبح للضيف لايحرم،لانه سنة الخليل(عليه السلام) واكرام الضيف اكرام الله تعالى والفارق بينهاان قدمهالياكل منها،كان الذبح لله تعالى والمنفعة للضيف اوللوليمة وان لم يقدمهالياكل منهابل يدفعهالغيره كان لتعظيم غيرالله فتحرم وهل يكفرقولان انتهي.

(الاشباه والنظائر-احسن الفتاوي.۱ټوک،۵۰مخ)

ته وراغوستل هم حرام، ناروا او سخته ګناه ده. ډير خلګ دنا خبرتيا له امله په دي کي بوخت دي.

۳۲_ ددي روح شي تصوير جوړول يا استعمالول

حديث : "تر ټولو ډيرسخت عذاب، دقيامت په ورځ تصوير جوړوونکي ته ورکول کيږي."

حديث : "(درحمت) ملکي وهغه کورته نه ننوزي، په کوم کور کي چي د (ذي روح) تصوير يا سپي وي."
(الصحاح الستة)

حديث : "حضرت محمد ﷺ يوځل د حضرت عائشي رضي الله عنها په کورکي يوه پرده ځړيدلي وليدله چي، پکښي يو تصوير وو. رسول الله ﷺ ناخوښي ښکاره کړه او هغه ټوکر يي دوه ځايه کړ. دهغه څخه يي تکيه جوړه کړه."

نن زمان دغه ګناه دومره ديوي وباء غوندي په ټوله نړي کي خپره شوي ده چي ددي څخه پرهيز کوونکي ته دژوند په هره څانګه کي ستونزي دي، دخولې (توپي) څخه نيولي تر بوټونو پوري، کوم شی په بازار کي د تصوير څخه خالي موندلي ستونزمن شوي دی. د استعمال کورني شيان؛ لوښي، چاړه، دجاموګنډلو ماشين، ددواوو ډبي او بوتلان، اخبارونه اورسالې تر

دي چي مذهبي او اصلاحي کتابونه هم ددې عظيمي ګناه څخه خالي نه شوه پاته. فالی الله المشتکی.

که فکر وشي نو له دغو څخه زياته برخه دتصويرونو خالص بي کاره او بي فايدي او بي خونده ګڼاه ده.

مسلمان ټه په کارده چي دګناه په عام کېدلو سره هغه سپکه ونه ګڼي، بلکه ډيرپه همت سره دهغه څخه دځان ژغورلو او هم دنورو مسلمانانو د حفاظت فکر وکړي، ترکومّه حده چي امکان ولري ددې اسي شي دپيرودلو څخه ډډه وکړي اوکه دا ونه شي نو دتصوير مخ دي خراب کړي، يادي کاغذ پرومښلوي، پټ دي کړي.(۱)

۱ هو پرپيسو او ټکټانو چي تصويرونه رواج شوي دي لومړي: په هغه کي مجبوري ده.

دوهم: هغه ډير واړه دي، نو استعمال يي باک نه لري.

دهيواد سوداګر او تصوير ختمول

دهيوادسوداګرپه دي اړه مهم رول لوبولاي شي، هر سوداګرچي دبهرني تجارتي مالونه وهيوادته را وارد وي نو دکمپني اوکارخاني دمالک سره د ذي روح تصوير د ختمولو خبره وکړي، هغه دا خبره ځکه ورسره خوښوي چي د هغوی مقصد خپل مالونه په زيات شمير پلورل دي. فقط

مسئله: دغه ډول بتن او نورو شيانو کې ډيرو ړو کې تصويرونه چې حد يې دادي که تصوير په ځمکه کښښودل شي، دميانه ديدوالا سړي په ولاړي ورته وګوري نو دتصوير داعضاء وو تفصيل ونه وينې دداسي وړو کې تصوير استعمال جايز دي.

(فتاوي هنديه، الدرالمختار.)

دکلک عزم، صفا نيت او ديني غيرت اړتيا ده، چې مسلمان دغه صفات خپل کړي.

متاسفانه چې حتى وړې کارخاني چې څښتنان يې ښه پوه ډيره اوپه ظاهره ديندار ه خلک وي بيايي هم په خپلو مالونوو ړو کې تصويرونه، ښښان يايي دکمپنۍ مارکه لګولي وي چې، ډيره دبي همتي خبره ده. الله عزوجل دي مسلمانانو ته دديني غيرت، دخير دعملي کولواود ګناهونو څخه دژغورلو توفيق ورکړي. آمين.

دتصوير جوړول حرام دي

دبخاري شارح علامه بدرالدين عيني(رحمه الله تعالى) فرمايي: "وفي التوضيح قال اصحابنا وغيرهم تصويرصورة الحيوان حرام اشدالتحريم وهو من الكبائروسواءصنعه لما يمتهن اولغيره فحرام بكل حال، لان فيه مضاهاة خلق الله

وسواءکان في ثوب اوبساط اودیناراو درهم او فلس اواناء او حائط،واماماليس فيه صورةالحيوان كالشجرونحوه فليس بحرام وسواء في هذاكل ماله ظل ومالاظل له وبمعناه قال جماعة العلماء،مالک والثوري وابوحنيفةوغيرهم(رحمهم الله تعالى)" (عمدة القاري-۲۷۰ مخ ۲توک)

"په توضيح کي دي چي زمونږ حنفي فقهاء او نورو حضراتو هم فرمايلي چي دذي روح تصوير جوړول سخت حرام او دکبائرو ګناهونو څخه دي. که څه هم ددلت او اهانت لپاره جوړ شوي وي يا ديو بل مقصد لپاره وي. په هر حال حرام دي. ولي چي په دي کي دالله دصفت تخليق مقابله ده. که څه هم هغه تصويرپه تهوکر ، فرش، دينار، درهم، پيسي،لوښي يا ديوال باندي وي. هو ! په کوم شي کي چي تصويرنه وي، لکه ونه او داسي نور نو داحرام نه دي.

دحرمت په دي حکم کي، سيوري والا(يعني صورت والا) او بي سيوري(بي صورته فقط نقش) تصويرونه برابر دي. دا خبره بيان کړي ده دعلماؤ جماعت، امام مالک،ثوري او امام ابوحنيفه او نورو (رحمهم الله تعالى)

داحنافو په نورو کتابونو کي هم دغه مسلک مفصل بيان شوي دی. وګوري:

(بدائع الصنائع ۱۱۲ مخ، ۱ توک- هنديه، ۳۵۹ مخ، ۵ توک- ردالمحتار، ۲۴۷، ۱ توک -المتانة، ۲۲۴ مخ او داسي نور.)

پورتنی مضمون دحضراتو شوافع، مالکیه او حنابله مذهب په کتابونو کي هم بیان شوي دی.

دشوافع کتابونه:

شرح النووي علی صحیح مسلم ۱۹۹ مخ- ۲ توک.

نهایة المحتاج الی شرح المنهاج ۳۲۹ مخ -۲ توک.

تکملة المجموع شرح المهذب -۴۰۴ -۲ توک.

حواشي تحفة المحتاج، ۴۷۲ مخ -۷ توک.

علامه مرادوي حنبلي (رحمه الله تعالی) فرمایي:

"یحرم تصویر مافیه روح ولایحرم تصویر الشجر ونحوه والتمثال ممالایشابه مافیه روح علی الصحیح من المذهب."

(الانصاف ۴۷۴ -۱ توک.)

(د ذي روح شي تصویر جوړول حرام دي، د درختي او نورو شیانو تصویر جوړول کوم چي د ذي روح مشابه نه وي د صحیح مذهب مطابق حرام نه دي.)

دا تفصیل په: (المغني لابن قدامة ۲۸۲ مخ ۷ توک، الاقناع ۲۳۰ مخ ۳ توک، کشاف القناع ۱۷۱، مخ ۵ توک.) کښي راغلی دی.

دفقه مالکي په عامو کتابونو کي دا بیان راغلی دی.

وګوري: (الشرح الصغیر علی الدردیر ۵۰۱ مخ ۲ توک- شرح منح الجلیل، ۱۲۲ مخ -۲ توک -الخرشي ۳۰۲ مخ ۳ توک.)

په احسن الفتاوي ۸ ټوک کې دتصوير داحکامو په باب يوه جامعه رساله په نامه دالنذير العريان عن عذاب صورة الحيوان ده چې؛ دقرآن، حديث اودځلورو مذهبونو دکتابونو په حوالو مزينه او هم يې د تصوير دمجوزينود دلائلو ځوابونه په تفصيل سره راوړي او دذي روح تصوير په حرمت يې اجماع ثابته کړي ده. چې دعلم دځښتنانو لپاره يوه عظيمه پانګه ده.

پورتنۍ حوالي هم دهغه نه نقل شوي دي.

داحکامو خلاصه

دقرآن، حديث اودفقهي کتابونو نه لاندي احکام ثابتيږي:

دذيروح تصوير جوړول سخت حرام او ګناه کبيره ده.

تصوير که هر ډول وي، غټ وي که وړوکی، پرټوکر باندي وي او که پر کاغذ جوړ شي او که پر ديوال باندي وي. په قلم جوړ شي يا په کامره واخيستل شي.

دا ډول تصوير په مطبعه کې چاپول، په ماشين يا قالب کې اچول هم ناورا دي.

دتصوير پلورل او پرودل حرام دي، په دي سره ګټل شوي پيسه حرامه او دګټي وړ نه ده.

داهغه وخت ده چې دتصوير پلورل او رانيول مقصود

وي، که مقصود بل شي وي. مثلاً جامه، کاغذ او داسي نور شیان او تصویر ورسره لګلیدلی وو، نوداسي شي تجارت جایزدی، خوپرخریدارلازمه ده چې دشي درانیولو سره تصویر ضایع کړي.

دتصویر قصداً کتل، او نورو ته ورښکاره کول او دځان سره ایښول هم جایز نه دي. دسینما، تلویزیون، وي سي آر فحش او بې حیا تصویرونه ته کتل، یو بل ته ورښکاره کول د ډیرو حرامو کارونو کول دي. (احسن الفتاوي ۸ ټوک)

دا حکم داخبارونو، رسالو، مکتب اوپوهنتون دکتابونو دتصویرونودی، ددي دجایز مضامینو لوستل جایز، خو تصویرونو ته قصداً کتل ناجایزدي. (احسن الفتاوی ۸ ټوک)

ځینو کسانو دبرزګانو، عالمانو، مجاهدو قهرمانانواو دوستانو تصویرونه په کور کښې ځوړند کړي، یاییې په البم کي ایښي وي.

داعمل د شریعت مقدسه له نظره، ناروا او حرام دی.

دا شان تصویرونه متبرک ګڼل، دکفر خطره ورباندي شته. په کارده چې هر مسلمان ددغه شان حرامو اعمالو نه ځان وژغوري او ټول تصویرونه وسوزوي. که دانبه عمل وای، نو معززو اصحابانو به د سیدالانبیاء حضرت محمد (صلي الله علیه وسلم)

مسئله :همدا رنګه کوم تصويرونه چي په ذليل شيانو کي استعماليږي، لکه په بوټونو يا فرش کي، دهغه دغه شان استعمال هم جايز دی (۱). په دي شرط چي په هغه فرش لمونځ ونکړي.

مسئله :- دکومو وړوتصويرونو يا د ذلت په مقام کي چي يې استعمال جايز دی، دهغه جوړول هم جايز نه دي.

تصوير جوړ کړی او محفوظ کړي وای. خو خپله رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د تصوير د جوړولو نه منع کړي ده، ولي داچي دا دالله د تخليق سره مشابهت او د شرک ذريعه ثابته شوي ده، نو ځکه شرعاً دا حرام عمل دی.

(۱) **دتصويرونو مخه نيول**

صاحب داحسن الفتاوی فقيه العصر، علامه مفتي رشيد احمد لدهيانوي (رحمه الله تعالی) فرمايي:

په دي کي دا قبائح دي:

۱ـ په دي عمل سره د تصاويرو صنعت ته ترقي ورکول کيږي کوم چي په اجماع سره حرام دي.

۲ـ په فرش يا په نورو ذليلو شيانو کي د تصويرونو په استعمال سره، د عامه خلګو د ګمراهي او د کبائرو

مسئله :تصوير كه په قلم سره وليكل شي يا په مطبعه كي چاپ شي يا يي په كامره سره فوتو واخيستل شي، دټولو همدا يو حكم دى.

گناهونو دكولو ذريعه ده، ولي چي عوام له دي نه مطلقاً پراباحت باندي استدلال كوي. عوام په مهانه (كوم چي دذلت په مقام كي استعماليږي)، او غير مهانه (كوم چي دذلت په مقام كي نه استعماليږي) كي كوم فرق نشي كولاى.

۳_ كه پر فرش باندي تصوير وي هلته هم ملائكي نه راځي، په دي صورت كي كه څه هم دملائكو امتناع مختلف فيه دي خود ذكرشويو وجوهاتوله مخي امتناع راجح معلوميږي.

تردي هم دامتناع غټ دليل داچي ديو معكون عمل دمعمول ابقاء (پاته كول) بلكه افتتناء (حفاظت) دى، خلك يي داهانت په نيت نه ږدي، بلكه دشوق لپاره يي ږدي.

دمذكوره قبائحو په صورت كي هم دلمانځه كراهت او راكرځول واجب تقاضا كوي.

مسئله :- دذي روح فوټو خپله اخيستل يا په بل اخيستل دواړه ناروا عمل دي هو ! که يو داسي هيواد ته دتللواړتياوي چيري چي دورتګ لپاره تصوير اخيستلو سره پاسپورټ لاس ته راوړل اړين وي، نو د ضرورت په شرط سره جايز دي.(۱)فقط دچکر او تفريح لپاره جايز نه دي.

خبرتيا : ددي مسئلي په اړه بشپړ بحث چي پکښې دقرآن، حديث، او دعقلي ، نقلي شبهاتو دجوابونو سره اړونده فقهي مسئلي په تفصيل سره داحقر په رساله : (التصويرلاحکام التصوير)کي ذکرشوي دي هغه ولولی.

وهـــذالايخالف مـــارجحه الفقهاء(رحمهم الله تعالی)لان الاحکام، تتغيربتغيرالزمان، فتفکر ولعل الحق لايعدوه فتشکر. سبحان الله وتعالی اعلم.

رشيداحمد

۲۷- جمادي الثانيه ۱۳۸۷هـ ق (احسن الفتاوی ،۸تـوک، ۴۴۴مخ)

حکومت ګنهکار دی

څرنګه چي نن زمان دبيلابيلو هيوادونو له لوري په پاسپورټ باندي تصوير لګول اړين بلل شوي دی. دغه

٣٣_ پرته له ګومه ضرورته سپي پالل

حدیث: "ګوم سړی چې دخارویو درمي ،یادکښت دساتنې یا دښکار دضرورت نه پرته دشوق لپاره، سپي وساتي. دهغه دثواب څخه هره ورځ، دیوه قیراط په اندازه، کمیږي." (بخاري،مسلم)

دبخاري په بل روایت کې دوه قیراطه ذکر شوي دي. قیراط دوزن یو خاص مقدار دی،چې داتو دانو وریجو ومقدار ته نژدې دی. خو داچې دآخرت قیراط څومره وزن دي اودلته ددې څومره اندازه مراددہ،دا الله تعالی ته معلومه ده. دحدیث مطلب ظاهراً دادي چې دصالحو اعمالو دمجموعې ثواب څخه، هره ورځ دومره اندازه کمیږي.

داهم احتمال شته چې دهر صالح عمل دثواب څخه دیوه یادوو قیراطو په اندازه کمیږي.

دول دهیواد دکارډ یا تذکیري لپاره تصویر ضروري دی. دغه ګناه دحکومتونو په غاړه ده چې، مسلمانان یې دي ته مجبوره کړي دي. احتیاطاً استغفار په کار دیچې وویل شي. والله اعلم.

ددي سړي ودي ستر تاوان ته وګوري. او ددې بي خونده ګناه څخه ځان وژغوري.

(والله الموفق)

۳٤_ دسود ځيني قسمونه

دسود خوړلو دکبيره ګناه چي په قرآن او حديث کښې په کوم سختي سره بيان راغلی دی ،دهغه څخه هيڅ مسلمان ناخبره نه دی. په حديث کي يي دسود خوړل دمور سره تر زنا کولو هم سخته ګناه ګڼلي ده.

قرآن پاک سود ، دالله تعالی او دهغه درسول (صلي الله عليه وسلم) سره دجنګ اعلان ګڼلي دی خو په دي رساله کي فقط هغه ګناوي ليکلي دي چي ورڅخه کومه دنيوي ګټه نه ترلاسه کيږي او دسود څخه ډيري دنيوي ګټي په نظر کي وي.

له دي کبله دلته دسود فقط دوه قسمونه ليکل کيږي چي، خلګ پکښې يوازي دغفلت نه بوخت دي.

مثلاً دسروزورو پلورل اوپيرودل په سروزرو سره، يا د سپينو زرو دا په سپينو زرو سره وشي. نو په دي کي ديوي دقيقي قرض هم حرام او په سود کي داخل دي.

دا ډول که په دي کي يوه ذره زياتوب ياکمی وشي، هغه هم حرام او سود دی، خو فقهاؤ حضراتو په دي ډول بيـــع او شراء کښي، دسود څخه دحفاظت لپاره څه تدبيرونه ليکلي دي چي، په استعمال سره يي نه کوم تـــکليف شته ،او نه تاوان او دسود دعذاب څخه خلاصون هم راځي.

مثلاً دسرو زرو يـــا سپينو زرو په پلورلو کي که د پيسي ژر اداکولو امکان نه وي، نو په دي کي زيور او داسي نور شی چي کوم وخت واخيستل شي هغه وخت دي بيع او شراء وکړي، نه دي اخلي، بلکه عاريتاً دي واخلي. کله چي پيسي اداکوي هغه وخت دي زيور مخي ته راوړي، پيسي دي ورکړي او بيع دي دغه مهال وکړي او دنرخ په اړه دي مخکي دغه وعده واخلي چي د هغه پخواني تاريخ له نرخ سره سودا کيږي.

يادي داسي وکړي چي دزرګر څخه سره زر رانيسي. مثلاً ددووسوو روپو سره زر دي، نو دزرګر څخه دي دوه سوه روپي قرض واخلي او دسرو زرو قيمت دي لاس په لاس اداکړي. اوس دهغه په ذمه دسروزور قيمت نه شو پاته ،بلکي هغه مخکي اخيستل شوي روپي

پاته شوي. دزرګر په حساب کي کوم فرق نه شو پاته هغه ته کوم تاوان نه و رسید ،خو دسرو زرو دخریداري د فرق له وجهي چي دسود کوم عذاب وو دهغه نه خلاص شو.

دغه ډول که سپین زر دسپینو زرو په روپو سره یاسره زر دسروزرو په اشرفیو سره پیرودل کیږي او دبازار نرخ په حساب سره څه زیاتوب او کمی راځي. نو فقط دغه تدبیر کافي دی چي جنس بدل کړي.

مثلاً سره زر، دسپینو زرو په قیمت سره رانیسي او سپین زر رانیسي نو دسرو زور په قیمت سره دي ادا کړي. یا دي دسپینو زرو څخه ماتي روپي (ګټ) یو ځاي کړي.

نن زمان چي کومه دګلټ روپي رواج شوي ده . په دي کي خو خپله غیر جنس شامل دی، په دي کي د رانیولو په وخت په کمي، زیاتوب کي څه باک نشته هو قرض په دي کي هم په کار نه دی. (وهوالاحوط لدخلوه في بیع الصرف عندبعضي المعاصرین من العلماء)

دا حکم دسمو سروزرو یا سپینو زور څخه دجوړ شوي شی دی چي، په دي کي قرض کول سود دی او کمي

زیاتوب هم سود دی. له دي څخه د حفاظت هم هغه طریقه ده کومه چې اوس درته بیان شوه.

دا ډول نورهم ډیرمثالونه دي چې په هغه کې فقط د غفلت او لاپروایي له امله خلګ د سود په ګناه کې بوخت دي.

که لږ فکر وکړي، د علماء وو نه مسئلي معلومي کړي، نو دهغه نه به په اساني سره ځان وژغوري.

دغه ډول ټول فاسده بیوع او معاملات د سود په حکم دي او دهغه څخه د حفاظت لپاره عالمانو دغه شان تدبیرونه لیکلي دي. که لږ د دین فکر وي نو دا دي کبیره ګناه څخه د حفاظت څه ستونزمن کار نه دي.

سیدي ومرشدي قطب العالم، مجدد الملة، حکیم الامت، حضرت مولانا اشرف علي تهانوي (قدس سره) په یوه مستقله رساله "صفائي معاملات" کې فاسده معاملات په تفصیل سره بیان کړي دي او هم یې د حفاظت تدبیرونه لیکلي دي.

هر مسلمان ته په کار ده چې مطالعه یې کړي، یا یې په اوریدلو سره معلومات حاصل کړي.

****

۳۵_ مسجدته مرداري يا بدبويه شى وړل

ددي ګناه والى او له دي څخه وخلکو ته تکليف رسيدل او دهغوي ودي سړي ته ښراکول په ډيرو احاديثو کي معروف او مشهور دي. عموماً خلک په دي کي بې ګټې بوخت دي. واړه بچيان په داسي ناپاکه بدن سره ومسجدته وروستل چې ورڅخه دمسجد دککړکيدلو خطره وي، يادتيلو څراغ او نور څه مسجد ته وړل، يا د اورلګيت خاشي ومسجد ته وړل يا اوړه، پياز ياتمباکو استعمالول او بيا خوله نه صفاکول اومسجد ته ورتلل داټوله په دي کي داخل دي.(۱)

---

(۱) **دمسجداحترام او صفايي**

دحضرت ابوهريره(رضى الله عنه) نه روايت دي چې:

رسول الله(صلى الله عليه وسلم) فرمايي: "ښه دښارونونه، الله ته مسجدونه دي او مبغوض دښارونو، الله ته بازارونه دي". (مسلم)

له حضرت عائشة(رضى الله عنها) څخه روايت دى چې: "حضرت محمد(صلى الله عليه وسلم) دکورونوسره د مسجد په جوړولو سره امر کړي دى او داچې مسجدونه پاک، صفا اوخوشبويه وي." (ابوداود، ترمذي، ابن ماجه)

۳۶- په مسجد کې ددنیا خبرې کول

په ډیرو احادیثو کې ددې منع راغلې او په یوه حدیث کې راغلې چې، په مسجد کې ددنیا خبرې کول، دسړي ښه عملونه داسې خوري لکه اورچې لرګي سوزوي. که کومه اړینه خبره ناڅاپه دیوچا سره کول وي، نولومړي دې دمسجد څخه بهر په دروازه یاد اوداسه په ځای کې

پورتنۍ احادیث دمسجد په عزت او احترام او ددوي په عالي مقام صفا دلالت کوي، او ولې نه چې ددې جوړښت خاص دالله تعالی دعبادت؛ لمونځ، تلاوت اود الله دذکر لپاره شوی دی. له دې کبله په کارده چې دمسجد د صفایي اوخوشبویي هروخت خیال وساتل شي، خود مسجد صفایي فقط دامام او دطالبانو دنده نه ده بلکه دا په حقیقت کې دمحلي دټولو ورګړو وظیفه ده. محلي والا ته په کارده چې، دمسجد دصفایي لپاره یو خادم وټاکي او څه میاشتنۍ وظیفه ورته مقرره کړي. خامخا امام او طالب په دې مجبوره کول ددین ناقدرۍ او دجهالت نښه ده، طالبانو ته هم په کارده چې خپله حجره اوشاوخواسیمه صفاوساتي. دوډۍ، خوراکه اودسبزیجاتو پوستکي داوداسه په ځای یا شاوخوا ونه غورځوي چې له دې نه بدبویي او چټلي پیښیږي. "الطهارة من الایمان" صفایي دایمان نښه ده.

وکړي او که اتفاقاً دمسجد په کونج کي هم يوه لنډه خبره ديو چا سره وکړي نو څه باک نشته، خوخالص ددنيادخبرولپاره په مسجدکي مجلس جوړول په دغه سخت وعيد کي داخل دي چي پکښي نن زمان عام مسلمانان بوخت دي.

ښکاره خبره ده چي په دي کي نه کومه دنيوي ګټه شته نه يي په پريښولو کي کوم تاوان.(۱)

---

(۱) په مسجد کي دنيوي عمل حرام دی

مسجد څرنګه چي فقط او فقط دالله دعبادت لپاره جوړ شوی دی. له دي کبله شريعت، په مسجد کي دنيوي معامله په سختي سره منع کړي ده.

په يو حديث کي، حضرت رسول الله(صلى الله عليه وسلم) فرمايي: "کله ديوسړی څخه دا واوري چي هغه په مسجد کي د ورک شوي شي اعلان کوي نو ورته ووايا ست چي خدای دي نه درپيدا کوي، ځکه يقيناً مسجدونه ددي لپاره نه دي جوړ شوي." (مسلم)

په بل روايت کي راوړي چي کله يو سړی ومسجد ته راشي او دنيوي خبري وکړي، ملکه ورته وايي:

"پټه خوله شي اي دالله ولي."

۳۷- دلمانځه صفونه نه سمول

حدیث: "کوم سړي چې صف بشپړ کړي، الله تعالی هغه دځان سره یو ځای کوي او څوک چې صف وشلوي (یعني په صف کې خالي ځای پریږدي.) الله تعالی به ورسره اړیکي وشلوي."

(قال الحاکم صحیح علي شرط مسلم - زوجر)

که یې نوري خبري وکړي نو ورته وایي: "پته خوله شه اي دالله مبغوضه."

که یې نوري خبري وکړي نو ورته وایي: "پته خوله شه پر تادي دالله لعنت وي." (کتاب المدخل ۲ ټوک، ۵۵مخ)

په فتاوي هندیه کې راوړي چې "دمعتکف نه پرته وبل چاته په مسجد کې خوب اوخوراک مکروه دي."

(هندیه- ۳۲۱مخ- ۵ټوک.)

په ځینو سیمو کې، دورک شویو ماشومانو اعلان په مسجد کې کوي، دایو دنیوي عمل دی. ددې کول په مسجد کې سخت حرام دي. ددې لپاره رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ښرا کړي ده چې خدای دي نه درپیدا کوي. دا ددي دناوړتوب لپاره کافي ده. اوپه ځینو علاقوکې بیا د مسجد

فايده:- دصف دبشپړ کولو مطلب دادی چي په مينځ کي خالي ځای پاته نه شي او قطع کول(غوڅول) ددي ضد دي، يعني په منيځ کي ځاي پريښول.

حديث:- "خپل صفونه سم او برابر کړی، او که داسي ونکړي، الله تعالی به ستاسي مخونه وګرځوي."
په ځينو روايا تو کي راغلي دي: "ستاسي په زړونو کي به اختلاف پيدا شي." (بخاري، مسلم- زواجر)

په اسپکر کي اعلان کيږي چي، نن فلاني قصاب غويي يا مړ حلاله کړی دی. داهم يو دنيوي عمل دي چي کول يي په مسجد کي ناروا او حرام دي.
ددې لپاره دي دمسجد امام او متقديان داسي يو ترتيب جوړ کړي چي، خپل ضروريات هم حل کړي او مسجد هم ددنيوي اعمالو دکولو نه وژغوري.
دغه ډول په ډيرو سيمو کي دتعزيت يا فاتحي لپاره خلک په مسجد کي سره راتوليږي او هلته دنيوي خبري، غيبتونه، يو پر بل بهتانونه او په نور فسق او فجور باندي بوختيدل عادي کارونه دي. نسوار هلته کول او په مسجد کي په تکتاني(تفداني) کي ټوکل هم يوبنکاره ناروا عمل دی. ځکه چي دپياز يا اوږي خوړلو په صورت

په صف کي يو ځای دريدل او صف سمول، دامت د علماؤ په اتفاق سره واجب دي. ددي خلاف کول سخته ګناه او د ذکر شو يو احاديثو دوعيدونو (سزاګانو) لايق دی.

خو افسوس دی چي په زرګونو مسلمانان په دي بي خونده او بي ګټي ګناه کي فقط د بي فکري له امله بوخت دي.

کي د مسجد دراتګ نه منع شوي ده نو نسوار په مسجد کي کول به څرنګه جايز وي؟

د کندهارنامتو عالم، شهيد مولانا سيف الدين کندهاري نقشبندي (عليه الرحمه) د کاروان د جامع خطيب او د هيواد د معروف شيخ طريقت، پير مولوي صاحب نقشبندي قندهاري (رحمه الله تعالى) مريد وو. ده به د فاتحه يا تعزيت لپاره يو بيل ځای تيار کړی وو. فاتحه به په دغه جوړه شوي برامده (برنډه) کي اخستل کيدله. دا د مسجد نه بهر تياره شوي وه. نو چيري چي دغه صورت ممکن وي، په دي عمل وشي يادکور په يوه کوټه کي واخيستل شي او که د ضرورت له کبله په مسجد کي وي، د مسجد د عزت او احترام خيال وساتل شي. ددنيا خبري، فضول مجلسونه او د بدبويه شيانو له وړلو نه ډډه وشي.

عموماً په مینځ کې خالي ځای پریږدي، په مخکې صف کې ځای وي خو دی دشا په صف کې ودریږي او په صف دریدلو کې هم شاومخ ته ودریږي.

دغه ټولې ګناوي دسخت وعید وړ دي.

مسئله: دهر لمونځ کوونکي بجلکې، دبل لمونځ کوونکي دبجلکو په برابري په کار دي، پُنډي او پنجې که شااو مخ ته وي کومه خبره نه ده. خو بجلکې سره برابرول اړین دي، په دې کې کوتاهي کول غټه ګناه ده.

۳۸ - تر امام وړاندې تلل

حدیث: "ایاستاسې څخه، څوک له دي خبرې، نه ویریږي چې، هغه په رکوع یا سجده کې، تر امام مخکې سر اوچت کړي، نو الله تعالی به دهغه سر دخره دسرغوندي کړي، یابه دهغه شکل او صورت دخره دشکل په شان کړي." (بخاري، مسلم)

ښکاره خبره ده چې دغه کبیره ګناه چې په رکوع یا په سجده کې تر امام وړاندې سر اوچت کړي، خالص بې خونده او بې ګټې ګناه ده، په دې کې هم ډیر غافل انسانان بوخت دي.

(۳۹) په لمانځه کې نبي او کين لوري ته دسترګو په ګنجانو سره ګتل

حديث: "الله تعالی وخپل بنده ته چې هغه په لمانځه کې وي برابر متوجه وي خو، کله چې بنده مخ واړوي نو دالله تعالی توجه هم واوړي."

(احمد، ابوداود، نسائي وغيره.)

حديث: "اي عزيزه! په لمانځه کې نبي او کين لوري ته له کتلو څخه ځان وژغوره، ځکه، په لمانځه کې يوي خوا او بلي خواته کتل هلاکت دي." (ترمذي، وحسنه)

۴۰ـ په لمانځه کې:

جامي څوړندول يا لوبي په ګول

دجامو داستعمال چې کومه طريقه معروفه ده، ددي خلاف استعمال، مثلاً قميص په سرباندي واچوي، يا پتو او دسمال په سر واچوي. دواړه طرفونه ايله پريږدي، ودې ته دفقه په اصطلاح کې "سدل "(۱) وايي دا په لمانځه کې ناروا او ګناه ده.

سدل مکروه دي

(۱) علامه ابن عابدين شامي (رحمه الله تعالی) د سدل

دغه ډول جامي يا يي کومه برخه په وار .وار اړول را اړول، يا د بدن ديوي برخي ته بي ضرورته په

دکراهت په باب فرمايلي دي چي ددي دکراهت دري وجه دي:

۱_ داهل کتاب سره مشابهت.

۲_ دعورت دلوخوالي خطره او دا په هغه صورت کي چي جامي په سر وزړول شي او پټو يا پرتوګ يي نه وي.

۳_ غير عادي اغوستل: کوم چي په عادت کښي دغه ډول نه اغوستل کيږي. مثلاً ،پټو يي پر ځان نه وي پيچلي بلکه، پر اوږه يي زړ ولي وي، يا يي چپنه اغوستي وي خو لستوني يي ايله پري ايښي په لاس يي نه وي اغوستي.

په لمانځه کي دغه عمل مکروه دی. دلمانځه څخه بهر کوم باک نه لري.

(په حواله داحسن الفتاوی- ۳ټوک .۴۰۸ مخ)

وار، وار (۱) حرکت ورکول، په پوزه یا غوږ کې بې ضرورته ګوته داخلول او داسې نور ..... داعبث کار دي او په لمانځه کې ګناه ده.

۱ـ پرته له کوم ضرورته یو ځل لاس اوچتول بدن ګرول هم مکروه تحریمي دي. که کوم داسې ضرورت وي چې پرته له بدن ګرولو په لمانځه کې اطمینان نشي راتلای. نو یو ځل یادوه ځله بیله کراهته جائز دي. د دري ځله "سبحان ربي الاعلی" لوستلو د وخت په اندازه دري ځله د ضرورت له کبله ځان ګرول هم مفسد دي. او داهلته چې په هر صورت کې لاس اوچت کړي. که یو ځل لاس اوچت کړي او دري ځله یې ځان وګروي دالمونځ نه فاسد وي.

عموماً خلک پرته له کومې اړتیا، په لمانځه کې لاسونه اوچتوي. خپل لمونځونه فاسد او برباد کړي. ډیر احتیاط په کار دی.

(ردالمحتار، ۵۹۵ مخ - احسن الفتاوی، ۳ توک ۴۱۶ مخ)

****

۴۱_ دجمعې په ورځ، په مسجدجامع کې دخلکو پر اوږو اوښتل

حدیث: کوم سړی چې دجمعې په ورځ دخلکو پراوږو اوړي او مخې ته ځي، ګواکې پر یوه پل باندې دوزخ ته ورسیدی. (ترمذي، ابن ماجه- زواجر)

حدیث: حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) دجمعې په ورځ خطبه لوستله، یو سړی دخلکو پر اوږو اوښتی، مخې ته تلی، ده مبارک ورته وفرمایل:

"کښینه، تا خلک په تکلیف کړل."

(احمد، ابوداود، نسائي، زواجر وغیره)

او په بل روایت کې ارشاد دی:

"زه ګورم ته وخلکو ته تکلیف ورکوي، او چاچې یوه مسلمان ته تکلیف ورسوی، هغه ګواکې وماته تکلیف ورسوی او چاچې وماته تکلیف ورسوی، هغه الله تعالی ته تکلیف ورسوی."

(الطبراني في الصغیر والاوسط)

په ځینې روایاتو کې راغلي: "که چا دخلکو پر

اوږو ګامونه واوړل، دهغه دجمعي لمونځ دماسپښين لمونځ شو، يعني دجمعي فضيلت اوثواب يې باطل شو."

يادونه: فکر وکړی چې په حديث کې پردې عمل باندې څومره سخت وعيدونه راغلي دي. داهم بنکاره خبره ده چې په دې عمل کې نه کوم خوند شته، نه کومه ګټه، فقط شيطاني حرکت دی چې، ډير مسلمانان په دې بلاء کې بوخت دي. که دشا په صف کې ياد بوتونو په ځای کې ودريږي، دازر درجې ښه دي. الله دي مورږ تولو ته، دحضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) په تعليماتو باندې دعمل کولو او دتولو صغيره او کبيره ګناهونو څخه دساتلو توفيق راکړي. آمين.

دګناهونو اوږد فهرست ته، که وګورو نو نور به هم داسې ګناهونه وي چې بې خونده او بې ګټې دي. فقط دغفلت اولاپروايي څخه خلک پکښې بوخت دي، خو اوس فقط پردغه اکتفا کيږي.

(والله الموفق والمعين ولاحول ولاقوة الابالله العلي العظيم.)

: درسالي دختميدلو په مهال، دعلامه زين العابدين ابن نجيم مصري حنفي (رحمه الله تعالى) (څوک چي دمعروفو تصانفو څښتن دی) يوه رساله دصغيره او کبيره ګناهونو په باب په ياد راغله، کومه چي دده په رساله زينيه کي څلور ديرشمه رساله ده. او دالاشباه والنظائر مصري چاپ په پاي کي ده. په دې کي په لنډ مضمون کي ټول کبيره او صغيره ګناهونه په جلا، جلا فهرستونو کي بيان شوي دي. فکر مي وکړ چي د ګناهونو دا فهرست، ددې رسالي په پاي کي الحاق شي، خدای ناکرده که ويو چاته دعمل توفيق نه وي نو لږ ترلږه ددې په لوستلو سره به علم خو سم کړي چي فلاني عمل ګناه ده او يووخت به پيښمانه شي او پښيماني په دي باب کي دکاميابي کيلي ده.

څرنګه چي دا يوه مستقله رساله ده او بيل خپرول يي هم ګټور دي، له دې امله دمستقلي رسالي په صورت کي به ضميمه مناسبه وي او د "انذار العشائر من الصغائر والکبائر" په نامه نومول کيږي.

والله الموفق وهو يهدي السبيل.

بنده محمد شفيع ديوبندي. عفا الله عنه

دمحرم پاي ۱۳۴۷هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله کفی وسلام علی عباده الذین اصطفی

امابعد: نن زمان دبیلابیلو سببونو له کبله، دګناهونو ډیربښت دعامي وباء صورت غوره کړي دی. دي طوفان وچ اولامده ،مشرق او مغرب محاصره کړي دی. داسې حالت ته خبره رسیدلي، که دالله یو بنده دګناهونو څخه دحفاظت اراده هم وکړي نو ددنیا فضا وربانديې تنګه بریښي.

تر دي حده چې ډیرو خلګو همت له لاسه ورکړي او دحفاظت هاند او هڅي یې پرې ایښي دي، خو که کومه وبائي ناروغي خپره شي او کومه دوا او تدبیر ګټه ونکړي بیاهم دعقل او هوښیاري، د طبیعت او شریعت فیصله دا ده چې، حفاظتي تدبیرونه او ابتلاء هم وشي. خو دوا او علاج دي نه پریږدي.

نه داچې ددې کوښښ وشي چې ،دې ناروغي ته روغتیا او مرض ته دصحت ثابتولو په تقریر او لیکنه باندې زور صرف کړای شي.

له دې امله په دې رساله کې، د ټولو صغيره او کبيره ګناهونو لنډ فهرست ليکل کيږي چې، په لوستلو سره يې لومړی سم علم حاصل شي، چې ناروغي، ناروغي او ګناه، ګناه وفهمول شي. ثمره يې پر ګناهونو باندې پښېمانې او تاسف دی، پښېمانې خپله د توبې اعليخانګه ده، له دې څخه ټولې ګناوي صفا کيږي.

دوهم داچې کله ګناه، ګناه وکړې او هغه يې په نظر کې وي، نو انشاءالله يوو خت به د توبې او پرهيز توفيق هم وشي.

د صغيره او کبيره ګناهونو په بيان کې د علماؤ مستقل تصانيف هم بې شميره دي چې ډير مفصل او مشهور کتاب "الزواجر عن اقتراف الکبائر" د علامه امام ابن حجر هيثمي مکي (رحمه الله تعالی) تصنيف دی کوم چې په څلورنيم سوو مخونو او دوه ټوکه کې دی. پکښې د څلورسوه اوه شپيته ګناهونو مفصل بيان، سره د قرآن او حديث د وعيدونو او د سلفو د اثارو ذکر شوی دی.

خو اوس ضرورت د دې وو، چې په لنډ ډول اجمالي نقشه ترتيب شي. د دې لپاره چې انسان يې په يوه نظر

وګوري او دخپلو اعمالو او افعالو جاج واخلي.
ددې مقصد لپاره، دامام زين العابدين ابن نجيم مصري (رحمة الله تعالي) يوه رساله چې هغه د "رسائل زينيه" په مجموعه کې ده. په اردو ژبه مو دهغې نقلول کافي وګڼل.

په دې رساله کې، نومورې علامه لومړي د ټولو کبيره او صغيره ګناهونو فهرست ورکړې دی. وروسته يې د صغيره او کبيره ګناهونو پر تعريف باندې مفصلي خبرې کړې دي، بيا يې د خاص، خاص ګناهونو په اړه تشريح او تفصيل بيان کړی دی.

احقر مناسب وګڼل چې د صغيره او کبيره ګناهونو تعريف لومړی، وليکل شي او وروسته يې فهرست ذکر شي.

د کومې ګناه سره چې کومه تشريح اړينه وي، هغه يوځای ورسره وليکله شي.

والله المستعان وعليه التكلان.

****

د تعليم الاسلام ويب پاڼې د همکارانو له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

دکبیره او صغیره ګناه تعریف

دعالمانو دیوه جماعت قول دادی چې، هره ګناه کبیره ده، هیڅ صغیره ګناه وجود نه لري. ولي چې په هره ګناه کې دالله تعالی او د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) دارشاد مخالفت دی او دالله او درسول الله (صلی الله علیه وسلم) مخالفت چې څومره لږوي هغه هم سخت او غټه ګناه ده. له دې امله دې ته صغیره نشي ویل کیدلای.

بیا چې دصغیره او کبیره کوم تقسیم مشهور دی، هغه فقط اضافي او نسبتي دی. یعنې ځینې ګناوي دنورو ګناهونو په مقابل کې صغیره دي.

دشیخ ابواسحق اسفرائني، قاضي ابوبکر باقلاني، امام الحرمین تقي الدین سبکي او دعامه اشاعره علماء وو (رحمهم الله تعالی) همدا قول دی، خو دجمهور علماؤ مذهب دادی چې ګناهونه ځینې صغیره او ځینې کبیره دي. ځکه چې پردې خبره دټولو اتفاق دی چې ځینې ګناوي داسي دي چې دهغه کوونکي فاسق او مردود الشهاده ګڼل کیږي او بعضي بیا داسي دي چې، دهغوی کوونکي ته فاسق نه ویل کیږي او دهغه شهادت نه رد یږي.

لومړي قسم ته په اصطلاح کې کبیره او دویم ته صغیره ویل کیږي.

دلومړي جماعت د علماؤ او د جمهور اختلاف هم فقط د نامه اختلاف دی. په حقیقت کې کوم اختلاف نشته. ولې چې جمهور علماء چې کوم ګناهونو ته صغیره وایي، دهغوی دا مطلب نه دي چې دهغوی په کولو کې کوم بدوالي نشته، یا لږ خرابي ده. بلکه د الله او د رسول (علیه السلام) د مخالفت له حیثیته هره ګناه غټه او سخت عذاب ده. (زواجر ملخصاً)

د اورغټه سکروټه چې څرنګه ورانوونکي وي، دغه د ول وړوکي سکروټه هم ده. لږم وړوکی وي او که غټ دانسان لپاره دوارې غم دي.

د کبیره او صغیره ګناه په تعریف کې د علماؤ اقوال مختلف دي:

علامه ابن نجیم (رحمه الله تعالی) په خپله رساله کې تقریباً څلویښت قولونه نقل کړي دي.

علامه ابن حجر هیثمي مکي (رحمه الله تعالی) د یر بیلابیل قولونه نقل کړي دي، خو په ټولو کې چې د یر جامع او د اصحابانو او تابعینو علماؤ څخه نقل

شوي دي هغه دادي چې:

پر کومه ګناه باندې چې په قرآن يا په حديث کې د اور او دوزخ وعيد (سزا) په ښکاره راغلی وي، هغه کبيره ده.

په کومه باندې چې وعيد په ښکاره نه وي نقل شوي، فقط منع راغلي وي، هغه صغيره ګناه ده. د حضرت حسن بصري، سعيد بن جبير، مجاهد، ضحاک او نورو علماؤ (رحمهم الله تعالى) څخه همدا تعريف منقول دی. (زواجر)

امام غزالي (رحمه الله تعالى) فرمايي:

"ګومه ګناه چې انسان په بې باکي سره وکړي، هغه کبيره ده. که څه هم وړوکي ګناه وي او کومه چې ناڅاپه وشي او ورسره په زړه کې د الله تعالى څخه ويريږي، پښيماني او تاسف ورسره وي، هغه صغيره ده، که څه هم غټه ګناه وي." (والله سبحانه وتعالى اعلم)

.....

په څو ځله کولو يا په صغيره ګناه باندي دهميشه توب له کبله کبيره کړئي

امام رافعي (رحمه الله تعالى) فرمايي:

"کومي ګناه ته چې صغيره ويل کيږي، داتر هغه وخته صغيره ده ترڅو چې وربانديدوام او هميشه توب ونکړه شي، کله کله وشي، څوک چې پر صغيره ګناه باندي دوام وکړي، هغه دکبيره ګناه کوونکي شو.

همدا ډول څوک چې په ډيرو صغيره ګناهونو کي بوخت شي، تردي چې دهغه پرطاعاتو باندي غالب شي هغه هم فاسق او مردود الشهادة دی. (زواجر)

دصغيره او کبيره ګناهونو کوم فهرست چې، علامه ابن نجيم (رحمه الله تعالى) په خپله رساله کي راوړی دی، په دي ډول دی:

****

کبیره ګناهونه

۱ـ زنا : (دښځي سره ناروا عمل) کول.
۲ـ لواطت: (دهلک سره ناروا عمل) کول.
۳ـ شراب څښل ، که څه هم یو څاڅکی وي، دغه ډول دخرما ددرختي څخه جوړ شوي شراب ،دښګو بوتي او بنګي او داسي نور دنشي شیان استعمالول.
۴- غلا کول.
۵- پرپاکي پتمني ښځي باندي دزنا تهمت لګول.
۶ـ په ناحقه څوک وژل.
۷ـ شاهدي پټول، کله چي دده نه پرته بل شاهد نه وي.
۸ـ ددروغو شاهدي ورکول.
۹ـ ددروغو قسم اخیستل.
۱۰ـ دیو چا مال غضب کول (په زوره اخیستل.)
۱۱ـ دجهاد له میدان څخه تیښته کول. (کله چي دمقابلي طاقت وي)
۱۲ـ سود خوړل.
۱۳ـ دیتیم مال په ناحقه خوړل.

۱۴_ رشوت (۱) اخيستل.

۱۵- دمور او پلار نافرماني کول.

۱۶-قطع رحمي کول (دنژدي قريبانو حقوق نه اداکول.)

---

(۱) درشوت په اړه تفصيلي احکام او مسئلي د حضرت حکيم الامت تهانوي (رحمه الله) په رساله "کشف الشعور" کي بيان شوي دي. هغه ولولی. له تحذير الاخون سره چاپ شوي ده. (منه)

درشوت دجايز او ناجايز صورتونو تفصيل

نن زمان څرنګه چي وهري خواته درشوت بازار ګرم دی، داسي وختونه هم پيښيږي چي شريف سړی هم په رشوت مجبوره کيږي. له دي کبله ضروري ده چي جايز او ناجايز صورتونه معلوم شي او بيا له هغه سره سم عمل وشي.

داحسن التفاوی مولف (رحمه الله تعالی) فرمايي:

درشوت اخيستلو او ورکولو، بيلابيل صورتونه دي، دهريوه حکم ليکل کيږي.

۱_ دحکومت نه قضا يا داسي يوبل منصب (وظيفه) دلاس ته راوړلو لپاره.

۲_ په حاکم باندي دفيصلي کولو لپاره.

۳_ داعانت علی الظلم لپاره.

په دي دريو واړو صورتونو کي، رشوت اخيستل هم حرام دي او ورکول يې هم حرام دي. د حاکم څخه د خپل حق د منع کولو خطره وي، نو هغه ته، د ظلم د ختمولو په اړه رشوت ورکول هم جايز نه دي، ولي چې له دي څخه د حاکم عادت خرابيږي کوم چې پر ټول قوم باندي د ظلم باعث ګرځي، فهذا داخل في قاعدة:

" ان الضرر الخاص يتحمل للدفع الضرر العام."

۴_ د کوم چانه چې د تکليف اندېښنه وي، هغه ته د رشوت ورکول جايز دي، خو دهغه لپاره يې اخيستل حرام دي.

۵_ دفع مضرت يا جلب منفعت، يعني د يو تکليف د ختمولو يا د يوي ګټې دلاس ته راوړلو لپاره، په مينځ کي د واسطي جوړيدونکي، يعني فقط سفارش کوونکي ته رشوت ورکول جايز دي، خو دهغه لپاره اخيستل جايز نه دي. هو که د واسطي په ذمه کار وي نو دهغه لپاره د دې کار اجوره اخيستل جايز دي، په دې شرط چې هغه په دې کار کولو باندي خپله قدرت ولري، د غير د قدرت اعتبار نشته.

قال العلامة ابن عابدين (رحمه الله تعالى): " وفي الفتح الرشوة اربعة اقسام، منها ماهو حرام على الاخذ والمعطي

وهو الرشوة على تقليد القضاء والامارة.

الثاني ارتشاء القاضي ليحكم وهو كذلك ولو القضاء بحق، لانه واجب عليه.

الثالث اخذ المال ليسوي امره عند السلطان دفعا للضرر او جلبا للنفع وهو حرام على الاخذ فقط وحيلة حلها ان يستاجره يوما الي الليل او يومين فتصير منافعه مملوكة ثم يستعجله في الذهاب الي السلطان للامر الفلاني، وفي الاقضية قسم الهدية وجعل هذا من اقسامها فقال حلال من الجانبين كالاهداء للتودد وحرام منهما كالاهداء ليعينه على الظلم وحرام على الاخذ فقط وهو ان يهدي ليكف عنه الظلم والحيلة ان يستاجره الخ.

قال اي في الاقضية هذا اذا كان فيه شرط اما اذا كان بلا شرط لكن يعلم يقينا انه انما يهدي ليعينه عند السطان فمشايخنا علي انه لاباس به.

وما نقل عن ابن مسعود (رضى الله تعالى عنه) من كراهيته فورع.

الرابع مايدفع من دفع الخوف من المدفوع اليه علي نفسه او ماله، حلال للرافع حرام على الاخذ، لان رفع الضرر عن المسلم واجب، ولايجوز اخذ المال ليفعل الواجب.

الخ ...مافي الفتح ملخصاً.

(رد المحتار ٣٠٣ مخ-٤ تو ك) (احسن الفتاوى ٩٠٨ مخ، ٨ تو ك)

۱۷- رسول الله(صلی الله علیه وسلم) ته دیو قول یا فعل قصدا ددروغو نسبت کول.

۱۸_ دروژي په میاشت کي، پرته له کومه عذره روژه ماتول.

۱۹_ په تول او ترازو کي کمی کول.

۲۰_ فرض لمونځ دخپل وخت څخه مخ ته یا شاته کول.

۲۱_ زکوة یا روژه په خپل وخت نه اداکول. (دعذر او ناروغيې صورتونه مستثنی دي)

۲۲_ دفرضي حج اداکولو څخه پرته مړ کیدل. (که یي دمړیي په مهال وصیت وکړاو دحج انتظام یي وسپاری نویي ددي ګناه څخه خلاصون وموند.)

۲۳_ یو مسلمان ته په ظلم کولو سره تاوان رسول.

۲۴_ صحابي ته بدویل.

۲۵_ علماء او دقرآن حافظانو ته بدویل، دهغوی دبدنامولو لپاره کوښښ کول.

۲۶_ ظالم ته دیو چا چغلي کول.

۲۷_ دیاثت، یعني خپله ښځه، لور یا یو بل قریب په خپل اختیار سره په حرامو کي اخته کول، یا وربانديي راضي کیدل.

۲۸_ قیادت: یعني نابلده ښځه ،حرام کارته چمتو کول او ددې لپاره دلالي کول.

۲۹_ دطاقت لرلو سره امربالمعروف (په ښو کارونو سره امر کول) او نهي عن المنکر (دبدو او ناوړو کارونو څخه منع کول) پریښول.

۳۰_ جادو خپله زده کول، بل ته يي ښوونه کول یا ورباندي عمل کول.

۳۱_ قرآن پاک ترحفظ کولو وروسته، بیا هیرول یعني په اختیاري ډول خپله په بي پروایي سره هیرول (که دناروغي یا کمزوري له امله هیر شي هغه په دې کي داخل نه دي.) بعضي علماء وو فرمایلي دي چې:

دقرآن هیره چي کبیره ګناه ده ،ددې مطلب دادي چي داسي هیر کړه شي چي په مطالعه سره يي هم تلاوت نشي کولای.

۳۲_ یو ذي روح په اور کي سوزول. (دمار،لړم،او غالبوزي دتکلیف څخه دځان ژغورولو که کوم بل صورت نه وي نویي په سوزولو کي باک نشته.)

۳۳_ ښځه دخپل سړي نه بیلول او دسړي دحقوقو داداکولو نه منع کول.

۳۴_ دالله له رحمت نه ناامیده کېدل.
۳۵_ دالله تعالی له عذابه بې خوفه کېدل.
۳۶_ دمردار شوي څاروي غوښې خوړل.
(دمجبوری حالت مستثنی دی.)
۳۷_ دخنزیر دغوښې خوړل.
(دمجبوری حال مستثنی دی.)
۳۸_ چغلي کول.
۳۹_ دمسلمان یا کافر غیبت (۱) کول.
۴۰_ قمار کول.
۴۱_ په مال کې اسراف کول. (دمصلحت او ضرورت څخه زیات خرڅول)

---

(۱) دیو چاتر شادهغه دیوداسې واقعي عیب ذکرکول چې که چیرې هغه ته معلوم شي، نو به خفه شي ـ ـې ته غیبت وایي او داکبیره ګناه ده. په دې هکله په قرآن او حدیث کې سخت وعیدونه راغلي دي.

دغیبت دناجائز صورتونو تفصیل:

۱_ دغیبت حلال ګڼل او کول، مثلاً غیبت کوونکي دغیبت څخه منع کړي نو هغه په جواب کې ورته وویل: داغیبت نه دي، ولي چې زه رښتیا وایم، داکفر دی، داچې

۴۲_ دیو حاکم د حق څخه سرغړونه کول.
۴۴_ خپلي ښځي ته د مور اولور په شان څه ویل چې په عربي کې "ظهار" ورته وایي.

یقیني حرام، حلال ګڼي.
۲_ دنوم د ذکر کولو نه پرته دیو چا غیبت د داسي سړي په مخ کې کول چې وهغه ته، هغه سړی معلوم اوښکاره وي.
۳_ دیو متعین سړي غیبت کول د اکبیره ګناه ده.

دغیبت جایز صورتونه

۱_ د ظلم د ختمولو لپاره د "قادر علی دفع الظلم" په وړاندې غیبت کول.

۲_ د منکر د ختمولو په نیت، د طاقت لرونکو خلګو په وړاندې غیبت کول.
۳_ د شرعي حکم د معلومولو لپاره د مفتي په وړاندې غیبت کول، خو دلته هم نوم پټ لرل ښه دي.
۴_ دیو چا د شر څخه د حفاظت لپاره، د هغه غیبت کول، لکه پر "شهود او رواة" باندې جرح کول.
۵- د ښکاره ګناه کوونکي غیبت کول.
هو فقط د هغه ګناه تذکره جایزه کومه چې هغه بې په

۴۵_ غلا کول. ۴۶_ پرصغیره ګناه دوام کول.
۴۷_ پرګنا هونو باندي دیوچا مرسته کول، یا یې ګناه کولو ته چمتو کول.
۴۸_ دنارینه غزلي اوریدل. دښځو غزلي مطلناً حرامي دي.
۴۹_ دخلکو په وړاندي خپل سترلو څول.
۵۰_ دیوچا په واجب حق ادا کولو کي بخل کول.
۵۱_ حضرت علي (رضي الله تعالی عنه) ترحضرت صدیق اکبر او فاروق اعظم (رضی الله عنهما) افضل ګڼل.
۵۲_ ځان وژنه، یا خپل یو اندام په اختیارسره تلف او ضایع کول. دادبل چا تر وژلو ډیره ګناه لري. (ابوداود)

نښکاره کوي دپټو ګناهونو ذکر جایز نه دی.
۶_ دتعارف لپاره دیوچا عیب ذکر کول، لکه اعور، اعمش وغیره دا په دي شرط جایزدی چې له دې نه پرته تعارف ناممکن یا مشکل وي. (والتفصیل في احسن التفاوی ۱۹۴-۸ توک)
دغیبت نه دحفاظت په اړه، دحضرت مولانا مفتي رشید احمد لدهیانوي (رحمه الله تعالی) وعظ "دغیبت عذاب" دمطالعي وړ دی.

۵۳_ دبولو دخاځکو څخه ځان نه ژغورل.

۵۴_ په صدقه (هدیه ،خیرات) کولو سره احسان اچول او تکلیف رسول.

۵۵_ دقضا او قدر (تقدیر) انکار کول.

۵۶_ دخپل امیر سره غداري کول.

۵۷_ دنجومي او کاهن تصدیق کول.

۵۸_ دخلکو پر نسب پیغور ورکول.

۵۹_ دیو مخلوق لپاره دنذر او تقرب په ډول څاروی حلالول.

۶۰_ پرتوګ .لنګ او نوري جامي دتکبر (یادتکبرنه پرته) تر بجلکو لاندي ځوړندول.

۶۱_ دګمراهي لوري ته خلک بلل یادناوړه رسم پیدا کول.

۶۲_ یو مسلمان ته په توره یاچاقو ، دوهلو اشاره کول.

۶۳_ دجنګ او جګړې عادت اچول.

۶۴_ غلام خصي کول ، یادهغه یو اندام غوڅول ،یاسخت تکلیف ورکول.

۶۵_ داحسان کوونکي ناشکري کول.

۶۶- تر ضرورت زیات په اوبو کې بخل کول.

۶۷_ په حرم شریف کې الحاد او ګمراهي خورول (داعمل هرځای ګناه لري خو په حرم کې یې ګناه ډیره ده)

۶۸_ د خلکو پټ عیبونه لټول او ددې هڅې او کوښښ کول.

۶۹_ ورقي کول. (هره داسې لوبه کول چې دهغې په حرمت د علماؤ اتفاق وي، په کبیره ګناه کې داخل د ب)

۷۰_ چرس څکول. ۷۱_ مسلمان ته کافر ویل.

۷۲_ د خپلو بنځو په حقوقو کې برابري نه کول.

۷۳_ استمناء بالید یعني په خپل لاس سره شهوت پوره کول.

۷۴_ د حائضې بنځې سره جماع کول.

۷۵_ پر مسلمانانو باندې د شیانو ګراني څخه خوشحاله کیدل.

۷۶_ دیو څاروي، غوا، وزې او داسې نورو سره جماع کول.

۷۷_ د عالم پر خپل علم باندې عمل نه کول.

۷۸_ د ډوډۍ او خوراک ته بد ویل: (د پخولو خرابي بیانول پکښې داخل نه دي)

۷۹_ دغزلو سره رقص کول.

۸۰_ ددنیا محبت کول. (ددین په مقابل کې، دنیا ته ترجیح ورکول.)

۸۱_ ولغړزني هلک ته په شهوت سره کتل.

۸۲_ دیوچا وکورته کتل.

۸۳_ دیوچاکورته پرته له اجازي ننوتل.

صغیره ګناهونه

۱_ نامحرمه ښځې ته قصداً کتل.

۲_ دپردې ښځې سره په یوازي ځای کې کښیناستل، یالاس ورورل.

۳_ پر انسان یاځاروي باندي لعنت ویل.

۴_ هغه دروغ چې په هغه کې چاته کوم تاوان ونه رسیږي.

۵- دیو مسلمان بدویل، که څه هم په اشاره او کنایه سره، وي او خبره هم رښتینې وي.

۶_ بام او اوچت ځای ته ختل، چې ورڅخه دخلکو کورونه ښکاره شي.

۷_ دیو مسلمان سره پرته له کومه عذره تر دریو ورځو زیات اړیکي ختمول.

۸_ پرته له علم او تحقیق دیو چا له طرفه جنګ کول اوله علم او تحقیق نه وروسته دحق په خلاف جنګ کول.

۹_ په لمانځه کښې په اختیارسره خندل یادیوغم له کبله ژړل.

۱۰_ دنارینه لپاره دښځې جامي اغوستل.

۱۱_ په تکبر او غرور سره تګ کول.

۱۲_ له فاسق سره ناسته ولاړه کول.

۱۳- په مکروه وختونو (لمرخاته، لمرلویده، او زوال) کې لمونځ کول.

۱۴_ په منع شویو ورځو (اخترونواو دتشریق ورځې) کې روژه نیول.

۱۵_ مسجد ته ناپاکي وړل.

۱۶_ مسجد ته لیونی یادومره وړوکي بچیان وروستل چې ورڅخه دمسجد دککړتوب خطره وي.

۱۷_ دقضاي حاجت په مهال، قبلي ته مخ یاشا ګرځول.

۱۸_ په حمام کې بالکل ځان لوڅول که دخلګو په مخ کې نه وي.

۱۹_ صوم وصال يعني دغه دول روژي نيول چي په مينځ کي هيڅ روژه مات ونکړي.

۲۰_ دکومي بنځي سره چي يي ظهار کړی وی دظهار دکفاري داداکولو نه مخکي ورسره جماع کول.

۲۱_ دبنځي لپاره پرته له محرمه سفر کول.
(د مجبوری حالت مستثنی دی)

۲۲_ دخوراک، څښاک اړين شيان دګراني لپاره جمع کول.

۲۳_ ديوشي معامله ددوو کسانو ترمينځ دخرڅولو رانيولو کيږي، يادیوچا د واده خبره يوځای وشي، دهغه تر جواب وړاندي، دهغه په خريداري يا پيغام کي خنډ اچول.

۲۴- دصحرا خلګ چي کوم مال، بنار ته دپلورلو لپاره راوړي، هغه په کميشن (۱) او دلالي سره خرڅول.

---

(۱)- **کميشن يا ددلالي. اجرت اخيستل جايز دي**

په دي باب دحنفي فقه عبارتونه مختلف دي، خو دعامه خلګو دضرورت له امله، دجواز قول مختار او مفتی به دی هو! په دي کي داجرت معلوموول ضروري دي. دمثال په ډول

۲۵_ بنارته دراتلونکي مال، بازارته درسيدلو وړاندي دبنارنه بهر رانيول.

۲۶_ دجمعي داذان نه وروسته، څه شي رانيول او خرڅول.

۲۷_ دسودا عيب دخرڅولو په وخت پټول.

په لسو روپو کي يوه روپي هم دتعيين صورت دي يا فيصدي معلومه کړي او که داجرت تعيين ونه شي په هغه صورت کي ناروا دی.

قال في التتارخانية: وفي الدلال والسمساريجب اجرالمثل وما تواضعوا عليه ان في كل عشرة دنانير كذا فذاك حرام عليهم وفي الحاوي، سئل محمدبن سلمة عن اجرة السمسار فقال ارجو انه لاباس به وان كان في الاصل فاسداً لكثرة التعامل وكثيرمن هذاغيرجائز فجوزوه لحاجة الناس اليه كدخول الحمام (ردالحمتار ۵تهوک ۴۴ مخ)

اجازه السمسار والمنادي والحمامي والصكاك ومالايقدر فيه الوقت ولاالعمل تجوز لماكان للناس به حاجة.

(ردالمختار ۳۲ مخ ۵تهوک- احسن الفتاوی. کتاب الاجازه ۷تهوک- امدادالفتاوی ۳تهوک ۳۴۲ مخ)

حدیث:- دحضرت رسول الله ﷺ ارشاد دی:

" هغه سړی زموږ (یعني مسلمانانو) څخه نه دی چې، دسپین ږیرو احترام ونکړي ،زموږ پر بچیانو شفقت ونکړي،او زموږ دعلماؤ عزت ونکړي "

(احمد باسناد حسن،زواجر ۱ټوک،۷۸مخ)

امام بخاري د انس او ابوهریره رضي الله عنهما نه په یو قدسي حدیث کي روایت کړی چې الله ﷻ فرمایي:

"څوک چې زمادیوولي او دوست سپکاوي وکړي هغه ګواکي وماته دجنګ اعلان وکړ. "په یوبل روایت کي دي چې "زه ورته دجنګ اعلان کوم "(زواجر)

ده وفرمایل:

"کله چې ستاسي مطلب دهغه عیب بیانول نه وي، بلکه دهغه معرفت او پیژندل بشپړ کول وي نو جایز دي. "

(قرطبي)

سنت دادي چې دخلګو په نبوالقابو سره یادونه وشي.

په حدیث کي راغلي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

" دمومن حق پربل مومن دادی چې هغه په داسي نوم او لقب ذکرکړي چې، دهغه ډیرخوښ وي. له دي کبله په عربو کي، دکنیت رواج عام وو. حضـــرت محمد ﷺ هم داخوښ

۳۷_ دجنابت په حالت کې اذان کول.

۳۸_ دجنابت په حالت کې مسجد ته پرته له عذره ننوتل.

۳۹_ په لمانځه کې پر تشې لاس اینبول.

۴۰_ په لمانځه کې غټ پتو (څادر) داسې پر ځان اچول چې لاسونه ځنې ایستل مشکل وي.

نو دفقه حنفي متاخرینو امامانو دوخت دیومهم ضرورت پراساس دتحقیق او تفکر نه وروسته، په متفقه ډول دجواز فتوی ورکړه. لکه امام قاضي خان الحنفي (رحمه الله) چې فرمایي: "انما کره المتقدمون من الاستیجار لتعلیم القرآن وکرهوا اخذ الاجر علی ذلک. لانه کان للمعلمین عطیات في بیت المال في ذالک الزمان وکان لهم زیادة رغبة في امر الدین واقامة الحسبة واما في زماننا انقطعت

عطیاتهم وانتقصت رغائب الناس في امر الاخرة فلو اشتغلوا بالتعلیم بالحاجة الي مصالح المعاش لاختل معاشهم. قلنابصحة الاجارة و وجوب اجر للمعلم بحیث لوامتنع الوالد عن اعطاء الاجر حبس فیه."

(فتاوی قاضي خان ۳ټوک ۴۳۴مخ)

۴۱_ په لمانځه كي په جامو يا بدن لوبي كول يعني پرته له ضرورته يو اندام ته حركت وركول يا جامي سره اړول.

۴۲_ دلمونځ كوونكي په مخ كي دهغه وخواته كښيناستل يادر[illegible]

خو اجواز هم دضروري اعمالو لپاره دی لكه؛ دقرآن تعليم، تدريس، امامت، موذني، فتوی وركول او غير ضروري اعمال لكه، په تراويح كي قرآن اورول، ياپه ايصال ثواب باندي اجرت اخيستل ناجائز دي. ځكه چي داضروري اعمال نه دي. ددين اساس پردي نه دي ولاړ، كه چا په تراويح كي قرآن وانه وريدی يايي ايصال ثواب ونكړي، حافظ يي رانه وستنی نو دين خرابيږي، داسي نه ده، له دي كبله داناجايز دي

(كما صرح به الفقهاء في كتبهم وفتاواهم.)

خو په دم يا تعويذ باندي اجرت اخيستل چي په اصطلاح كي ورته شكرانه وايي، جايز ده. ولي چي دا علاج او تداوي ده. كماصرح به العلامة ابن عابدين (رحمه الله) في ردالمحتار_ دغه رنګه دهداية مصنف (عليه الرحمة) هم دجواز فتوی وركړي ده. (هدايه_ ۴ توك)

۴۳_ په لمانځه کې ښې او کېڼ لوري يا اسمان ته کتل.

۴۴_ په مسجد کې د دنيا خبرې کول.

۴۵_ په مسجد کې داسې کار کول کوم چې د عبادت وړ ندي.

۴۶_ دروژي په حالت کې د خپلې ښځې سره مباشرت (لوبې) کول.

۴۷_ په روژه کې د خپلې ښځې څخه مچه اخيستل کله چې تر حد د زياتيدو اندېښنه وي.

۴۸_ زکوة د بېکاره مال څخه اداکول.

۴۹_ څاروي د څټ لخوا حلالول.

۵۰_ بدبويه ماهي يا هغه چې داوبو په سر راشي خوړل.

۵۱_ د ماهي څخه پرته بل څاروي خوړل.

۵۲_ د حلال او ذبح شوي څاروي مخصوص اعضاء مثانه او مرغيړي غوړل.

۵۳_ د حکومت له طرفه (پرته له ضرورته) د شيانو نرخ ټاکل.

۵۴_ د عاقلې بالغې نجلې نکاح د ولي د اجازې څخه

پرته خپله کول. (کله چې ولې پرته له کومه سببه په نکاح کې خنډ نه وي.)

۵۵_ نکاح الشغار (یعنې بنځې ته د پیسو د مهر پر ځای نجلي ورکول. هغه صورت چې زمونږ په اصطلاح کې موخې ورته وایي په هغه کې د دواړو مهر بیل، بیل تاکل شوي وي، هغه په دې کې داخل نه دي، جایز دی)

۵۶_ بنځې ته په یوه وخت کې تر یوه ډیر طلاقونه ورکول.

۵۷_ بنځې ته پرته له ضرورته بائن طلاق ورکول. (ولې چې په رجعي طلاق سره هم جلا والیکید لاې شي.)

۵۸_ د حیض په حالت کې طلاق ورکول. (دخلع صورت مستثنی دی.)

۵۹_ په کوم طهر کې یې چې جماع کړې وي، په هغه کې طلاق ورکول.

۶۰_ طلاق شوې بنځې ته، د جماع په ذریعه رجوع کول. (ولې چې لومړي رجوع په خبرو سره په کار ده.)

۶۱_ بنځې ته د تکلیف رسولو او عدې اوږدولو لپاره رجوع کول.

۲۲_ نبځي ته د تکليف رسولو لپاره ايلاء کول (يعني د ورتللو څخه قسم اخستل.)

۲۳_ په اولاد کي د شيانو په ورکولو کي برابري نه کول. (هو که په يو هلک د علم او صلاحيت د زياتوب له امله څه ډيرشي ورکړي نو څه باک نشته.)

۲۴_ د قاضي او حاکم د فريقينو په عريضو کي په خپله معامله يا په توجه کي برابري نه کول.

۲۵_ د پاچا انعام قبلول.

۲۶_ د کوم چاچي حرام ډير وي، حلال لږ وي، د هغه سوغات يا دعوت پرته له عذره بلا تحقيق قبلول.

۲۷_ د مغصوبه (په زوره قبضه شوي) ځمکي د کتې څخه خوراک کول.

۲۸_ مغضوبه ځمکي ته ننوتل که څه هم دلمانځه لپاره وي.

۲۹_ د بل چا په ځمکه کي د هغه د اجازي نه پرته تګ کول.

۷۰_ د کوم څاروي مثله کول يعني پزه، غوږ وغيره غوڅول.

۷۱_ يو حربي کافر يا مرتد تر دريو ورځو پورې

دتوبې کولو او دعوت ورکولو نه مخکې وژل.

۷۲_ مرتده بنځه وژل.

۷۳_ په لمانځه کې چې کوم دتلاوت سجده واجبه وي هغه ځنډول یا پریښول.

۷۴- دلمانځه لپاره دیو خاص سورت، قرائت تاکل.

۷۵_ دجنازې چارپایې دکجاوي په شان بانس ترې او اوچتول.

۷۶_ پرته له ضرورته، دوه نفره په یوه قبر کې خښول.

۷۷_ دجنازې لمونځ دننه په مسجد کې کول.

(علي روایة التحریم)

۷۸_ دیو تصویر (فوټو) په وړاندې یا که تصویر نښې او کیږي لوري ته وي لمونځ کول، یا سجده ورباندې کول.

۷۹_ غاښونه دسروزرو په تارونو تړل.

۸۰_ دسرو او سپینو زرو لونښي استعمالول.

۸۱_ دمړي مخ مچول.

۸۲_ پرته له ضرورته، کافر ته په سلام سره پیل کول. (هو؛ که هغه سلام واچوی نو په جواب کې وعلیک یا هداک الله ویل په کار دي.)

۸۳_ داسلام په مخالف قوم وسله پلوزل.

۸۴_ دخصي غلام څخه خدمت اخيستل يادهغه دګتي نه خوړل.

۸۵_ بچيانوته داسي جامي اغوستل کومي چي دبالغ لپاره منع دي.

۸۶_ دخپل زړه دساتيري لپاره غزلي ويل.
(علي القول المعتمد)

۸۷_ دعبادت دشروع کولو وروسته باطلول.

۸۸_ دښځي يا ميتځي سره په داسي حالت کي جماع کول منع دي چي، ورسره کوم بالغ سړی يا ښځه بيده وي. (وړوکی هلک باک نه لري.)

۸۹_ ديو حاکم او امير داستقبال لپاره وتل.

۹۰_ دخلکو لاره بندول په ولاړي سره، يا په لاره کي کښيناستل.

۹۱_ داذان تراوريدلو وروسته، په کورکي کښيناستل او داقامت انتظارکول.

۹۲_ دنس ترمړيدلو وروسته، ډير خوراک کول. (دډوډۍ يا ميلمه له وجهي که ډير خوراک وشي پروانه لري.)

۹۳_ پرته له لوړې خوراک کول. (دکومي ناروغي له امله، که لوړه نه وي او دقوت لپاره غذا ورکړي نو هغه پروا نه لري.)

۹۴_ دعالم، بزرګ او پلار څخه پرته دیوچالاس مچول.

۹۵_ فقط دلاس په اشاري سره سلام کول. (مخاطب که کوڼ وي یا لیري وي او له ژبي سره، سره اشاره هم وکړي نو څه باک نه لري.)

۹۶_ دقرآن تلاوت کوونکي دخپل پلار یا استاذ څخه پرته، تعظیماً یوچاته دریدل.

یادونه:- فقیه ابو اللیث (رحمه الله تعالی) فرمایي:

لاندې ګناهونه هم په صغائرو کې داخل دي:

۹۷_ پرمسلمان بدګماني کول. ۹۸_ حسد کول.

۹۹- تکبر او عجب. ۱۰۰_ غزلي اوریدل.

۱۰۱_ دجنب سړي لپاره په مسجد کې پرته له عذره پاته کیدل.

۱۰۲_ دمسلمان په غیبت اوریدلو سره پته خوله پاته کیدل.

۱۰۳_ دغم په مهال په زوره اوازسره ژړل اوسينه وهل.

۱۰۴_ دامام څخه که خلک ناخوښه وي دهغوی دامامت کول، که څه هم دهغوی ناخوښي بي سببه وي او کوم عيب پکښي نه وي.

۱۰۵_ دخطبي په وخت خبري کول.

۱۰۶_ په مسجد کي دخلکو پراوړو اوښتل.

۱۰۷ دمسجد پربام ناپاکي غورځول.

۱۰۸_ يه [illegible] کي ناپاکي غورځول.

۱۰۹_ دخپل زوی سره په يوه بستره کي بيده کيدل کله چي عمر يي تراوو (۷) کلونو زيات وي.

۱۱۰_ دقرآن تلاوت دجنابت، حيض او نفاس په حالت کي کول.

۱۱۱_ په بيکاره او باطلو شيانو کي وخت ضايع کول. مثلاً دپاچاهانو دعيش او نازبيان کول.

۱۱۲_ بي فايدي خبري کول.

۱۱۳_ ديوچا په تعريف کي مبالغه کول.

۱۱۴_ په خبرو اترو کي تکلفاً کافيه بندي يا دطاقت نپاره تصنع کول.

١١٥_ ښکنځل کول او پوچ رد ويل.
١١٦_ په خندا و مسخرو کي زياتوب کول.
١١٧_ ديوچا راز ښکاره کول.
١١٨_ ددوستانو اواندېوالانو په حق کي کوتاهي کول.
١١٩_ دوعدي کولو په وخت کي دوعدي نه پوره کولو اراده کول.
١٢٠_ ددېني کارونو دبې حرمتي څخه پرته، ډېره غصه کول.
١٢١_ بې غيرتي کول، يعني دخپلودوستانواو خپلوانو دقدرت سره، سره دظلم څخه نه ژغورل.
١٢٢_ زکوة يا حج پرته له عذره ځنډول. (دبعضي علماؤ په عقيده دا په کبائرو کي داخل ده.)
١٢٣_ دکهالي له امله جماعت پرېښول.
١٢٤_ دحق په خلاف طرفداري کول.
١٢٥_ ذمي ته په کافر سره خطاب کول، کله چې هغه ته په دي کي دتکليف احساس وي.
١٢٦_ په دي الفاظو سره دعا کول:

بمقعد(۱) العزمن عرشک یا په بحق فلان.

علامه ابن نجیم (رحمه الله) په خپله رساله "صغائر او کبائر" کي په دغه شمیر سره لیکلي دي چي پکښي یوسل دري کبائر او یوسل اته ویشت صغائر دي او ټولي دوه شوه یو دیرش دي.

علامه ابن حجر(رحمه الله تعالی) ډیر زیات شمیر لیکلي دي ،بیا چي کومي ګناوي ابن نجیم په صغائرو کي راوړي هغه ګناوي ابن حجر(رحمه الله تعالی) په زواجرکي په کبائرو کي راوړي دي.

---

(۱) بمقعد العزمن عرشک "په مقام دعزت د عرش."

علامه عبد الحي لکنوي(رحمه الله تعالی) فرمایي:

"فلا یشکل کراهیته ،لانه وصف الله تعالی بما هو باطل، وهو القعود ،وهو التمکن علی العرش،ذلک قول المجسمة وهو قول باطل."

(۲۳۵مخ.۷ټوک. شرح الهدایه)

"یعني په کراهت کي کوم اشکال نشته ولي چي په یو باطل وصف "قعود" سره دالله تعالی صفت بیان کړي کوم چي تمکن (قرار) علی العرش دی او داقول دمسجمه وو دیاو باطل (مردود) قول دی.

دا اختلاف په ظاهره دصغيره او کبيره د تعريف په بنسټ باندي دی او دامخکي ليکل شوي چې ديوي ګناه دصغيره دغه مطلب نه دي چې ددې کول معمولي يا لږ خبره ده ،ياله دې نه دځان دحفاظت ډير فکر اړين نه دی،بلکه دغه توپير فقط اصطلاحي دی، ولي چې دالله تعالی دنافرماني له حيثيته هره ګناه سخته او غټ مصيبت دی. الله عزوجل دي ټول مسلمانان دهري ګناه نه وژغوري. (آمين).

بحق فلان. ويلو سره دعا کول جايز دي

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمه الله تعالی) فرمايي: ("بحق فلان" په اعتبار دمعني حقيقي ناجائز او په اعتبار دمعني مجازي يعني توسل جائز دی، نو په دلائلو کي تعارض نه شو پاته.)

(امداد الفتاوی ۳۶ مخ ۴ ټوک.)

اصلاً ددې قول دوه مطلبه ګيدلاي شي:

يو داچي دفلاني حق پر الله تعالی باندي واجب دی، نو الله تعالی به داکار کوي. ددې حق له امله داقول باطل دی او ګمراهي ده.

بل داچي الله تعالی په خپل فضل او کرم سره دصالحو اعمالو په اجر ورکولو کي بنده ته دغه حق ثابت کړی دی.

دي باندي رساله ختموم. دالله تعالى دفضل اوکرم څخه امید لرم چې قبوله يې کړي. الله جل جلاله دي دټولو مسلمانانو لپاره نافعه اوګټوره وګرځوي. بنايي ددې له برکته به، دي سرتاپايه ګنهګارته هم دګناهونو څخه دحفاظت توفيق وشي.

وقدوقع الفراغ عندیوم السبت لثلاث عشرة من صفر المظفر ۱۳۶۷ هـ وهذا شهر توفي فيه والدي المولى محمد یسین (رحمة الله علیه) لتسع خلون منه ۱۳۵۵ هـ فتذکرت عهده الهني وزمنه السني کماربانې صغيرا. والله سبحانه وتعالى اسئل ان یجعل ثواب هذه الرسالة لوالدي وان یجعلها صدقة جارية له وان یغفرلي وله وهو الغفور الرحيم.

العبد الضعيف: محمد شفيع عفى الله عنه، دیوبند.

(۱۳ صفر، ۱۳۶۷ هـ)

دا مطلب صحيح دی. لکه چې شيخ الاسلام مولانا مفتي محمد تقي عثماني (دامت برکاتهم) فرمايي: "اما الدعاء بحق فلان اوبجاه فلان فحکمه في الاصل یتوقف على المعني المقصود به، فان اراد القائل ان له

حقا واجبا على الله تعالى لذاته فهو ضلال محض، اما ان اراد بذلک ان الله تعالى بفضل وعده بثواب الصالحين قد جعل له حقا فهو معني صحيح." (تکملة فتح الملهم ۲۲۴مخ -۵توک)

نو اوس که يو څوک ددې صحيح مطلب په پام کې لرلو سره دا دعاء کوي چې اې پروردګاره! زما دغه کار دفلاني به حق يا په مرتبې او جاه سره راوکړې. نو داصحيح ده ولې چې ددې مطلب داسو چې دفلاني په توسل او وسيلې سره دغه کار راوکړه او وسيله په دغه ډول مفهوم سره جايزه ده.

کما قال المفتي الاعظم شيخ المشايخ مولانا مفتي رشيد احمد اللدياني (رحمه الله تعالى) في رسالته نيل الفضيلة بسوال الوسيلة، في احسن الفتاوى، جلد -۱

مطبوعات مکتبہ حکیم الامت تھانویؒ







د تعلیم الاسلام ویب پانې د همکارانو له خوا:
www.taleemulislam-radio.com